# د امریکې پروژه

## (سیکولریزم)



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# د امريکې پروژه

جمادي الأول 1443

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الدَّوْلَةُ الإِسْلَامِيَّةُ
# وِلَايَةُ خُرَاسَان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


د امریکي پروژه ........................................................................ 10

سیکولریزم ﴿SECULARISM﴾ .......................................................... 15

زمونږ د جګړې ډیره برخه اوس مهال د صلیبیانو او یهودانو په ځای د غرب له ملحدانو سره ده! ..................... 28

لومړی فصل ........................................................................ 41

د سیکولریزم ۷ اساسات ........................................................................ 41

د امریکې د پروژې اول رکن: (سیکولر وضعي قوانین) ........................................................................ 42

1. په بغیر ما أنزل الله قوانینو فیصلې کول: ........................................................................ 43

2. د حاکمیت په توحید کې له الله سبحانه وتعالی سره شرک کول: ........................................................................ 45

3. د کفارو اطاعت: ........................................................................ 48

4. الهي شریعت نیمګړی بلل: ........................................................................ 51

5. له اسلامي شریعت څخه کرکه لرل: ........................................................................ 51

6. اسلامي شریعت زمانې سره نامناسب بلل: ........................................................................ 53

7. د غیرالله د رضا طلب کول: ........................................................................ 55

8. د طاغوت عبادت: ........................................................................ 57

9. تحاکم الی الطاغوت: ........................................................................ 58

10. له کفارو سره مشابهت: ........................................................................ 59

د امریکې د پروژې دوهم رکن: ﴿سیکولر وطنیت﴾ ........................................................................ 63

په سیکولر وطني عقیده کې موجود مفسدات: ........................................................................ 67

1. د سیکولر وطنیت د عقیدې له امله د کفارو اطاعت: ........................................................................ 68

2. سیکولر وطنیت د اسلامي اخوت د له منځه تللوسبب: ........................................................................ 70

3. سیکولر وطنیت د اسلامي امت د ضعف سبب: ........................................................................ 73

4. د سیکولر وطنیت د منلو له امله د اسلامي امت مشترک مصالح له منځه تلل: ........................................................................ 74

5. سیکولر وطنت اسلامي امت لپاره د واحد امیر له قیادت څخه محرومیت: ........................................................................ 75

6. سیکولر وطنیت د اقدامي جهاد د ترک کیدو سبب: ........................................................................ 76

7. سیکولر وطنیت د هجرت د ترک کیدو سبب: ........................................................................ 77

8. سیکولر وطنیت د جهاد د بې فایدې کیدو لامل: ........................................................................ 81

9. سیکولر وطنیت د غیرالله لپاره د ولاء او براء سبب: ........................................................................ 85

10. سیکولر وطنیت د اسلامي امت د تفرق سبب: ........................................................................ 87

د قرآن له نظره د وطني عقیدې حیثیت: ........................................................................ 91

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د امریکې د پروژې درېیم رکن: ﴿سیکولر تعلیمي نظام﴾ ............................... 102**

پرمختګ او ډولونه يې: ............................................................ 106
په سیکولر تعلیم کې موجود مفسدات: ................................................ 113
د سیکولر تعلیم مالي امکانات: .................................................... 115
په سیکولر تعلیم کې د امریکې د پروژې اهداف او ددې تعلیم مفسدات: .................... 117
اول: په سیکولر تعلیم کې د سیکولر ټولنیز ژوند هدف: ................................ 118
دوهم: سیکولر تعلیمي ادارې د سیکولر مامورینو او د امت د خائنو جاسوسانو د تربیې مراکز: ..... 129
درېیم: په سیکولر تعلیم کې د سیکولر وطنیت اصل: ................................... 132
څلورم: سیکولر تعلیم د وضعي قوانینو د جوړوونکو او متخصصو نافذوونکو د روزنې مراکز: ........ 133
پنځم: په سیکولر تعلیم کې سیکولر اقتصادي نظام: .................................... 135
شپږم: په سیکولر تعلیمي ادارو کې د الحادي افکارو ترویج: ........................... 136
اووم: سیکولر تعلیم په اسلامي امت د کفارو د رعب او درناوي د مسلطولو وسیله: ............. 139
اتم: سیکولر تعلیم د سیکولر نظامونو او خلکو تر منځ د ارتباط او اتصال وسیله: ............ 141
نهم: سیکولر تعلیم دجهاد او هجرت د ترک وسیله: ..................................... 142
لسم: سیکولر تعلیم د شرعي علومو د ورک کېدو سبب: ................................... 147
یوولسم: سیکولر تعلیم د دین او سیاست د جدایي سبب: ................................. 148
دولسم: سیکولر تعلیم او جمهوریت یا ډیموکراسي: ..................................... 151
دیارلسم: سیکولر تعلیم له کفارو سره مشابهت او کفارو ته د عین شوکت او عزت ژمنتیا: ........ 152
څوارلسم: په سیکولر تعلیم کې د دنیا پرستي او دجالي معیارونه: ........................ 154
پنځلسم: سیکولر تعلیم د اسلامي امت د ځوانانو د وخت د ضیاع وسیله: ..................... 157
د سیکولر تعلیمي نظام اسناد: ..................................................... 168
د سیکولر تعلیم له لارې د قلم جهاد: ............................................... 170
د سیکولر تعلیمي نظام بدیل څه کېدلی شي؟ ........................................... 174
سیکولر تعلیم سره څه وکړو؟! ....................................................... 190

**د امریکې د پروژې څلورم رکن: (جمهوریت یا ډیموکراسي) ............................... 196**

په رأیه ورکولو کې د کفر ډولونه: .................................................. 200
د کاندیدانو کمپاینونه که د جهنم دروازو ته دعوتونه؟! ................................ 202
آیا په ډیموکراټیکو انتخاباتو کې کاندیدان او رأیه ورکوونکي پوره استقلال لري؟! ............ 209
په هر ډیموکراټ یا سیکولر وطن کې د آزادي یا استقلال ورځې څه معنا لري؟! ................. 211

**د امریکې د پروژې پنځم رکن: (سیکولر ټولنیز ژوند) .................................. 216**

اول: په سیکولر ټولنیز ژوند کې سیکولر آزادیانې: ..................................... 216
د کار او کسب آزادي: ............................................................. 219
د نظر او رأیې آزادي: ............................................................. 222
شخصي آزادي: ..................................................................... 224

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیان آزادي: ........ 226
د ښځو آزادي: ........ 230
په سیکولر ټولنیز ژوند کې د حکومتي ملایانو دندې: ........ 235
حکومتي سیکولر ملایان د سیکولر ټولنیز ژوند ترویجوونکي: ........ 235
حکومتي سیکولر ملایان او سیکولر ښځینه تعلیم: ........ 237
حکومتي سیکولر ملایان او بې حجابي: ........ 237
حکومتي سیکولر ملایان او ارجایي اسلام: ........ 238
حکومتي سیکولر ملایان او له قتال في سبیل الله څخه خلک کښېنول: ........ 240
حکومتي سیکولر ملایان او وطنیت: ........ 240
حکومتي ملایان او جمهوریت یا ډیموکراسي ته خدمت: ........ 241
په سیکولر ټولنیز ژوند کې د کلیوالي ملکانو دندې: ........ 242
د سیکولر نظامونو اړوند کلیوالي ملکان او جمهوریت یا ډیموکراسي ته خدمت: ........ 243
سیکولر ملکان او د کفارو د فریب ورکوونکو دجالي نعمتو توزیع: ........ 244
سیکولر ملکان او استخباراتو ته د مجاهدینو په اړه راپورونه ورکول: ........ 247
سیکولر ملکان او حکومتي اربکیزم ته خپل قومونه تیارول: ........ 248
سیکولر ملکان او سیکولر تعلیم: ........ 249
سیکولر ملکان او سیکولر اقتصادي نظام: ........ 249
بشري حقوق او پکې موجودې گمراهۍ: ........ 251

## د امریکې د پروژې شپږم رکن: (سیکولر اقتصادي نظام) ........ 266

## د امریکې د پروژې اووم رکن(سیکولر طبي نظام) ........ 269

## په سیکولریزم کې د کفر ډولونه یا د ایمان معاصر نواقض ........ 273

اسلامپاله سیکولران، ارجاء او تکفیر: ........ 273
په معاصر کفر ﴿سیکولریزم﴾ کې د کفر ډولونه یا د ایمان معاصر نواقض: ........ 278
1. په ډیموکراټیکو ټاکنو کې کاندید کېدل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 279
په سیکولر نظامونو کې د تحلیل او تحریم څو واضح مثالونه: ........ 281
2. په سیکولر ټاکنو کې رأیه ورکول کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 286
3. په بغیر ما أنزل الله سیکولر وضعي قوانینو فیصلې کول کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 289
4. طاغوتي محکمو او قوانینو ته فیصلې وروړل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 291
5. دین او سیاست جدا جدا جهتونه بلل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 294
6. د حاکمیت او نظام په چوکاټ کې د سیکولر وطنیت عقیده منل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 297
7. د ښځو او نرانو حقوق، درجه او امتیازات برابر بلل د معاصر سیکولر کفر رکن او منل یې د قرآن تکذیب او له اسلامه وتل دي: ........ 300
8. له جهاد څخه کرکه لرل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 301
9. هر څوک چې دا عقیده ولري چې د قتال في سبیل الله ټوله رهبري د کفارو لاسو ته لوېدلې، هغوی یې اداره کوي او دا د هغوی په گټه کار ده نو دا کس له اسلامه مرتد ده: ........ 304

(c) ketabton.com: The Digital Library

10. د الله عزوجل د کلام تکذیب کول کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 307
11. معاصرو نړیوالو کفارو سره د بین الملل په اصولو سوله کول یا د نړیوال امنیت له پروسې سره یو ځای کېدل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 308
د نړیوال امنیت په پروسه کې د منل کېدو لپاره د کفارو شرطونه: ........ 309
آیا د جمهوریت یا ډیموکراسي منل له نړیوالې سولې (امنیت) سره د یو ځای کېدو لپاره شرط ده؟ ........ 316
12. په بین الملل کې له کفارو د ځوکۍ مطالبه کفر او له اسلامه خارجیدل دي: ........ 317
13. له بین المللي کفارو په سپین لیست کې د شاملېدو طلب کول کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 321
14. د مسلمانانو او کافرانو تر منځ مساوات منل کفري عقیده او د قرآن تکذیب ده: ........ 324
15. د دین او عقیدې د آزادي اصل منل کفر او له اسلامه خروج ده: ........ 326
16. په دین استهزاء کول کفر ده: ........ 329
17. له دین څخه اعراض کول (مخ ګرځول) کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 332
18. د کفارو بشري حقوق منل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 333
19. په سیکولر نظام کې معلم کېدل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 335
20. د سیکولر تعلیمي نظام په حقوقو، څارنوالي، نظامي او قضائي پوهنځیو کې محصل کېدل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 342
21. سیکولریزم ته کفر نه ویل او هغه د حجت له اقامې سره سره صحیح تګلاره (دین، قانون یا شریعت) بلل کفر او له اسلامه وتل دي: 343
22. په سیکولر نظامونو کې ملا کېدل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 345
23. د سیکولر نظامونو لپاره د کلي ملک کېدل یا وکیل ګذر جوړېدل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 356
24. په سیکولر نظام کې مامور کېدل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 359
له کفري نظامونو سره د برق، شاروالي او نورو خدماتي مامورینو د دوستي او همکاري ډولونه: ........ 366
25. دین له زمانې سره نامناسب بلل کفر او له اسلام څخه خارجیدل دي: ........ 372
26. اسلامي شریعت نیمګړی بلل کفر او له اسلامه خارجېدل دي: ........ 373
2 7 له شریعت څخه کرکه لرل کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 374
28. د تحلیل او تحریم حق اکثریت ته منل کفر او له اسلامه خارجیدل دي: ........ 375
29. د اسلامي نظام او دین له قائمولو څخه منع کول کفر او له اسلامه خارجېدل دي: ........ 376
30. له کفارو سره د مؤمنانو په مقابل کې دوستي کول کفر او له اسلامه خارجېدل دي: ........ 379
31. په محلي رواجونو او رسمونو فیصلې کول کفر او له اسلامه وتل دي: ........ 383
32. له کفري اساساتو بېزاري نکول او دوستي ورسره کول کفر او له اسلامه خارجېدل دي: ........ 384
33. د کفارو اطاعت کفر او له اسلامه خارجېدل دي: ........ 387
34. د مسلمانانو د کمزوري کولو او د کفارو د غلبې په هوډ ارجاف کول کفر او له اسلامه خارجېدل دي: ........ 388
35. سیکولریزم یا ډیموکراسي الله عزوجل ته د نزدیکیت وسیله بلل شرک او له اسلامه وتل دي: ........ 391
دریم فصل ........ 394

**فسطاطین: د ایمان او نفاق دوه خیمې او په اسلامپاله سیکولرانو کې د منافقت ډولونه ..394**

فسطاطین (دوه خیمې): اسلامپاله سیکولران او نفاق اکبر: ........ 395
1. منافقان او له جهاده کرکه لرل: ........ 401
2. منافقان او دجهاد تیاری نلرل: ........ 403
3. منافقان او له هجرت څخه کرکه لرل: ........ 404

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. منافقان او له انفاق في سبيل الله ( د الله عزوجل په لاره کې له خرچې کولو) څخه کرکه لرل: ........................ 406
5. منافقان او لمانځه کې سستي: ........................ 407
6. منافقان او د دنيا مينه: ........................ 408
7. منافقان او بخل: ........................ 409
8. منافقان او رياکاري: ........................ 411
9. منافقان او له أمر بالمعروف او نهی عن المنکر څخه کرکه لرل: ........................ 412
10. منافقان او صد عن سبيل الله: ........................ 413
11. منافقان او بغير ما انزل الله فيصلې کول: ........................ 414
12. منافقان او له کفارو سره دوستي: ........................ 416
13. منافقان او د مؤمنانو په شکست خوشحالي: ........................ 418
14. منافقان او د مسلمانانو له ټولنې تېښته: ........................ 420
15. منافقان او د مسلمانانو له منځه کفارو ته جاسوسي کول: ........................ 421
16. منافقان او د مؤمنانو تر منځ فتنې راپيدا کول: ........................ 423
17. منافقان او د زورور جهت طرفداري کول: ........................ 425
18. منافقان او د حق په دعوې د باطل د راوستو اراده درلودل: ........................ 427

**د اسلامپاله سيکولرانو د انفرادي عباداتو (لمونځ، روژو) سرنوشت او ددوی له لوري د کلام الله د آيتونو تکذيب ........................ 430**

سيکولران او ددوی د لمونځونو او روژو سرنوشت: ........................ 431
اسلامپاله سيکولرانو د الله عزوجل د کلام په کومو کومو آيتونو کفر کړی؟! ........................ 442
اسلامپاله سيکولران څوک دي؟! ........................ 473

**پنځم فصل منصورة طائفې او د منصورة طائفو او امريکايي پروژو تر منځ فرقونه ........................ 481**

منصورة طائفې که امريکايي پروژې: ........................ 482

**د منصوره طائفو او د امريکې د پروژو مقايسه: ........................ 494**

منصورة طائفې گمراه او مرتدې کيدی شي خو ورکېدلی نشي! ........................ 503
ولې د بعضو په نوم جهادي ډلو ترون له استخباراتو سره راخيژي؟! ........................ 504

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امريکي پروژه

په حاضره زمانه کي د اسلامي امت دښمن يو ځانګړی امپراتور يا رستم نده چې د هغه په له منځه وړلو خبره حل شي، دا دښمن داسې دښمن هم نده چې د صف د پهلوانانو په وژل کېدو ئې د لښکريانو روحيه وځپل شي او د فتحې او شکست رازونه ورپورې تړل شوی وي تر څو له وژل کېدو يې وروسته په ځای د مختلفې تګلارې کس را مخې ته شي او جوړ جاړی درسره وکړي.

بلکې خبره نن ډېره پېچلې ده ځکه په حاضره زمانه کې د اسلامي امت دښمن يوه تګلاره ده چې باقاعده زمونږ په خپلو نسلونو کې کرل کيږي، همدلته راپورته کيږي او له همدې ځايه له اسلام سره جګړه پيل کوي.

دا چې مونږ ته سياسي او نظامي فضاء زمونږ خپلو نسلونو څرنګه خړه کړې هغه يو بيل بحث ده چې ان شاءالله د همدې کتاب د سيکولر تعليم په برخه کې به يې جزئيات مطالعه کړئ خو دلته مو په حاضره زمانه کې له اسلام سره د جنګېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفر د پېژندلو په اړه خبره کوله چې هغه سيکولريزم يا لادينيت ده.

ياد جهل او امريکايي پروژه د غرب له لوري اسلامي امت ته وارده شوې، د سياسي تېرايستلو لپاره اوس پخپله د همدې پروژې اړوند خلک دا صفت په مجاهدينو پورې نښلوي او هغوی ته د امريکې پروژه وايي، خلکو هم تر ډېره قناعت ورسره کړی، ددې علت داده چې مسلمانانو نن هغه کفر او شرک نده پيژندلی چې دوی ورسره جنګيږي بلکې دوی جګړه له يو چا سره کوي او په دښمني يې بل ځوک نيولي او همدا علت ګرځېدلی چې په پای کې د ډېرو صفونو قرباني په اوبو لاهو شي او بېرته د همغه کفر په صف کې ودرېږي چې پخوا دوی ورسره جنګېدل.

يوه خبره په ياد ولرئ چې د جګړو تر شا تل معنويتونه ولاړ وي چې قومونه او ملتونه له يو او بل سره جنګوي، تاسو که فرعون ته وګورئ مبارزه يې د خپل بې معنی معنويت په طرفداري وه چې هغه د الوهيت باطله دعوه وه په خلکو يې منله او د همدې لپاره يې د بني اسرائيلو زامن ذبح کول، اصحاب اخدود چې د اور په کندو کې ګوزار شول هم تر منځ يې د توحيد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرک معنویت موجود و، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور حیات کې هم چې صحابه کرامو خپل اولادونه او اولادونو خپل پلرونه په جګړو کې وژل تر منځ یې د توحید او شرک معنویت موجود و، له فرعون سره که بني اسرائیلو د هغه الوهیت منلی وای زامن به یې نه ورته ذبح کول، اصحاب اخدود که د توحید په ځای شرک منلی وای د اور په کندو کې به نه ګوزارېدل، که صحابه کرامو له مکې والاو سره شرک منلی وای نو نه به پلرونو په جنګ کې خپل زامن او نه به زامنو خپل پلرونه وژلي ؤ، خو تل همدا معنویتونه دي چې انسانان له یو او بل سره جنګوي.

نن هم که له غرب سره مؤمنانو په شام، عراق، خراسان، مالي او نورو سیمو کې سیکولریزم منلی وای نه به په کروز توغندیو له ښځو او ماشومانو سره ویشتل کېدل او نه به په باغوز کې په یوه ورځ درې زره شهیدانېدل خو کله چې هغوی ته په یاد ډګر کې د نه ځواب وویل شو هره سختي او بلا پرې ممکنه شوه، دا ځکه چې له طاغوت څخه انکار کول تل له ځان سره یاد امتحانونه لري، لکه الله سبحانه وتعالی هم چې پخپل کلام کې فرمایلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّاوَهُمْ لَايُفْتَنُونَ ﴿العنکبوت: ٢﴾**

**ژباړه: آيا خلک فکر کوي چې يوازې د آمنا (يعنې ايمان مو راوړی) په اقرار پرېښودلی شي او امتحان به نشي؟**

جنګونه تل د معنوياتو، عقايدو، قوانينو او اديانو تر منځ وي، خو د کفري استخباراتو اړوند ځينې کرايي مفکرين يادو جګړو ته کله د تېلو او کله د اوبو نومونه ورکوي تر څو اذهان تېرباسي او هغه دښمن معنويت چې اسلامي امت ته راوړل شوی او ورسره جنګيږي په نسبت يې غفلت رامنځته او په مکر يې په خلکو ومني.

لازمه ده تر څو وپوهيږو چې کفار نن له مونږ دکوم معنويت منل غواړي؟ د څه په منلو يې له مونږ سره سوله راځي اوپه څه دوی له مونږه رضا کيږي؟ او همدارنګه بايد وپوهيږو چې د څه په نه منلو د کفارو دښمني راسره پيل کيږي، چاته بايد کافر ووايو او چاته مؤمن؟ چاته د امريکې پروژه او جاسوس ووايو، له څه بايد انکار وکړو تر څو يې په اساس يو سړی مؤمن پاتې شي او د څه په منلو نن يو کس له دين څخه مرتد او مشرک کېدی شي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدې سوالونو د ځواب لپاره او ددې لپاره چې د همدې خبرې تفصیلي پوهاوی وشي چې امریکا د څه ډول پروژې، فکر او عقیدې خپراوی په اسلامي امت کې کوي او له اسلامي امته څه غواړي **د امریکې د پروژې** په عنوان مو د کتاب لیکل پیل کړل، له الله سبحانه وتعالی څخه امید لرم چې د بشپړولو او د حق د بیان توفیق راکړي، له افراط او تفریط څخه مې وژغوري او د خلکو د هدایت سبب یې وګرځوي، اللهم آمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیکولریزم «SECULARISM»

سیکولریزم یوه غربي کلمه ده چې له لغوي پلوه د لادینیت یا بې دیني او دنیا پرستي یا دنیویت په معنی ده، دا عقیده له هغه جهل څخه عبارت ده چې په دیني روحانیت پورې هیڅ اړیکه نه ساتي بلکې له دیني معنویاتو لکه الله، ملائکو، آسماني منزلو کتابونو، قیامت، دوزخ، جنت، دعا، اجر، ثواب او نورو هغو غیبي امورو څخه په انکار بناء ده چې الله عزوجل د خپلو پیغمبرانو په ژبه تر انسانانو رسولي دي.

او په اصطلاح کې سیکولریزم د معاصرو هغو کفري نظامونو او حاکمیتونو له ډول څخه عبارت ده چې د خپلو اجتماعي امورو په تګلارو او قوانینو کې دیني احکاماتو او دیني روحانیتونو ته د دخل مجال نه ورکوي، سیکولران هغه خلک دي چې په سیاست او اجتماعي امورو کې د دین تطبیق او پرې عمل کولو ته په خاص اهمیت ندي قائل بلکې دوی صرف خلکو ته په انفرادي ژوند کې د عقیدې آزادي ته ژمن دي چې په اساس یې خلک د لمونځونو، روژو، دعاګانو، صدقاتو او د بعضې نورو عباداتو اجازه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک چې د سيکولر دين په کوم اصل عمل او يا ورته ژمنتيا ولري هغه ته (سيکولر) ويل کيږي چې جمع يې (سيکولران) دي.

سيکولران د ټولو چارو تحليل د مادي علتونو په اساس کوي، په دوی کې له ټولو عزتمند سړی هغه ده چې ډېرې پيسې لري او له ټولو سپک سړی پکې هغه ده چې پيسې ونلري.

دوی پخپل منځ کې ښه او بد هم د ماديت په اساس بېلوي، کله چې يوه چاته دنيوي مطلب ولري د هغه صفتونه کوي او سره لدې چې هغه به يو فاسق يا مرتد انسان وي دوی ته به ښه سړی ښکاري.

او يا هغه څوک چې پيسې ونلري يا دوی څه مادي مطلب ورته ونلري نو هغه که هر څومره متقي، هوښيار او د الله سبحانه وتعالی په دين عمل کوونکی انسان وي دوی ته سپک او بې ارزښته ښکاري.

هر څوک چې له دوی سره په ياد فکر او عقيده کې توافق ونلري له هغه شخه دوی بېزاري (کفر) کوي او هغه ورته احمق، وروسته پاتې، بې حکمته او د پرديو جاسوس ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصاً دوی ته هغه خلک ډیر سپک او بې ارزښته ښکاري چې د قضایاؤ او پېښو (سیاسي) تحلیل د دیني روحیانیت په اساس کوي.

دوی له هغه چا سره دښمني کوي چې په اجتماعي چارو کې د ادیانو اطاعت کوي او له هر هغه چا سره یې روغه او جوړه راځي چې په سیاست او اجتماعي چارو کې یې تګلاره له دین څخه په انکار بناء وي.

له همدې امله د بشریت د ټول تاریخ دا احمق کفار او مشرکین په سیاست او نظام کې په بشپړ ډول له دیني قید او بند څخه ځانونه آزاد بولي او تش په انفرادي ژوند کې دین ته د دخل مجال ورکوي چې د همغو انفرادي عباداتو په مټ دوی ځانونه خپلو خپلو زړو ادیانو پیروان بولي لکه لمونځ ګذاره مسلمانان چې د سیکولریزم تر څنګ ځانونه په همدې عباداتو مسلمان بولي، پداسې حال کې چې د الله عزوجل د قانون د نه اقامه کولو په صورت کې د الله سبحانه وتعالی د دین دعوې درلودل باطلې دي لکه چې الله عزوجل پخپل کلام کې همدا پیغام یهودو او نصاراو ته هم اورولی او فرمایلي یې دي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿المائدة: ٦٨﴾**

**ژباړه: ته ورته ووايه ای اهل کتابو تاسو په هېڅ دين (قانون) نه ياست تر هغه پورې چې تورات او انجيل قائم کړئ او هغه چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري نازل شوي دي، خامخا هغه ﴿کتاب﴾ به چې تاته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی ده په دوی کې د ډېرو خلکو سرکشي او کفر لازماً ورزيات کړي، نو ته په کافر قوم مه خفه کيږه.**

د اسلام د اجتماعي احکامو د ترک کولو له امله د دين په يوې برخې عمل کول او په بلې برخې عمل نه کول رامنځته کيږي او دا کار کفر او له اسلامه وتل دي چې د ايمان دغه ناقض به ان شاءالله د معاصرو نواقضو په لست کې ذکر شي او د کتاب په آخره کې به ددوی د انفرادي عباداتو لکه لمونځونو او روژو په سرنوشت هم خبرې وکړو چې ولې دوی سره له لمونځونو او روژو له اسلامه مرتد او کافران بلل کيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د الله د اطاعت په صورت کې سیکولرانو ته ووائې چې له کفارو سره دوستي کفر ده، د وضعي قوانینو منل شرک ده، بېره مه خریه، موسیقي مه اوره نو تا به غیر قانوني کار کړی وي ځکه دا کار دوی په اجتماعي امورو یا په عامه سلطه کې مداخله او حرام کار بولي او ددې جرم لپاره هر سیکولر نظام سزاء ټاکلې.

په همدې اساس دوی د انسانانو د ټولنیزو چارو لپاره پخپله خوښه قوانین وضع کړي او دیني احکامات یې ترې حذف کړي او د اسلام په شمول یې د نړۍ د هر انسان رابطه له خپل دین سره قطع کړې او په خپل ځان پسې یې روان کړي دي، د همدې ترتیب د روانولو لپاره دوی د خپل سیکولر دین، تګلارې او عقیدې لپاره څه ارکان او اصول هم ټاکلي چې یو یو به یې ان شاءالله په وروستیو صفحو کې په تفصیل بیان کړو.

خو له هر څه د مخه به په یوې خبرې لږ اضافي بحث وکړو هغه دا چې آیا سیکولریزم ته یو دین او ځانګړې عقیده ویلی شو او که تشه یوه داسې تګلاره ده چې په متابعت یې یو مؤمن ګنهګارېږي او کافر کیږي نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقتاً دا یو مهم سوال ده ځکه یاد کفر له یوه لوري ځانګړی معبد نلري چې مرتد شوی پرې ورننوځي او له بل لوري یې فتنه ډیره ایمان خوړونکې ده نو لازمه ده تر څو وپوهیږو چې آیا سیکولریزم ته یو دین ویلی شو او که نه؟ تر څو یې د پیروانو په سرنوشت حکم وکړای شو!

راځو اول دین ته چې دین څه ته وایې؟ د دین په اړه الله عزوجل په سوره شورا کې داسې فرمایلي چې:

**شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿الشورى: ١٣﴾**

**ژباړه: هغه ستاسو لپاره هغه دین (شریعت، قانون ا و تګلاره) مقرره کړې چې د هغه وصیت یې نوح ته کړی ؤ او هغه چې مونږ تاته وحیی کړی او هغه چې مونږ د هغه وصیت ابراهیم او موسی او عیسی ته کړی ؤ، چې تاسو دین (شرعي حدود، احکام، اسلامي قانون او تګلاره) قائم (تطبیق) کړئ او په ده کې مه مختلف کیږئ، په مشرکانو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باندې هغه شی ډېر دروند ده چې ته دوی هغه ته بلې، الله عزوجل غوره کوي دې ﴿دين، قانون او تګلارې﴾ ته چاته چې وغواړي او دده په طرف هغه چاته هدايت کوي چې رجوع کوي.**

پدې مبارک آيت کې شريعت يعنې قانون ته د دين نوم ورکړل شوی، په همدې اساس ويلی شو چې هر قانون يا شريعت ځانګړی دين ده، امام طبري رحمه الله ددې آيت په تفسير کې له قتادة څخه قول نقل کړی چې: (شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا) ويې ويل چې دا يعنې حلال او حرام (قانوني او غير قانوني شيان).

او همدارنګه الله عزوجل د خپل کلام په سوره مائدة ٦٨ نمبر آيت کې د قانون متابعت د دين متابعت بللی، يهودو ته الله عزوجل فرمايي چې تر څو تاسو تورات اقامه نکړئ د دين دعوه مو باطله ده، يعنې که مو د تورات فيصلې پخپل ژوند کې عملي کړې او ومو منلې نو بيا کولی شئ چې ځان يوه دين ﴿يهوديت﴾ ته منسوب کړئ، الله عزوجل فرمايي:

**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ﴿المائدة: ٦٨﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: ته ورته ووایه ای اهل کتابو تاسو په هېڅ شي (دین) نه یاست تر هغه پورې چې تورات او انجیل قائم کړئ او هغه چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري نازل شوي دي.**

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي چې:

**فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَاءِ أَخِيهِ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَّن نَّشَاءُ وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴿يوسف: ٧٦﴾**

**ژباړه: نو یوسف علیه السلام له خپل سکني ورور څخه مخکې د هغو د ځتو په لټولو شروع وکړه، بیا یې د خپل ورور له ځتې څخه ورک شوی شی په لاس راوړ، په دې ډول مونږ په خپل تدبیر سره د یوسف علیه السلام ملاتړ وکړ، د هغه دا کار نه ؤ چې د پادشاه په قانون کې یې خپل ورور نیولی وای مګر دا چې الله سبحانه وتعالی همداسې وغواړي، زمونږ چې چاته خوښه شي د هغه درجې لوړوو او د هر علم لرونکي له پاسه بل لوی عالم شته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته مبارک آيت کې هم الله سبحانه وتعالى قانون ته د دين خطاب کړی او فرمايلي يې دي چې (في دين الملک) يعني د مصر د پادشاه په قانون کې، نو پدې مبارک آيت کې هم قانون يا تګلارې ته د دين نوم ورکول شوی ده.

نو ويلی شو چې هره تګلاره چې د انسانانو د اجتماعي يا انفرادي ژوند د تنظيم لپاره اصول او قوانين لري دين بلل کيږي، نو سيکولريزم هم يو معاصر، نيمګړی، پليد او باطل دين ده چې نن يې د خپلو پراخو غولوونکو، غافلوونکو او مشغولوونکو ابعادو په مټ خلک په ځان پسې روان کړي دي.

دا چې سيکولريزم هم يو دين او ځانګړې عقيده ده نو هر څوک چې د هغه متابعت وکړي هغه له اسلام څخه خارج او د بل کفري دين پيرو ګرځېدلی، لکه د همدې په اړه به بيا په وروستيو صفحو کې ددوی د کفر په ډولونو تفصيلي بحث وکړو ان شاءالله.

خو بعضې خلک دا نه مني چې سيکولريزم يو دين ده ځکه دوی دين ته داسې تعريف ورکوي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دين د معبود او انسان تر منځ د رابطې يوه وسيله ده نو په سيکولريزم کې خو معبودان نه منل کيږي نو عبادت پکې د چا کيږي چې سيکولريزم دين وبولو؟

پدې ځای کې دين ته د غلط تعريف له امله له دوی سره مناقشه نه اوږدوم خو دا نه ورسره منم چې په سيکولريزم کې معبودان نشته چې عبادت يې وشي، بلکې په سيکولريزم کې ګڼ شمير باطل معبودان شته چې سيکولران يې په عبادت بوخت دي.

خو حقيقت داده چې دوی د معبود من دون الله په حقيقت نه پوهيږي، معبود صرف هغه چاته نه ويل کيږي چې سجدې ورته کيږي لکه د خلکو په تصور کې چې عموماً د معبود همدا تعريف پروت ده چې هر څوک کوم چاته سجده وکړي هغه معبود شو بلکې د معبود لپاره دا مفهوم غلط ده، علماؤ لکه شيخ الاسلام ابن القيم رحمه الله د طاغوت په تعريف کې د معبود معنا څرګنده کړی چې هر معبود، متبوع ـ چې تابعداري يی کيږي ـ او مطاع ـ چي اطاعت يی کيږی ـ او د هر چا د تابعداري او اطاعت له امله چې يو انسان د شريعت له حد څخه تجاوز وکړي او د شريعت په ځای د بل چا طاعت وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا کس له رب العالمين سره په طاعت کې شريک وګرځول شو.

په همدې اساس د سيکولريزم د دين په اول قدم کې معبودان د تشريع ﴿تحليل او تحريم﴾ فرعونيان دي چې دوی يې د پارلماني وکيلانو، قانونسازانو، رئيس جمهورانو او په نورو عنوانونو پېژني او دوی په الوهيت نيولي دي او دا همغه د يهودو کفر او شرک ده چې الله عزوجل يې په اړه فرمايلي چې:

**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ [التوبة :٣١]**

**ژباړه: ﴿يهودو﴾ خپل علماء او مشران پرته له الله معبودان ﴿حلالوونکي او حراموونکي﴾ نيولي ؤ او همدارنګه مسيح زوی د مريم هم او دوی ته امر نه ؤ شوی مګر ددې خبرې چې ﴿د حاکميت په ډګر﴾ کې يوازې او يوازې د يو الله عبادت وکړي، نشته حقدار د بندګي ﴿په حلالولو او حرامولو کې﴾ مګر همغه الله، الله عزوجل پاک ده له هغه ﴿کانديدانو او قانونسازانو ورسره له شريکولو څخه چې﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوی يې (د قانون، دين او شريعت په جوړولو کې) ورسره شريکوي.**

په دوهم قدم کې سيکولران د خپلو نفسونو عبادت کوي ځکه دوی د خپلو خواهشاتو په مټ د خپلو نفسي غوښتنو مطابق قانون او شريعت جوړوي او بيا د الله سبحانه وتعالی د شريعت په مقابل کې د هغه عبادت کوي او دا همغه خلک دي چې په اړه يې الله عزوجل فرمايلي:

**أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِ غِشَاوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِن بَعْدِ اللَّهِ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ [جاثية :٢٣]**

**ژباړه: نو آيا تا هغه کس ليدلی ده چې خپل معبود يې خپل خواهش ګرځولی او الله عزوجل هغه په علم باندې ګمراه کړ او د هغه په غوږونو او د هغه په زړه يې مهر ولګاوه، او د هغه په سترګو يې پرده واچوله، نو ده ته به د الله سبحانه وتعالی نه بعد څوک هدايت وکړي، آيا نو تاسو پند نه اخلئ؟**

نو په سيکولريزم کې معبودان شته چې سيکولر مرتدين يې په عبادت بوخت دي او لدې پلوه هم سيکولريزم د يو باطل دين

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صفت نن له خلکو ایمانونه اخلي او د اسلامي امت په مخ یې د کفر او ارتداد پراخې دروازې پرانیستي دي.

سیکولریزم داسې دین ده لکه نور پخواني ادیان، هم معبودان پکې شته، هم د اختر او خوشحالي ځانګړې ورځې لري او هم دوی پخپلو منځو کې په مشابه اصولو اتفاق لري، د سیکولریزم د دین د نړۍ د یوه سر پیرو د نړۍ د بل سر له پیرو سره په هېڅ اصولو کې اختلاف نلري، د نورو ادیانو او مذاهبو په څېر ځانګړې فقه او مشترک شریعت لري او د همدې شرائعو او قوانینو پواسطه یې خلک په یوه دایره کې په کفر متفق او راټول کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زمونږ د جګړې ډېره برخه اوس مهال د صلیبیانو او یهودانو په ځای د غرب له ملحدانو سره ده!

د خپل دښمن صحیح تعریف او مشخصات پېژندل د جهاد لپاره اعداد او تیاری نیول دي خو متأسفانه تر ډېره بریده نن سبا زمونږ خپل مجاهدین د خپل دښمن له اصلي تعریف سره نا آشنا دي او حتی نه پوهیږي چې هغه د کوم معنویت خاوند او له مونږه څه غواړي؟ هغوی خپله د کوم دین او تګلارې پیروان دي؟ ددې پوښتنو په ځواب کې شاید مجاهدین او ډېر وروڼه ووایي چې زمونږ جګړه صرف له صلیبیانو او یهودیانو سره ده!!

خو واورئ چې اوس زمونږ جګړه یوازې له یهودیانو یا صلیبیانو سره نده، صحیح ده چې په تېر تاریخ کې هغوی د اسلام بدترین دښمنان ؤ او اوس هم دي، پخوا یې هم ډېره بې رحمه دښمني له اسلام سره کړې، اوس یې هم کوي او په آینده کې هم له ملحمة الکبری د دجال تر فتنې منتظره کیسې ورسره لرو خو تاسو باید سر خلاص کړئ چې فعلاً په اسلامي امت یرغل بل چا کړی، نوی دښمن له مونږه یهودیت او نصرانیت نه غواړي بلکې له مونږه د مختلف کفر غوښتونکي دي او دا کفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۷ اساساتو بناء سیکولر کفر ده چې د ارکانو تشریح به یې په وروستیو صفحو کې وشي ان شاءالله.

زما مطلب داده چې له هغه کفر سره عسکري او فکري جګړه وکړئ چې اوس یې په مونږ یرغل راوړی ده، کله چې تاسو په خپلو فکري فعالیتونو کې د خپل دښمن بدي د هغه د نوم له اخیستلو بیانوئ همدا د ژبې جهاد ده او پخپلو دښمنانو کې باید لومړی جګړه له هغه دښمن سره وشي چې مونږ ته نږدې وي، الله سبحانه وتعالی هم امر کړی چې:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿التوبة: ١٢٣﴾**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی ده، د حق له هغو منکرینو سره وجنګیږئ چې تاسو ته نږدې دي او باید هغوی په تاسو کې کلکوالی (سختي) وموي او وپوهیږئ چې الله سبحانه وتعالی د پرهیزګارانو ملګری ده.**

په همدې اساس په مونږ واجب ده چې اوس له هغه کفري معنویت سره فکري او عسکري جګړه وکړو چې پیښېدونکی خطر یې مونږ ته نږدې وي، په مونږ یې حمله راوړې وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا مهال ورسره په جګړه بوخت واوسو، خو متأسفانه چې زمونږ مجاهدين او علماء کرام عسکري جګړه له يوه دښمن سره کوي او له فکري لحاظه يې په دښمني بل داسې دښمن نيولی چې هغه دښمن فعلاً په مونږ يرغل نده راوړی.

اوس غربيان هم نه په انجيل او نه په تورات فيصلې کوي او پخپلو ځانو يې هم سيکولريزم جاري کړی، له عيسويت سره د سيکولرانو جګړې په غرب کې له زرو کالو ډېر وخت ونيوه، له سيکولرانو سره د منظمې جګړې د ادارې لپاره عيسويانو په يوولسمه پېړۍ کې د واتيکان کليسا (يا محکمه) جوړه کړه چې پکې د لسو مليونو هغو ملحدو انسانانو دوسيې موندل شوي چې د کليسا له لوري سوځول شوي وو، پدې لسو مليونو کې يو مليون ملحدې ښځې هم موجودې وې.

دا چې پدې جګړه کې نور ځومره انسانان په نورو ډولونو وژل شوي الله عالم ده خو سره لدې چې هغه مهال کتابت هم کم وو د لسو مليونو سوځول شوو انسانانو دوسيې په ياده کليسا کې موندل شوي دي، په پای کې بې دينانو يا سيکولرانو وګټله او له سوونو کلونو جګړو وروسته يې عيسوي پاپان د مليونونو انسانانو د ادارې له ځوکۍ ځخه راکوز او ياده اداره يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسواکي يا خپلواکي په نوم خپلو نفسي خواهشاتو ته وسپارله او بيا يې د خپلې اروپا له بې دينه کولو وروسته اسلامي امت ته هم رامخه کړه.

دا چې په اسلام معاصر يرغلگر دښمن د صليبيانو او يهودانو په ځای ملحدان په گوته کوو ممکن دا خبره تاسو ته نابلده وبريښي ځکه نن سبا همدې خبرې ته زمونږ له طرفه هم څه په شعوري او څه په غير شعوري توگه کار شوی تر څو په عمدي ډول مسلمانان د خپل دښمن له اصلي مشخصاتو څخه غافل کړی شي او په بې خبري هغه فکر او عقيده د خپل يرغلگر دښمن په صفت ونيسي چې فعلاً يې يرغل په مونږ نده کړی او يرغل چې کوم فکر په مونږ کړی هغه په ۷ اساساتو ولاړه تگلاره، دين او عقيده ده چې د سيکولريزم په نوم ياديږي خو متأسفانه اکثرو مسلمانانو په دوستي نيولې بلکې اکثره هيڅ د کفر په سترگه نه ورته گوري او اساسات يې د خپلو ديني اساساتو په څېر مني، له هغو په همغه ډول دفاع کوي لکه له خپلو ديني معنوياتو څخه ئې چې کوي، وينې او خولې ورته بهوي او د همدې کفر پيروي ورته هوښياري او حکمت ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورئ له خبرو غلط برداشت مکوئ، زما لدې خبرو مطلب دا نده چې یهود او نصارا د اسلام دښمنان ندي بلکې هغوی تل د اسلام خطرناک دښمنان ثابت شوي او ترې بېزاري کول د مسلمانانو د عقیدې له اصل څخه بلل کیږي او پرته لدې د یوه مؤمن ایمان نه صحیح کیږي او الله عزوجل پدې اړه مونږ ته ډېر ډېر آیتونه نازل کړي تر څو له هغوی بېزاري وکړو، ورسره وجنګیږو او دښمني ورسره وکړو، همدارنګه په غور کې کېږدئ چې زما لدې خبرو دې څوک د مرتد اخوانیت د تقارب ادیان برداشت هم نکوي، هغه ګمراهي چې د مصر اخوانیان یې لري او یهودو او نصاراو ته د وروڼو خطابونه کوي بلکې له یهودو او نصاراو سره زمونږ راتلونکې جګړې او منتظره پیښې پاتې دي.

ممکن تاسو ووایئ چې کله افغانستان ته امریکایان راغلل بوش یاد یرغل صلیبي وباله نو اوس تاسو ولې وایاست چې دا جنګ له صلیبیانو سره نه بلکې له ملحدانو سره ده؟

هو بوش رښتیا هم یاده جګړه صلیبي وبلله خو په حقیقت کې هغه له افغانانو سره یو فکري جنګ و چې په مټ یې افغانان د خپل دښمن له اصلي مشخصاتو څخه غافل کول مطلب ؤ، د بوش د یاد اعلان له امله افغانانو هغه مهال په زړه وخوړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به صلیبیان راځي او مونږ به عیسویان کوي او مسجدونه به راته ورانوي خو په عمل کې خبره کاملاً برعکس وه، هغوی صلیبیت نه و راوړی او نه یې خلکو ته د صلیبیت دعوتونه کول، بلکې هغوی به کله کله مسجدونه هم جوړول او هغوی چې کوم کفر له ځان سره راوړی و هغه په ۷ اساساتو استواره یوه تگلاره وه چې ټولو په دوستي ونیوله، هغوی ډیموکراټیکې ټاکنې، وطنیت، سیکولر ټولنیز ژوند، د ښځو حقوق، مساوات، د عقیدې آزادي او ورته نور جهلونه راوړي ؤ او دا نوی کفر چا نه پېژانده او نه یې په منلو د چا سر په کلیسا ورداخلیده او دا کار علت شو چې فوج فوج خلک ورشي او په سیکولر کفر ورسره کافر شي خو متأسفانه زمونږ علماء اوس هم فکر کوي چې هغوی زمونږ د عیسوي کولو هڅې کوي او زمونږ جگړه یوازې له صلیبیانو سره ده!!!

له همغه وخته وگورئ د صلیبي جگړو کتابونه په بازار کې آزاد خرڅیږي، سیکولر اسلامپالانو لکه جمعیت اصلاح وغیره اخواني او غیر اخواني جهتونو هم خورا ډېر کار ورته وکړ تر څو له یوه لوري ځان اسلامپاله معرفي کړي او له بل لوري د مسلمانانو د دښمن اصلي تعریف په خلکو کې گډوډ کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان د صليبيت او نصرانيت هغو جهتونو ته متوجه کړي او د دښمني تلقينات ورکړي چې فعلاً ئې يرغل په مونږ نده کړی پداسې حال کې چې صليبيان او يهودان پخپله په اروپا کې د کليسا او کنيسو په کونجونو کې ناست د سيکولريزم د قانون لاندې د محکوميت ژوند تېروي.

خو له هغه وخته چې امريکايان افغانستان ته راغلي ؤ د سيکولريزم په ضد يوه کرښه هم نه وزغمل شوه او نه اوس زغمل کيږی، مونږ په زندان کې هيڅوک داسې ونه ليدل چې د يهودو او نصاراو په ضد د فعاليت له امله زنداني شوي وي بلکې خبره ټوله د همدې سيکولريزم ده چې مونږ نن سبا ورسره په جګړه بوخت يو، د امريکايانو پر مهال هم په ټولو مسجدونو کې دولتي سوء علماؤ آزادانه چيغې وهلې چې يهود او نصارا بد خلک دي او زمونږ دښمنان دي او خلکو هم فکر کاوه چې دا حق پرست علماء دي پداسې حال کې چې همدوی بيرته د اسلام په نوم سيکولر امريکايی کفر ته له خپلو منبرونو کمپاين چلاوه او خلک ئې پرې مرتد کول، خلک يې هم په حقيقت نه پوهېدل او بالمقابل همدې سوء علماؤ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاصر کفر حکم له خلکو پټاوه بلکې د هغه د متابعت د جواز فتواګانې يې هم ورکولې.

ممکن ستاسو فکر ته دا خبره درشی چې کابل ته د امريکايانو له راتګ سره سم هلته کليساګانې جوړې شوې نو تاسو ولې واياست چې امريکې افغانستان ته صليبيت نده راوړی؟

ځواب داده چې چې افغانستان ته راغلې کليساګانو هم په حقيقت کې د عقيدې د آزادي چې د سيکولريزم يو اصل ده پيغام درلود او دا د کفارو غافلوونکې برنامه وه تر څو د بوش فکري جګړې ته د عمل جامه ورواغوندي او بله دا چې هغه ځکه سيکولريزم وو چې دلته د کليساګانو په جوړولو امريکايانو افغانانو ته پيغام درلود چې د عقيدې ازادي چې د سيکولر ټولنيز ژوند جزء او په سيکولر بشري حقوقو کې مهم اصل ده بايد په افغانستان کې پلی شي، امريکايانو افغانانو ته پيغام درلود چې په اروپا کې که څوک صليبيت پريدي او اسلام ته مخه کوي نو خپل کار يې ده په چا يې څه؟ او که څوک په کابل کې اسلام پريږدي او عيسويت ته مخه کوي په چا يې څه؟ هغوی دلته د عقيدې د آزادي سيکولر اصل د صليبي کليساګانو په جامه کې راوړ او د همدې سيکولر اساساتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلي کولو لپاره امريکايانو په افغانستان کې خپلې وينې وبهولې.

بالمقابل مونږ له تاسو پوښتو چې: د اسلام مروج تبليغيان د کوم بم او توپ په زور د هغې اروپا تر کوڅو د ارجائي او بې سياسته اسلام د تبليغ لپاره ورسېدل چې تر پرونه به له هغه ځايه په مليونونو مليونونو فوځيان د اسلامي امت د تسخير لپاره راخوځېدل؟ نن ولې د هغوی له برلاسي سره سره په همغه اروپا کې د اسلام د تبليغ اجازه ورکول شوې؟

آيا ستاسو ځواب دا نده چې د اسلام مروج تبليغيان خو د سيکولريزم د عقيدې د آزادي له اصل څخه په استفادې هلته رسيدلي؟ نو زه هم همدا درته وايم چې کابل ته هم عيسويان د سيکولريزم د عقيدې د آزادي په مټ رارسېدلي او امريکايي عسکر په حقيقت کې د هغه تبليغي په دفاع کې خپلې وينې بهوي چې په اروپا کې د ارجائي او ډيموکراټ اسلام تبليغ کوي او همدارنګه د همدې سيکولر عيسوي په دفاع کې خپلې وينې بهوي چې په کابل کې خلک له اسلام څخه صليبيت ته اړوي او دا ځکه چې همدې صليبيت او همدې تبليغي په حقيقت کې د سيکولريزم په پيروي د خپلو خپلو اديانو، کتابونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شرائعو له اقامې لاس اخیستی، اوس نه هغه مسلمان مسلمان پاتې شوی او نه هغه صلیبي په صلیبیت پاتې شوی، همدې مسلمان او عیسوي په اجتماعي چارو کې د خپلو خپلو ادیانو پیروي پریښې او د سیکولریزم عبادت یې پیل کړې، له همدې امله په سورة مائدة ٦٨ نمبر آیت کې چې په تیرو صفحو کې ذکر شو الله عزوجل فرمایلي چې تاسو په هیڅ دین نه یاست تر څو د خپلو خپلو کتابونو احکام او حدود تطبیق نکړئ او دا همغه خبره ده چې مسلمانانو ته هم الله عزوجل په قرآن کې فرمایلي چې:

**فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿النساء: ٦٥﴾**

**ژباړه: پس داسې نده، ستا په رب مې دې قسم وي دوی مؤمنان کیدی نشي تر هغه پورې چې دوی پخپل مینځ کې پخپلو جګړو کې تا (اسلامي شریعت) فیصله کوونکی ومني بیا پخپلو نفسونو کې ستا (قرآن او سنت) د کړې فیصلې په باره کې هیڅ تنګي ونه مومي او په ښه منلو سره یې ومني.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو نن په حقیقت کې د نصرانیت او اسلام همدې مبلغینو د خپلو خپلو کتابونو او شریعتونو اقامه پریښې او په ځای یې د سیکولریزم پیروي پیل کړې او حقیقت داده چې یو هم پخپل دین نده ولاړ ځکه لکه څرنګه چې په اول کې بیان شوه چې دین پخپله قانون او شریعت ته وایي نو دوی چې قوانین د سیکولریزم منې او دعوه د اسلامیت یا صلیبیت کوي نو دې دعوو ته د اسلامیت او نصرانیت هېڅ امتیاز نده حاصل.

که نن تاسو په سیاسي ډګر کې له اسلام سره جنګېدونکي اروپایان صرف د نصرانیت او یهودیت پیروان وبولئ نو هغه سیکولران چې هم لمونځونه کوي او هم د سیکولر نظامونو په طرفداري له مجاهدینو سره جنګیږي هغه تاسو د کوم دین خلک بولئ؟ بیا نو مجبور یاست چې ووایئ چې هغوی مسلمانان دي ا ومونږ دلته له مسلمانانو سره جنګیږو.

بلکې داسې نده، لکه څرنګه چې مخکې ووېل شول نه هغه عیسوي پخپل دین ولاړ ده چې په کابل کې نصرانیت ته فعالیتونه کوي او قوانین د سیکولریزم مني تر څو ئې د هغه نصرانیت پیرو وبولو چې تر دوو یا دریو سوو کالو مخکې په اروپا کې موجود ؤ او نه هغه مسلمان په اسلام ولاړ ده چې په اروپا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د اسلام تبلیغ کوي او قوانین د سیکولریزم مني بلکې دوی د سیکولریزم له دروازې له خپلو خپلو ادیانو بېګانه شوي او مرتد شوي دي.

د بوش سره په همغږي د خارجی جماعتونو ځینې لیکوالان او یا د اخوانیت په اخور ولاړ ځینې مفکرین همدې خبرې ته دېر کار پیل کړ چې غرب په مونږه نصرانیت راتپي خو دا خبره تل علت ګرځېدلې چې له هغه کفر څخه د خلکو توجه واوړي چې همدا مهال یې امت له فتنې سره مخ کړی، په افغانستان کې به ټول څو کسه نصراني شوي وي؟ زر؟ دوه زره که لس زره؟ او تاسو فکر وکړئ په سیکولر کفر څومره خلک مرتد شول؟ امریکایانو څومره خلک آماده کړل چې غیر الله شارعین ومني؟ څومره یې آماده کړل چې د کفارو اطاعت یوه وجیبه وبولي؟ څومره یې آماده کړل چې د فاسدو مساواتو عقاید خپل کړي؟

فکر وکړئ چې نن په ټوله نړۍ کې غرب په کوم کفر خلک مرتد کوي؟ همغه کفر باید په دښمني ونیول شي او د همغه په ضد فکري او نظامي جګړه وشي، که داسې شي چې یرغل یو چا کړی وي او په دښمني مو بل څوک نیولي وي دا به علت شي چې د نا بلد دښمن په فکري لومو کې راګېر او د مبارزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهت مو غلط لوري ته سوق شي او بيا به د طالبانو په څېر لوی شکست او شرمندګي ته د فتحې او کاميابي نومونه ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی فصل

## د سيکولريزم ۷ اساسات

سيکولريزم ۷ اساسات لري چې په لاندې ډول دي:

1. سيکولر وضعي قوانين
2. سيکولر وطنيت
3. جمهوريت / ډيموکراسي
4. سيکولر تعليمي نظام
5. سيکولر ټولنيز ژوند
6. سيکولر اقتصادي نظام
7. سيکولر طبي نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکې د پروژې اول رکن: (سیکولر وضعي قوانین)

لکه څرنګه چې خبره مخکې بیان شوه د سیکولرانو عقیده د آسماني ادیانو د منزلو احکاماتو، قوانینو او شرائعو څخه په انکار بناء ده دوی په همدې اساس د خپل ژوند د هرې برخې لپاره قوانین پخپله خوښه جوړوي او د الله عزوجل د احکاماتو په ځای د خپلو همدې وضعي قوانینو متابعت، پیروي او عبادت کوي، د خپلو همدې قوانینو په اساس دوی له خلکو سره دوستي او دښمني کوي او په همدې اساس بهتر او کمتر پخپلو منځو کې بېلوي پداسې حال کې چې دا د انسانانو د عقل اختراع ګانې دي او معیار بلل یې لویه غلطي ده ځکه د انسان عقل نن یو څه خوښوي او هغه هوښیاري ورته ښکاري او سبا بیا همغه څه نه خوښوي او خرابي ورته ښکاري، یا انسان له یو څه سره نن مینه کوي او سبا بیا له همغه څه څخه کرکه او نفرت کوي.

نو د اصولو، قوانینو او شرائعو یوازېنی صحیح معیار او مصدر وحیې ﴿ قرآن او سنت﴾ ده چې تل ثابت او د احکاماتو د متابعت په نتیجه کې یې پیروان د عروج تر اوچتو پوړو په دنیا او آخرت کې رسېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په وضعي قوانينو کې د کفر او ضلالتونو موجودې لس نمونې:

هر څوک چې د الله عزوجل د قانون د پاسه بل قانون، شريعت او تګلاره جوړه کړي، يا يې ومني او يا پرې راضي وي نو دا کس د کفر، شرک او ګمراهي په لاندې ډولونو کې مبتلاء کيږي.

### 1. په بغير ما أنزل الله قوانينو فيصلې کول:

هر کله چې وضعي قوانين جوړ او ومنل شي نو له امله به يې په بغير ما أنزل الله قوانينو فيصله کيږي او هر څوک چې پرته د الله عزوجل له قانونه په بل قانون فيصله وکړي او يا پرې راضي شي هغه له اسلامه خارج او مرتد ده ځکه الله عزوجل فرمايي:

**وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ [المائدة :٤٤]**

ژباړه: او چاچې د الله په نازل کړي ﴿کتاب، قانون) باندې فيصلې ونکړې هماغه خلک کافران دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پدې آيت کې الله تعالی د نزول په اعتبار د هغو يهودو مستقيم تکفير کړی چې غير له توراته يې په بل قانون فيصلې کولې او دا تکفير د الله له وجود څخه د انکار او يا د لمانځه او روژو د ترک له وجې نه بلکې الله عزوجل دا تکفير د الله په کتاب د فيصلې د نه کولو له امله سره لدې کړی چې يهودانو د الله وجود هم مانه، روژې يې هم نيولې او لمونځونه ئې هم کول خو بيا هم الله عزوجل فرمايلي چې «فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ» دا ځکه چې دوی غير د الله عزوجل له کتاب، قانون او شريعت څخه پرته په نورو قوانينو فيصلې کولې.

د يادولو وړ ده چې بعضې علماء په بغير ما أنزل الله قوانينو فيصله کول مطلق کفر نه بولي او وايي چې کله کله ياد کار کفر دون کفر (گناه کبيره) وي او د کفر سرحد ته نه رسيږي، يا دوی وايي چې په بغير ما أنزل الله قوانينو باندې يوه يا دوه فيصلې کول يو مؤمن له اسلامه نشي مرتد کولی او ممکن يو قاضي د خپلې رأيې له امله يوه يا دوه فيصلې غلطې وکړي نو پدې کار څوک له اسلامه نه مرتد کيږي بلکې گناهگاريږي. پورته استثنائات صحيح دي، که يو حاکم يوه يا دوه مسئلې د خپلې رأيې په اساس وکړي له اسلامه نه مرتد کيږي خو پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه د علماء کرامو پام يوې مسئلې ته راګرځوم چې نن په سيکولر وضعي قوانينو فيصلې کول په دارلاسلام کې د کوم چا انفرادي ګمراهي نده بلکې ياد کار نن په دارالکفر کې په اجتماعي شکل د کفري نظامونو تګلارې دي، دوی د همدې په دفاع کې د اسلامي شريعت له اقامې څخه منع کوي او دوی ياد قوانين له کفارو څخه په اطاعت وضع کوي او بيا په مسلح ډول مؤمنان د هغه تابعداري او عبادت ته په زور او وحشت وربولي.

نو سيکولر فيصله ګر چې پرته د الله عزوجل له قانون څخه په بل قانون فيصله کوي خصوصاً د نن سبا په وضعي او سيکولر قوانينو او محلي رواجي فيصلو هغه کافر او له اسلامه مرتد ده.

## 2. د حاکميت په توحيد کې له الله سبحانه وتعالی سره شرک کول:

هر څوک چې د غيرالله تحليل او تحريم ﴿حلالول او حرامول يا د قانوني او غير قانوني په عنوان﴾ ومني هغه له الله عزوجل سره د حاکميت په توحيد کې شرک کوي څکه الله عزوجل فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا [كهف ٢٦:]**

**ژباړه: او هغه پخپل حکم ﴿ قضاء، حلالولو او حرامولو یا قانون او شریعت جوړولو﴾ کې هیڅوک له ځان سره نه شریکوي.**

همدارنګه الله عزوجل فرمایي:

**إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ [يوسف:٤٠]**

**ژباړه: حکم (دین، قانون او شریعت جوړول) یوازې او یوازې الله لره دي.**

حکم یا حاکمیت کول یعنې خلکو ته حلال او حرام، جائز او نا جائز یا قانوني او غیر قانوني شیان په ګوته کول چې دا یوازې او یوازې د الله عزوجل حق ده او پدې کار کې الله عزوجل له خپل ځان سره هیڅوک نه شریکوي، یهودو چې کله په همدې برخه کې له الله عزوجل سره خپل مشران او ملایان شریک کړل نو الله عزوجل یې په اړه وفرمایل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ [التوبة:٣١]**

**ژباړه: «يهودو» خپل علماء او مشران پرته له الله معبودان نيولي و او همدارنګه مسيح زوی د مريم هم او دوی ته امر نه ؤ شوی مګر ددې خبرې چې «د حاکميت په ډګر کې يوازې او يوازې د يو الله عبادت وکړي، نشته حقدار د بندګي «په حلالولو او حرامولو کې» مګر همغه الله، الله عزوجل پاک ده له هغه«کانديدانو او قانونسازانو ورسره له شريکولو څخه چې» دوی يې (د دين، قانون او شريعت په جوړولو کې) ورسره شريکوي.**

ابن کثير او ابن أبي حاتم رحمهم الله د ياد آيت په تفسير کې له عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روايت نقل کوي چې زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم خواته ورغلم پداسې حال کې چې هغه صلى الله عليه وسلم دا آيت چې اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ تلاوت کاوه نو ما ورته وويل چې ای رسول الله، يهودانو خو د خپلو مشرانو او علماؤ عبادت نه کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې:**بَلَى، إِنَّهُمْ حَرَّمُوا عَلَيْهِمُ الْحَلاَلَ، وَأَحَلُّوا لَهُمُ الْحَرَامَ، فَاتَّبَعُوهُمْ، فَذَلِكَ عِبَادَتُهُمْ إِيَّاهُمْ" (ترمذي و أحمد).**

**ژباړه: هو، هغوی ﴿د يهودو مشرانو او علماؤ﴾ به حلال حرامول او حرام به ئې حلالول، هغوی به په همدې کې ﴿د خپلو مشرانو او علماؤ﴾ تابعداري کوله نو همدا ددوی عبادت ده.**

نو پرته د الله عزوجل له قانون او شريعت څخه د بل چا د قانون او شريعت متابعت کول يا پرې راضي کېدل له الله عزوجل سره په حاکميت کې شرک کول دي.

## 3. د کفارو اطاعت:

د وضعي قوانينو په منلو به ضرور له يوه انسانه د کفارو اطاعت کيږي ځکه وضعي قوانين نه جوړيږي مگر د کافر طاغوت په لاس، دا چې د وضعي قوانينو له امله په معاصره نړۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي امت د کفارو د اطاعت په کومو کومو ډولونو کې ښکېل ده لنډ لنډ ټکي به يې په لاندې ډول ذکر شي:

**الف:** د بین المللي وضعي قوانینو د متابعت له امله د کفارو وطني اطاعت ﴿ ددې اطاعت بشپړه تشریح به د سیکولر وطنیت د عنوان لاندې وروسته راشي ان شاءالله﴾.

**ب:** د کفارو سیاسي اطاعت ﴿لکه همدا مهال چې اسلامي امت د خپلې ټولې حکومتداري ډول او تعامل له کفارو سره مشابه او له هغوی څخه په تقلید عیار کړی او د هغوی په څېر پالیسي ئې غوره کړې، دوی په اسلامي امت کې د مؤمنانو په نسبت داسې تګلارې ټاکلي لکه کفارو چې د خپل کفري رعیت لپاره ټاکلي دي﴾.

**ج:** د کفارو د ټولنیز ژوند څخه تقلید: وضعي قوانین په اسلامي امت کې د کفارو د ټولنیز ژوند تقلید ده. ﴿ لکه همدا مهال چې مسلمانانو د کفارو د بشري حقوقو پیروي او د ښځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نرانو د فاسدو مساواتو کفري اصول منلی او د هغوی د اړوندو قوانینو پیروي یې پیل کړي﴾.

**د:** د کفارو د سیکولر اقتصادي نظام تابعداري (د سیکولر ددې رکن تفصیل به په وروستیو صفحو کې راشي).

او په ډیرو نورو برخو کې د وضعي قوانینو منل چې یو مؤمن د کفارو اطا عت ته وربرابروي پداسې حال کې چې الله عزوجل فرمايي چې:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ [آل عمران:١٤٩]**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی که چیرې تاسو د کافرانو خبره ومنئ ﴿نو﴾ هغوی به تاسو ﴿له اسلامي شریعت څخه﴾ په شا وګرځوي بیا به تاسو داسې شئ چې تاوانیان به یئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 4. الهي شریعت نیمګړی بلل:

هر څوک چې د الله عزوجل د موجود قانون په مقابل کې د بل قانون پیروي او متابعت ته ترجیح ورکړي حتماً د الله سبحانه وتعالی شریعت او قانون ورته نیمګړی ښکاري چې دا کار هم کفر او د قرآن تکذیب ده ځکه الله عزوجل په سورة المائدة کې فرمایلي چې:

**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا [مائدة:٣]**

**ژباړه: نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دین مکمل کړ او په تاسو باندې مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما تاسو لپاره اسلام د دین په توګه خوښ کړ.**

خو سیکولران چې د وضعي قوانینو بندګي کوي په حقیقت کې الهي شریعت نیمګړی بولي او دعوې لري چې مونږ د خپل ژوند لپاره پوره قوانین پخپل لاس ښه جوړولی شو.

## 5. له اسلامي شریعت څخه کرکه لرل:

سیکولران چې د الله عزوجل د قانون او شریعت په موجودګي کې خپلو وضعي قوانینو ته غوره والی ورکوي حقیقت داده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د الله عزوجل له قانون او شريعت څخه کرکه لري، که د معلوماتو لپاره دوی لږ په حوصله راوغږوي همدا اقرار به په خپلو غوږونو ترې واورې، پرته لدې چې تا يې يادونه کړې وي سترګې به راوباسي او په لاسو به خبرې پيل کړي چې د غله لاس قطع کول نن څوک درسره مني؟ د انسان رجم کول د بشري حقوقو خلاف ده او په نورو شکلونو به دوی د الله عزوجل له شريعت څخه د کرکې اظهار وکړي او بالمقابل دوی تل ليدل شوي چې د کفارو د جاهلو اصولو دفاع کوي مثلاً دوی تل همدا وايي چې: د بشري حقوقو متابعت او منل څه پروا لري؟ څه مشکل ده پکې؟ وغيره....دوی به د کفري اصولو داسې تزکيه شروع کړي ته به وايې چې د الله عزوجل په شريعت کې د انسانانو لپاره هيڅ بشري حقوق ندي مراعت شوي والعياذبالله، او دا کار کفر او له اسلام څخه وتل دي څکه الله عزوجل فرمايي:

**ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ [محمد:٩]**

**ژباړه: دا ځکه چې يقيناً دوی هغه ﴿قرآن﴾ بد ګڼلی ده چې الله عزوجل نازل کړی ده نو هغه ﴿الله﴾ ددوی عملونه برباد کړل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. اسلامي شريعت زمانې سره نامناسب بلل:

د وضعي قوانينو سيکولر بندګان د وضعي قوانينو د متابعت له امله بل مرض په زړه کې دا لري چې دوی د الله عزوجل شريعت او قانون له نن زمانې سره نامناسب بولي، دوی ته چې د الله عزوجل د شريعت وويل شي فوراً د اسلامي شريعت په نسبت د زړه شکونه رابرسېره کړي چې: اوس نوي وسايل راوتلي او جديدو احکاماتو ته اړتيا ده نو بايد خودساخته قوانين وضع شي تر څو مسايل راوپوښي، دوی د خپل همدې کفر لپاره کله د الوتکو مثالونه ورکوي، کله د موبايل او کله د نورو جديدو وسايلو پداسې حال کې چې دا عقيده لرل کفر او د قرآن تکذيب ده ځکه الله عزوجل فرمايلي:

**وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿سبأ: ٢٨﴾**

**ژباړه: او ته مونږ نه يې لېږلی مګر د ټولو خلکو (د هرې زمانې انسانانو) لپاره زېری ورکوونکی او وېره ورکوونکی خو ډېر خلک نه پوهيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه الله تعالی فرمايي:

**وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِينَ [سُورَةُ النَّحل : 89]**

**ژباړه: چې موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چې په ډاګه ښکاره د هر شي څرګندوونکی دی. او د هغو خلکو لپاره هدايت، رحمت او زيری دی چې د امر منني غاړه يې ايښې ده.**

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي چې:

**وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ (سورة الأنعام. ٣٨)**

**ژباړه: او نشته په ځمکې کې کوم ساکښ او نه يو مارغه چې په وزرونو الوځي مګر ستاسو په څېر امتونه، موږ پدې کتاب کې هيڅ شی ندی پريښی، بيا به دوی د خپل رب په طرف ورجمع کولی شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پداسې حال کې چې د اسلامي شريعت نظريات او عقايد له هر عصر سره متوازنې او برابرې ثابتې شوي تر دي چې هغه نظريات چې کفارو د خپلو جعلي اسنادو په مټ د ساينس په جامه کې يې د تکذيب هڅې کړي هم دروغجنې او د اسلامي شريعت خبرې صحيح ثابتې شوي چې لدې جملې د ځمکې د گول بللو مشهوره نظريه د مثال په ډول يادولی شو چې پدې اړه قرآن پرې برلاسی او د کفارو نظريات غلط ثابت شوي.[1]

## 7. د غيرالله د رضا طلب کول:

د سيکولر وضعي قوانينو په وضع کولو کې هدف د الله عزوجل رضا نه بلکې د عام اکثريت رضايت ترلاسه کول وي ځکه په سيکولر چوکاټ کې هغه قوانين وضع کيږي چې د خلکو د نفسي خواهشاتو ځواب وي نه دا چې د الله سبحانه وتعالی د رضا سبب وي او دا کار د مؤمنانو خوی نه بلکې د مؤمنانو په اړه الله تعالی فرمايي چې:

[1] پدې اړه د ستورو د شيطانانو رساله وگورئ چې پکې له شواهدو او ثبوتونو سره نقلي او عقلي بحث بيان شوی او د ځمکې د شکل، سپوږمۍ ته د کفارو د ختلو دعوې او ددوی د نورو نظرياتو مستند ترديد او تشريح پکې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿المائدة: ٥٤﴾

ژباړه: ای هغو خلکو چې ایمان مو راوړی ده، په تاسو کې چې څوک د خپل دین (الهي قانون او شریعت) څخه مرتد شي نو ژر ده چې الله به داسې خلک راولي چې هغه ﴿الله﴾ به له دوی سره محبت کوي او دوی به د هغه ﴿الله﴾ سره محبت کوي، په مؤمنانو به ډېر نرمي کوونکی وي او په کافرانو باندې به ډېر سخت وي، د الله سبحانه وتعالی په لاره کې به جهاد کوي او د هېڅ ملامت کوونکي له ملامتيا څخه به نه ویرېږي، دا د الله سبحانه وتعالی فضل ده چا ته چې وغواړي هغه ته يې ورکوي او الله ډېر د فراخۍ والا بنه پوه ذات ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 8. د طاغوت عبادت:

په سيکولر وضعي قوانينو کې د الله عزوجل د عبادت په ځای د طاغوت عبادت کيږي ځکه طاغوت هغه چاته وايي چې خپل طاعت ته خلک وربولي، او د وضعي قوانينو فرعونيان او فرعون خاني په مستقيم ډول همدې کار ته خلک وربولي تر څو د الله سبحانه وتعالی له بندګي راوګرځي او ددوی د قوانينو عبادت وکړي، الله عزوجل په دين د پاتې کېدو لپاره له طاغوت څخه د بېزاري امر کړي او فرمايلي يې دي چې:

**فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿البقرة: ٢٥٦﴾**

**ژباړه: نو چا چې د طاغوت نه انکار وکړ او په الله عزوجل يې ايمان راوړ نو يقيناً ده ډېره مضبوطه کړۍ ټينګه ونيوله چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته او الله ښه اورېدونکي ښه پوه دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 9. تحاکم الی الطاغوت:

د وضعي قوانينو له امله بله ګمراهي تحاکم الی الطاغوت ده چې رامنځته کيږي، د سيکولر وضعي قوانينو د متابعت له امله په سيمه کې د تحاکم الی الطاغوت لپاره لاره هواريږي او عوام هم خپلې فيصلې او عريضې وروړي چې دا کار خلک د کفر په فتنه کې واقع کوي، کفري قوانينو ته فيصلې وروړل کفر ده ځکه الله سبحانه وتعالی فرمايلي چې:

**أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْأُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا [النساء:٦٠]**

**ژباړه: آيا تا هغه کسان ندي ليدلي چې دا دعوې کوي چې دوی په هغه څه (قانون او شريعت) ايمان راوړی ده چې تاته نازل شوی ده او په هغه څه چې له تانه مخکې نازل شوي دي، دوی غواړي چې خپلمنځي فيصلې (د) طاغوت (قانون او شريعت) ته يوسي حال دا چې دوی ته له هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څخه د انکار کولو حکم شوی او شيطان غواړي چې دوی بې لارې کړي په ډيرې ليرې ګمراهۍ سره.**

### 10. له کفارو سره مشابهت:

وضعي قوانين حکومتونه او نظامونه په مکمله توګه له کفارو سره مشابه کوي او حتی د هغوی له قوانينو يې دقيقاً متن راکاپي کوي او بيا يې په اسلامي امت تنقيذوي چې دا کار هم لويه ګمراهي ده ځکه دا له کفارو سره تش انفرادي مشابهت نه بلکې د هغوی اطاعت او هغوی سره موالات او دوستي کول دي، او الله سبحانه وتعالی فرمايلي چې:

**وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿الحشر: ١٩﴾**

**ژباړه: او تاسو د هغو کسانو په څېر مه کيږئ چې الله عزوجل يې هير کړی نو الله له دوی نه خپل ځانونه هير کړل همدغه کسان نافرمانه دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه الله تعالی فرمايي:

**وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [مائدة:٥١]**

**ژباړه: او په تاسو کې چې چا له دوی سره دوستي وکړه نو يقيناً هغه له همدوی څخه ده، بېشکه الله ظالم قوم ته نيغه لار نه ښايي.**

همدارنگه په يو حديث کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل شوي چې:

**عن عبد الله بن عمر -رضي الله عنهما- عن النبي -صلى الله عليه وسلم-قال: «من تَشبَّه بقوم, فهو منهم».[2]**

**ژباړه:  د عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې د کوم قوم سره مشابهت وکړ دا هم له هغوي څخه شو.**

سيکولر وضعي قوانينو په اسلامي امت کې د کفر، شرک او گمراهيو پورته لس ډوله فتنې راپيدا کړي چې له امله يې

[2]أخرجه أبو داود وأحمد  مطولاً.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤمنان د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه ليرې شوي، د الله تعالی د شريعت او قانون حدود معطل او امت د پراخ فساد لوري ته تللی، دا پداسې حال کې ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د شرعي حدودو اقامه د برکتونو سبب بللی او فرمايلي يې دي چې:

**عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال حدٌّ يُعمَلُ في الأرضِ، خيرٌ لأَهلِ الأرضِ من أن يُمطَروا ثلاثينَ صباحًا. رواه النسائى (صحيح)**

**ژباړه: له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د الله د حدودو څخه چې يو حد پر ځمکه قائم شي د ځمکې والا لپاره له دې غوره ده چې پر هغوي ديرش ورځې باران وشي.**

سيکولرانو د الهي حدودو د اقامې په ترک او د وضعي قوانينو په عبادت ځانونه د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه ليرې او د هغه د غضب وړ ګرځولي دي، په وضعي قوانينو استوار همدا طرز حاکميت چې پرته د الله سبحانه وتعالی له قانون څخه په نورو قوانينو فيصلې کوي، له غله لاس نه قطع کوي او زاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



رجم کوي نه د امريکې د پروژې مهم رکن ده او د همدې اصل په اساس به يو څوک نن پېژندل کيږي چې هغه يو مؤمن ده او که د امريکې د پروژې يو سيکولر ځناور ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکې د پروژې دوهم رکن: ﴿سیکولر وطنیت﴾

د امریکې د پروژې ﴿سیکولریزم﴾ دوهم رکن وطنیت ده چې پرته لدې ډیموکراسي یا جمهوریت او په ټوله کې د سیکولریزم پلي کېدل ناممکن دي، دا چې د وطنیت په جهل پورې کوم کوم مفسدات تړلي، کفارو ته یې څه گټې او اسلامي امت ته یې کوم کوم زیانونه رسېدلي عمده مثالونه به ئې وروسته ذکر شي خوله هر څه دمخه به په اسلامي امت کې د کفارو له لوري په یادو کش کړل شوو کربښو په تاریخچې څو جملې ولیکو تر څو جوته شي چې آیا یادې کربښې په طبیعي ډول په اسلامي امت کې د مسلمانانو په خوښه او د خپلمنځي تعاملاتو په ترځ کې راپیدا شوی او که دا کربښې کفارو په اسلامي امت کې د امت د افتراق لپاره کش کړي؟!

په اسلامي امت کې وطني کش کړل شوې کربښې د مسلمانانو په خوښه نه دي کش کړل شوي او نه دا کربښې د مسلمانانو د خپلمنځي تعامل زېږنده ده بلکې دا کربښې کفارو د اسلامي واحد امت او د اسلامي خلافت د ماتولو او له منځه وړلو په صورت کې کش کړي دي، ددې کربښو موجودیت د اسلامي امت لپاره د کفارو د برلاسي له ټولو لوی داغ، ننگ، شرم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیرت ده ځکه یادې کړښې د عثماني خلافت چې د مسلمانانو امپراتوري بلل کېده هغه که هر ډول خلافت ۀ د شکست او له منځه تللو له امله راپیدا شوي، د مسلمانانو په ظاهر واحده رهبري او خلافت که هغه هر ډول وه کله چې له منځه لاړه نو کفارو اسلامي امت ته د وړو لېوانو په څېر راوانګل او د هغه په تقسیمولو یې پیل وکړ چې دا تقسیم د بریتانیا او فرانسې تر منځ د سایکس – پیکو په نوم ونومول شو، ددې تقسیم د نوم وجه د مارک سایکس بریتانیایي او ژرژ پیکوی فرانسوي د نومونو له امله په کال ۱۹۱٦م کې د اولې نړیوالې جګړې په ترڅ کې وشو.

کفارو ددې توافق په مټ وکولی شول چې د اسلامي امت واحده جغرافیه په حصو حصو تقسیم کړي، د مسلمانانو مشترک اقتصادي، سیاسي او نظامي مصالح ټوټه ټوټه کړي او هر یو په جدا جدا ډول خپل اطاعت ته لاس په نامه ودروي او دوی مجبور کړي چې د هغوی اصول پخپل ځان تطبیق کړي، هر فرعوني جهت د ځان لپاره یوه جغرافیه منسوبه کړه، ماوراء النهر، فارس او ځینې نورې سیمې لکه شام وغیره روسانو او چینایانو واخیستې او همدارنګه غربیانو هم خپله برخه پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومه کړه او بيا ټولو کفارو خپله واحده رهبري د بين الملل په عنوان په کال ۱۹۴۵م کې تعين او (امريکا، فرانسه، برتانيه، روس او چين) ددې مشترکې دارالندوة د دائمي غړو په څېر وپېژندل شول، او د اسلامي امت اتحاد هغه نعمت ؤ چې د اسلامي خلافت په جامه کې بايد مؤمنانو لرلی وای خو په عين فکر هغه کفارو د ځان لپاره جوړ کړ او نوم يې پرې ملل متحد يا بين الملل کېښود.

اوس د مسلمانانو ټول وطني نظامونه له همدې آدرس څخه اداره کيږي، ټول فرعوني جهتونه چې د بين الملل د دائمي غړو په صفت پېژندل کيږي د اسلامي امت لپاره اصول وضع کوي او د اسلام په نوم يې پخپلو ناستو وطني مرتدينو تطبيقوي.

د کفارو تر منځ د محمد صلی الله عليه وسلم د ځمکې دې تقسيم او شکست ته اعتقاد او دا شکست منل د همدې وطني کړښو په منلو سره کيږي چې دا ډير لوی شرم ده، هغه وطني ډلې چې د جهاد او اسلامي نظام دعوې د کفارو له وطني اطاعت سره کوي شرم ورته پکار ده ځکه په دوی نوره د حماقت، بې خبري او غلامي انتهاء راغلې ده، دوی خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويني بهوي تر څو د کفارو د ۱۹۱٦م کال د توافق کلمه په اسلامي امت کې لوړه شي او هغه ته په اسلامي امت کې د عمل جامه ورواغوندي او د اسلامي امت همغه ټوټه کېدل او حصه کيدل ژوندي وساتي.

د سيکولر وطنيت بندگانو ته وايو چې تاسو د وطنيت په پليده عقيده کې د اسلامي امت لپاره څه گټې ليدلي او د کفارو لپاره مو څه زيانونه پکې ليدلي چې پدې باطل فکر پورې نښتي ياست؟ درياد کړئ هغه شان او شوکت چې په ترخ کې يې ټول اسلامي امت د واحد امير، خلافت او خليفة المسلمين د قيادت لاندې يوه جغرافيه او يوه خبره شي، د مسلمانانو تر منځ ټول اقتصادي، سياسي او نظامي مصالح مشترک شي، اسلامي امت يو موټی او ټوله نړۍ يې په مقابل کې د پخوا په څېر عجز اختيار کړي دا ښه ده او که ستاسو د وطنيت متفرق غارونه چې پکې پراته ياست؟

دا چې د کفارو ياد توافق او د اسلامي امت په ټوټه کولو کې اسلامي امت ته څه زيانونه اوښتي يو يو به د فرعي عنوانونو په ترخ کې ان شاءالله بيان کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په سيکولر وطني عقيده کې موجود مفسدات:

الله سبحانه وتعالی ټول مسلمانان (اسلامي امت) يو او واحد امت بللی او پدې اړه يې فرمايلي چې:

**إِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ ﴿الأنبياء: ٩٢﴾**

**ژباړه: يقيناً ستاسو امت په حقيقت کې ايکي يو امت ده او زه ستاسو رب يم نو عبادت مې وکړئ.**

خو متأسفانه له غربي افکارو څخه د اطاعت له امله د اسلامي امت واحد جسد په ټوټو او حصو تقسيم شوی او اوس په اسلامي امت کې هغه وياړ او امتياز نده ورپاتې شوی کوم يې چې بايد لرلی وای.

سيکولر وطني عقيدې ته ولې کفر او شرک وايو؟ کفر ځکه ورته وايو چې وطنيت د سيکولر کفري دين يو اساسي رکن او منل يې د کفارو اطاعت ده او شرک يې ځکه بولو چې نن خلک ددغه جهل داسې عبادت کوي لکه د الله چې عبادت کيږي، د همدې لپاره جنګيږي، د همدې لپاره له يوه چا سره دوستي او دښمني کوي او د خپل وطن د کلمې د لوړاوي لپاره خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانونه، اولادونه او مالونه قربانوي، هر څوک چې ددوی سیکولر وطنیت ته ګټه رسوي هغه د وطنپرست په عنوان ښه سرې یادیږي او هر څوک چې ددوی سیکولر وطني مصالحو ته زیان رسوي له هغوی سره دوی دښمني کوي او له ټولو بد یې یادوي او له هغه سره بیا داسې معامله کوي لکه اسلام یې چې د کافر په نسبت ښيي.

علاوه لدې چې دا عقیده د سیکولر کفر یو اساسي رکن او د کفارو اطاعت ده بلکې پدې کې نور هم بعضې مفسدات شته چې د فرعي عنوانونو په ترڅ کې به ئې یو یو ذکر کړم، د یادولو وړ ده چې یاد مفسدات نن د مسلمانانو په مقابل کې جنګېدونکي معنویات دي او منل یې د طاغوت عبادت او ترې بېزاري کول توحید او د یو د الله سبحانه وتعالی د عبادت معنی لري.

## 1. د سیکولر وطنیت د عقیدې له امله د کفارو اطاعت:

هر څوک چې وطني فکر لري هغه به ضرور د کفارو اطاعت کوي، د وطنیت عقیده تش تر خبرو او یو څو شعارونو پورې نده محدوده بلکې لدې سره ډیر ډیر مفسدات تړلي چې یو له هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د کفارو اطاعت ده ځکه وطني کربښې همدې کفارو د بین المللي سرحداتو په عنوان رسم کړي او مسلمانان يې اطاعت ته د وسلو په زور وربولي، که وطني اصول ورسره ومنل شي دوی سوله او دوستي ورسره کوي او که دا ورسره ونه منل شي نو د ټولې نړۍ کفار به يې په ضد نظامي ائتلافونه کوي، نو لدې کربښو او وطنيتونو څخه متابعت په حقيقت کې له کفارو څخه اطاعت ده او الله سبحانه وتعالی فرمايلی چې:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ [آل عمران:١٤٩]**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی که چيرې تاسو د کافرانو خبره ومنئ ﴿نو﴾ هغوی به تاسو ﴿له اسلامي دين، قانون او شريعت څخه﴾ په شا وګرځوي بيا به تاسو داسې شئ چې (د قيامت په ورځ به) تاوانيان يئ.**

د الله سبحانه وتعالی د کلام په اساس هر څوک چې د کفارو د اطاعت په چوکاټ کې کوم کار ترسره کوي د هغه د اعمالو د ضايع کېدو له امله به دا کس د آخرت په ورځ له تاوانيانو څخه وي، سره لدې که دا عمل د جهاد په نوم وطني جګړې وي، يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې لاره کې هلاکت او يا زخمي کېدل، د نه قبلېدو له وجې به يې عمل کوونکی د قيامت په ورځ هيڅ گټه نه ترلاسه کوي.

## 2. سيکولر وطنيت د اسلامي اخوت د له منځه تللوسبب:

سيکولر وطنيت منل په حقيقت کې د ټول اسلامي اخوت له ترون څخه ځان شلول او له هغه څخه په شعوري ډول انکار ده، ځکه پدې عقيده کې به ته له هغه چا سره مشترک اقتصادي، نظامي او سياسي مصالح لرې چې هغه ستا وطندار وي سره لدې که هغه نصراني، يهودي او هندو وي او غير له هغه به د ټولې نړۍ له مسلمانانو څخه ستا مصالح پردي او جدا وي، بلکې د کفارو د لزوم ديد په اساس به ته بل مسلمان ته جاسوس هم ورلېږې تر څو يې سياسي او نظامي جاسوسي وکړې او خپل وطني مصلحتونه پرې خوندي کړې.

دا پداسې حال کې ده چې الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته د ورورگلوي معيار ايمان لرل په گوته کړې او فرمايلي يې دي چې:

**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴿الحجرات: ١٠﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: بېشکه همدا خبره ده چې مؤمنان خو سره ورونه دي، نو تاسو د خپلو ورونو تر منځ اصلاح راولئ او له الله څخه وويرېږئ، ددې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي.**

پدې مبارک آيت کې الله تعالی د بل انسان د خيرخواهي لپاره د ايمان لرلو معيار ټاکلی نه کوم وطن او مشترکه جغرافيه، همدارنګه الله عزوجل فرمايي چې:

**إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُونَ [سُورَةُالمَائدة : 55]**

**ژباړه: ستاسې ملګری خو په حقيقت کې يوازې الله، او د الله پېغمبر او هغه مؤمنان دي چې لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله په وړاندې سرټيټوونکي وي.**

پدې مبارک آيت کې الله عزوجل د مؤمنانو د ملګرتيا لپاره بيا هم ايمان والا خلک په ګوته کړي، نه وطن او وطنداران، حديث کې له رسول الله صلی الله عليه وسلمڅخه نقل شوي چې:

**عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ ، عَنْ جَدِّهِ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :«الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دِمَاؤُهُمْ. يَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ، وَيُجِيرُ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ، وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ يَرُدُّ مُشِدُّهُمْ عَلَى مُضْعِفِهِمْ، وَمُتَسَرِّيهِمْ عَلَى قَاعِدِهِمْ» رواه ابوداود (حسن).**

**ژباړه: عمر بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه څخه روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د مسلمانانو وينه له يو او بل سره برابره ده، هغوی په وعدې او بيعت کې برابر دي، له ټولو ليرې مؤمن څخه بايد ساتنه وشي، هغوی د تجاوز کوونکو په مقابل کې يو لاس وي، د مؤمنانو قوي به د کمزوري څواب وي او جنگېدونکی به يې د ناست څواب وي.**

سبحان الله، رسول الله صلى الله عليه وسلم په څومره واضح تفسير ټول مؤمنان نړيوال اخوت ته وربللي او پخپل منځ کې يې د بې کچې ترحم او ټرون نصيحت ورته کړی؟ خو افسوس د سيکولر وطنيت د جهل په پيروانو چې له ديني او شرعي معنوياتو يې ځان پردی او کفر ته يې نژدې کړی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3. سیکولر وطنیت د اسلامي امت د ضعف سبب:

له هغه وخته چې مسلمانانو سیکولر وطنیت منلی له امله یې په بې ساري ډول د ضعف لوري ته سوق شوی ځکه یو او واحد جسد په مختلفو جغرافیو، ځمکو او ټوټو ویشل شوی، واحد سیاسي، اقتصادي او نظامي مصالح او واحده رهبري په برخو برخو او فرقو فرقو تقسیم شوې نو څرنګه به دا امت د ضعف، ماتېدلو او پارچه کېدلو لوري ته زوال نه مومي؟ الله عزوجل فرقه کیدل پخپل کلام کې الهي عذاب بللی او پدې اړه یې فرمایلي چې:

قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴿الأنعام:٦٥﴾.

ژباړه: ته ﴿دوی ته﴾ ووایه، ،هم هغه (الله) پدې قادر ده چې تاسو باندې ستاسو له پاسه عذاب راولیږي یا ستاسو د پښو د لاندې طرف نه، یا تاسو د بېلو بېلو ډلو ﴿وطنونو او فرقو﴾ په جوړولو سره ګډوډ کړي او په ځینو باندې د ځینو نورو ﴿د﴾ جنګ ﴿مزه﴾ وڅکي، ته وګوره مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځرنګه قسماقسم آيتونه بيانوو تر څو دوی وپوهيږي.**

او په اسلامي امت کې د افتراق معاصره فتنه همدا د سيکولر وطنيت فتنه ده چې په مسلمانانو مسلطه شوې او سره لدې چې ټول يو امت او د يوه اسلام پيروان دي خو ځانونه يې په جهل تقسيم کړي هغه جهل چې الله عزوجل د ډېرو بدو خلکو خاصيت بللی ده، نعوذبالله من ذلک.

## 4. د سيکولر وطنيت د منلو له امله د اسلامي امت مشترک مصالح له منځه تلل:

د سيکولر وطنيت له امله د اسلامي امت نظامي، اقتصادي او سياسي مشترک مصالح هم په حصو حصو تقسيم شوي او بالمقابل کفارو د خپل ځان د حمايت لپاره پخپل صف کې ودرولي، مسلمانان له نظامي، اقتصادي او واحد سياسي ځواک څخه محروم او پدې ډګر کې د نورو اطاعت ته مجبور شوي او دا ټولې بدبختياني اسلامي امت ته د همدې وطني عقيدې له امله راواردې شوې چې متأسفانه نن يې خلک د اسلام په نوم مني او لدې جهل څخه د دفاع لپاره داسې وينې بهوي لکه مؤمنان ئې چې د اسلام لپاره بهوي، نن سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطنپرست ته خلک ښه انسان وائي او دا د ښو خلکو له صفت څخه بلل کیږي پداسې حال کې چې منل یې د یوه پردي او کفري دین رکن منل دي او پرته له اسلامه بل دین الله عزوجل ته د منلو نده[3] ځکه پرته له اسلامه نور ټول اصول په کفري او جاهلي شریعت ولاړ اصول دي، د غیر اسلامي تګلارو په لاره کې هر عمل الله سبحانه وتعالی ته د قبلولو نده سره لدې که د همدې وطنیت لپاره جهاد کول او ځان قربانول هم وي خو په آخرت کې به د نه قبلېدو له امله دا کس له تاوانیانو څخه وي.

## 5. سیکولر وطنت اسلامي امت لپاره د واحد امیر له قیادت څخه محرومیت:

سیکولر وطنیت سبب ګرځېدلی چې اسلامي امت د واحد امیر له شتون څخه محروم شي او د کفارو په نورمونو برابر غله او ډاکوان د مسلمانانو د چارو په تنظیم لاس پورې کړي، دا پدې معنی چې اسلامي امت د سیکولر وطنیت له امله له هغه

[3] آل عمران ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعمت څخه محروم ده چې په اړه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:و انما الأمام جنة يقاتل من ورائه ويتقى به ﴿متفق عليه﴾**

**ژباړه: له أبي هريرة رضي الله څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او د مسلمانانو امام ﴿خليفة المسلمين﴾ ﴿د اسلامي امت لپاره﴾ یو ډال ده چې له شته یې جګړه کیدی شي او شا ته یې ﴿د کفارو له اضرارو او حملو﴾ څخه ځان بچ کېدی شي.**

خو د اسلامي امت دا ډال او دفاعي برج د سیکولر وطنیت له امله له منځه تللی او د واحد امیر په ځای د امت قیادت د مرتدینو او شهوت پرستو څناورو لاسونو ته لویدلی.

## 6. سیکولر وطنیت د اقدامي جهاد د ترک کیدو سبب:

سیکولر وطنیت په اسلامي امت کې د اقدامي جهاد د ترک لوی سبب ده، هغه جهاد چې الله سبحانه وتعالی یې په اړه فرمایلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [انفال : ۳۹]**

**ژباړه: او له هغوی سره تر هغو جنګ وکړئ چې هېڅ فتنه پاتې نشي او ټول دين ﴿قانون او شريعت﴾ يوازې او يوازې الله لره شي، نو که دوی ﴿د وضعي قوانينو له پيروي﴾ څخه منع شول نو الله د هغو اعمالو ښه ليدونکی ده چې دوی يې کوي.**

او دا ځکه چې د وطني اصولو په اساس هيڅ وطني سيکولر په بل کې د مداخلې حق نلري سره لدې که په بل ځای کې مؤمنان د کفارو د تيري لاندې وي خو هيڅوک حق نلري چې دفاع ته يې ورشي بلکې د هغوی په نسبت يوازې د لفظي اعتراضونو، ژړاګانو او مظاهرو حق مسلمانانو ته ورکول شوی چې دا ډېر ټيټ او ذليل حالت ده، الله عزوجل دې د وطنيت پليده عقيده د اسلامي امت له منځه ورکه کړي.

## 7. سيکولر وطنيت د هجرت د ترک کيدو سبب:

هجرت هم چې يوه عظيمه وجيبه ده د سيکولر وطنيت له امله په مسلمانانو کې تقريباً هيره او ترک شوې ده ځکه د سيکولر وطني اصولو مطابق هر څوک چې د تروريستي اعمالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿جهادي کړنو﴾ په نيت له پولو څخه تګ راتګ وکړي هغوی ته له شلو تر ديرشو کلونو قيد يا اعدام ورکول کيږي، همدې سيکولر او کفري قوانينو ته التزام لرل په اسلامي امت کې د هجرت د ترک سبب ګرځېدلی او يو مؤمن اوس صلاحيت نلري چې خپل بل مؤمن ورور ته پخپل ځای کې له کوم ظالم څخه پناه ورکړي او دا بدبختي اسلامي امت ته د همدې وطني عقيدې له امله راغلې او دا پداسې حال کې ده چې الله عزوجل مهاجرينو ته د پناه ورکولو امر کړی او فرمايلي يې دي چې:

**إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ**

**﴿الأنفال: ٧٢﴾**

**ژباړه: بېشکه هغه کسان چې ايمان ئې راوړی او هجرت ئې کړی او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې يې په خپلو ځانونو سره جهاد کړی ده او هغه کسان چې ﴿مهاجرينو﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې ځای ورکړی ده او مرسته یې ورسره کړې دغه کسان یو تر بله دوستان دي او هغه کسان چې ایمان یې راوړی ده او هجرت یې نه ده کړی ستاسو لپاره د هغوی له دوستۍ نه هیڅ شی نشته تر هغه پورې چې دوی هجرت وکړي او که چیرې دوی له تاسو په دین کې مرسته وغواړي نو په تاسو باندې مدد کول لازم دي مګر د هغه قوم په خلاف نه چې ستاسو او د هغوی په منځ کې معاهده وي او الله عزوجل هغو کارونو لره چې تاسو یې کوئ ښه لیدونکی ده.

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمائي چې:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿الأنفال: ٧٤﴾

ژباړه: او هغه کسان چې ایمان یې راوړی ده او هجرت یې کړی ده او د الله په لاره کې یې جهاد کړی ده او هغه کسان چې ﴿مهاجرینو ته یې﴾ ځای ورکړی ده همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کسان په حقه مؤمنان دي، ددوی لپاره بخښنه او ډیر د عزت رزق ده.**

همدارنګه الله عزوجل د هجرت د همدې سیکولر تارکینو په اړه فرمایلي چې:

**إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا [سُورَةُ النِّسَاء : 97]**

**ژباړه: کومو خلکو چي پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه کولو) ظلم کاوه ملائکې به له هغو څخه  د ساه اخیستلو په وخت کښي پوښتنه کوي چي: تاسي په څه حال کښي اخته وئ؟ هغوی به وايي چي: موږ په ځمکه  کښي کمزوري او مجبور وو، ملائکې به ووايې: ایا د الله ځمکه پراخه نه وه چي تاسو په هغې کې هجرت کړی وای؟ - دا هغه خلك دي چي استوګنځی یې دوزخ ده او هغه ډېر بد استوګنځی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مونږ له الله سبحانه وتعالی څخه د هغه قانون او شريعت له منلو پناه غواړو چې اساسات يې د هجرت په ترک بناء وي.

## 8. سيکولر وطنيت د جهاد د بې فايدې کيدو لامل:

سيکولر وطنيت د کفري سيکولر دين له ارکانو څخه يو رکن ده چې پدې لاره کې د الله لپاره هر ډول عمل الله عزوجل ته د منلو نده ځکه الله عزوجل فرمايلي چې:

**وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴿آل عمران:٨٥﴾**

**ژباړه: او څوک چې غير له اسلامه بل دين (قانون او شريعت) ولټوي هېڅکله به ځنې قبول نشي او هغه به په آخرت کې (د هغه د اعمالو د نه قبلېدو له وجې) له تاوانيانو څخه وي.**

نو د همدې آيت په اساس هر څوک چې د وطنيت په چوکاټ کې جګړې کوي هغه د الله عزوجل په نزد د قبلېدو ندي سره لدې که پکې ووژل شي، که پکې زخمي شي او که لوږه پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیره کړي خو د قیامت په ورځ به د یادو اعمالو د نه قبلېدو له وجې به هغه له تاوانیانو څخه وي.

د وطني عقیدې تر څنګ که کوم څوک د اسلام په نوم جګړې کوي هغه بې معنی او د جهاد په ځای به یې په جاهلي جګړو کې برخه اخیستې وي ځکه د وطنیت لپاره جنګېدل قتال في سبیل الطاغوت ده او په اړه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې:

**عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "مَنْ خَرَجَ مِن الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الجماعةَ فمات ماتَ مِيتةً جَاهلية، وَمَنْ قَاتلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّة، يَغْضَبُ لِعَصَبَة، أو يَدْعُو إِلى عَصبةٍ، أو يَنْصُرُ عَصَبَة، فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ..[ مسلم]**

**ژباړه: له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د امیر د طاعت څخه ووته او یا د مسلمانانو له جماعت (خلافت) څخه جدا شو مرګ یې د جاهلیت ده او چا چې د ړانده (وطني) بیرغ لاندې جګړه وکړه، د عصبیت (قوم پرستي او وطنپرستي) لپاره په غصه کیده، هغه ته یې خلک**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دعوت کړل او یا یې د تعصب (وطن) په جګړو کې د بل مرسته وکړه او ووژلی شو نو مرګ یې د جاهلیت (هلاکت) مرګ ده.**

کله چې د یو مبارز مرګ د جاهلیت شي نو د هغه په مبارزې کې به الله عزوجل څه برکت راولي او فایده به یې اسلام ته څه شي؟ معلومه خبره ده چې د اسلام په ځای به یې فایده د تعصباتو جهل (سیکولر وطنیت) ته رسېدلي وي بلکې د اسلام لپاره جهاد باید یوازې او یوازې د الله عزوجل د دین د کلمې د لوړوالي لپاره وي نه د وطنیت د بیرغونو د لوړاوي لپاره، لکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په یوه روایت کې چې راغلي:

**عَنْ أَبِي مُوسَى عَبْدِاللهِ بْنِ قَيْسٍ الْأَشْعَرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم عَنِ الرَّجُلِ يُقَاتِلُ شَجَاعَةً، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً، وَيُقَاتِلُ رِيَاءً؛ أَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ»؛ متفق علیه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: له ابي موسى عبد الله بن قيس الاشعري رضي الله عنه څخه روايت ده چې هغه وفرمايل چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د هغه سړي په باره کې پوښتنه وشوه چې د شجاعت (ښودلو) لپاره جنگ کوي، بل د قومي تعصب لپاره جنگ کوي او بل د ځان ښودنې (رياء) لپاره جنگ کوي (نو په دوى کې) کوم يو د الله عزوجل په لاره کې ده؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: هر چا چې د الله سبحانه وتعالى د کلمې د لوړاوي لپاره جگړه وکړه د هغه جگړه د الله په لاره کې جگړه ده.**

په همدې اساس د هغو خلکو جگړې د جهل جگړې دي چې د وطنيت لپاره يې کوي، هيڅکله يې گټه اسلام ته نه رسيږي بلکې که توبه ونه باسي نو د مرگ په صورت کې د تعصباتو په لاره کې هلاک او جهنمي ده او د همدوى په اړه دا فتوا د رسول الله صلى الله عليه وسلم فتوا ده چې **فقتل فقتلة جاهلية(نو که ووژلى شو نو مرگ يې د جاهليت (هلاکت) مرگ ده).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 9. سيکولر وطنيت د غيرالله لپاره د ولاء او براء سبب:

وطنپرستان تل د خپل وطن لپاره له خلکو سره دوستي او دښمني کوي، هر څوک چې ددوی سيکولر حدودو ته وفا لري هغه په ښه نوم يادوي او هر څوک چې ددوی سيکولر جغرافيې ته تاوان رسوي هغه په بد نوم يادوي، دوی د همدې وطن لپاره خپل مالونه، اولادونه او خپلې وينې ځاروي، پداسې حال کې چې يو مؤمن بايد ياد معنويات يوازې او يوازې الله لره خاص کړي، د الله عزوجل لپاره له يو چا سره محبت لرل يا ورڅخه بيزاري لرل د ايمان اصل ده او پرته لدې د يوه مؤمن ايمان نه صحيح کيږي ځکه الله عزوجل فرمايي:

**لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ [مجادلة:٢٢]**

**ژباړه: ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د آخرت ايمان ولري ﴿او بيا﴾ دوی له هغه چا سره دوستي وکړي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت يې کړی وي اگر چې دغه خلک ددوی پلرونه وي، يا ددوی زامن يا ددوی وروڼه يا ددوی قبيله وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي چې:

**وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِىِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَسِقُونَ [سُورَةُ المَائدة : 81]**

**ژباړه: که په رښتیا سره دا خلك د الله، پېغمبر او هغه څه منوونکي وای چې پر پېغمبر نازل شوي ول؛ نو هیڅکله به یې د مؤمنانو په مقابله کښې کافران خپل دوستان نه نیول؛ مګر له هغوی څخه زیاتره خلك د الله له اطاعت څخه وتلي (یعنې کافران) دي.**

په پورته مبارک آیت کې الله سبحانه وتعالی له هغه چا ایمان نفی کړی چې د الله او رسول سره له مخالفت کوونکو سره دوستي کوي، خو سیکولر وطنیان خپل همدا با ارزښته معنویت د وطنیت په اختیار کې ورکوي او د همدې په اساس له یوه چا سره دوستي او دښمني کوي، د خپلې خاورې هندو د بلې خاورې له مؤمن سره نه برابروي او خپل هندو ورته اعلی او افضل ښکاري یا له هغو کفارو سره د وطني سیکولر مصالحو د خوندیتوب لپاره د دوستي تړونونه امضاء کوي چې هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله او رسول په مخالفت کې له مؤمنانو سره په بل ځای کې دښمني کړې، دا خویونه له مسلمان سره نه ښايي بلکې دا د جهالت، کفر او شرک د توري دورې خویونه دي چې اسلام په کلکه مسلمانان ځینې منع کړي.

## 10. سیکولر وطنیت د اسلامي امت د تفرق سبب:

په اسلامي امت کې د افتراق معاصره فتنه همدا د وطنیت فتنه ده چې امت يې په ډلو او حصو تقسیم کړی، په اسلامي امت کې د فرقو ډول د پخوا په شان د مذهبونو او مسلکونو په اساس نه بلکې اوس د وطن په محدوده کې د مختلفو ادیانو پیروان هم ځانونه د یو او بل ورونه بولي او هغه اسلامي معیارونه هیر شوي چې الله سبحانه وتعالی مؤمنانو ته پخپل کلام کې بیان کړي، او په اسلامي امت کې د وطني افتراق معاصره فتنه هغه څه دي چې ټول امت يې د یو او بل په مقابل کې ودرولی او په منځ کې د کفارو اطاعت ته خلک لاس په سینه ولاړ دي، دا پداسې حال کې ده چې الله سبحانه وتعالی فرمايلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿آل‌عمران: ۱۰۳﴾**

**ژباړه: او تاسو (ټول اسلامي امت) د الله عزوجل په رسۍ (قرآن او سنت) منګولې خښې کړئ او (په وطنونو) سره مه بېلېږئ او د الله سبحانه وتعالی (هغه) نعمتونه درياد کړئ چې په تاسو باندې شوي دي، کله چې تاسو دښمنان وئ بيا الله عزوجل ستاسو د زړونو تر منځ جوړښت راوست نو د هغه په (دې) نعمت تاسو سره وروڼه شوئ او تاسو د اور نه ډکې کندې (د وطنپرستي، ډلبازی او تفرق) په غاړه وئ نو تاسو يې له هغه نه وژغورلی، همدارنګه الله عزوجل تاسو ته آيتونه بيانوي، ددې لپاره چې تاسو نېغه لار ومومئ.**

او په ډېرو نورو آيتونو کې الله سبحانه وتعالی له فرقه کېدو منع کړې او دا کار يې د پخوانيو اهل کتابو او مشرکانو کار بللی ده، الله عزوجل پدې اړه فرمايلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ [٣١] مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ [سُورَةُالرُّوم : ٣٢]**

**ژباړه: (ټينګ اوسئ پدې خبره باندي) د الله لوري ته رجوع کوونکي، او له هغه څخه ووېرېږئ، او لمونځ قائم کړئ، او د مشرکانو په څېر مه کېږئ! هغه مشرکان چي هغوی خپل دين (قانون او شريعت) حصه حصه کړی او په ډلو (وطنونو او فرقو) وېشل شويدي، له هري يوې ډلي (وطن) سره چي څه دي همغه ته خوشحال وي.**

## 11. سيکولر وطنيت د کفارو له لوري د مسلمانانو د لوبولو او خپلمنځي جنګولو وسيله:

له بل لوري کفارو د وطني حدودو په مټ له مسلمانانو د خپلو لوبو لوبغاړي جوړ کړي او په همدې عنوان يې په يو او بل نوم پخپلو منځو کې استخباراتي او سرحدي لوبې په نظامي، سياسي او فکري جامو کې ګرمې پرې ساتلي چي دا کار هم د مؤمنانو تر منځ له يو او بل څخه د ډېرې کرکې او نفرت سبب ګرځېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفار په اسلامي امت کې د مسلمانانو له وطني افتراق څخه په استفادې پخپل منځ کې جنگوي، لوبې پرې کوي او د اسلامي امت تر منځ يې د خپلمنځي کرکې د راپارولو يوه وسيله گرځولې ده چې ددې ژوندی مثال د افغانستان او پاکستان د سيکولر وطنونو په نوم د کفارو کش کړل شوې کرښې دي چې دواړه جهتونه يې د يو او بل وينو ته تږي گرځولي.

کفار خپل ياد شيطانتونه کله د استخباراتي جگړو په شکل په اسلامي امت کې پلې کوي او کله د مؤمنانو تر منځ وطني سرحدونه عنوان ټاکي او پدې نوم د فکري شيطانتونو او کرکې ډول ډول تخمونه شيندي او بيا د خپلې زوروړې مېډيا په مټ يادو لوبو او ډرامو ته انعکاسات ورکوي.

او د سيکولر وطنيت گڼ شمير نور مفسدات چې اسلامي امت يې له پراخې گډوډۍ، گمراهی او زوال سره مخ کړی، د سيکولر وطنيت عقيده لرل د سيکولر کفري دين رکن منل دي، معاصر کفار له مونږه نن د همدې جهل د منلو تمه لري نو په اساس يې ويلی شو چې هر چا د غربي پروژې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(سيکولريزم) اړوند وطني فکر درلود او هغه يې قبول کړی ؤ هغه د امريکې د پروژې يو بې ايمانه جاسوس ده.

## د قرآن له نظره د وطني عقيدې حيثيت:

الله عزوجل په خپل کلام کې مؤمنان وروګلوی او اتحاد ته بللي او له فرقه کېدو يې منع کړي، د زيات وضاحت لپاره غواړم پدې اړه د سورة حجرات څو آيتونه ذکر کړم، په سوره حجرات کې الله عزوجل فرمايي:

**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴿الحجرات: ١٠﴾**

**ژباړه: يقيناً مؤمنان خو سره وروڼه دي، نو تاسو د خپلو دواړو وروڼو په منځ کې سوله وکړئ او د الله نه ووېرېږئ تر څو په تاسو رحم وشي.**

الله عزوجل په پورته مبارک آيت کې د مؤمنانو د دائمي تړون، وروړګلوي او محبت معيار ايمان ښودلی او فرمايلي يې دي چېمؤمنان وروڼه دي، د انسانانو تر منځ يې د وروړګلوي معيار کومه مشترکه ځمکه، جغرافيه، قوم او وطن نده ښودلی بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فقط همدا ایمان لرل دي چې د انسانانو تر منځ یاد تړون رامنځته کوي، بیا الله عزوجل فرمایي چې همدې معیار ته په کتو د خپلو وروڼو په منځ کې خیر خواهي وکړئ، یعنې هر څوک چې په ایماني معنویت کې له تاسو سره مشترک و تر منځ یې اصلاح راولئ، یعنې دا کار باید د وطن، ځمکو او جغرافیو د اساساتو په ځای باید یوازې او یوازې په ایماني معیارونو استوار وي.

د همدې آیت په اساس نن په ټولو مؤمنانو د سیکولر وطني عقیدې پرېښودل واجب ګرځېدلي او لدې جهل څخه باید ټول توبه وباسي ځکه د الله عزوجل دا امر نشي په ځای کیدای مګر دا چې غیر ایماني او وطني معیارونه هیر او د وروړګلوي لپاره قرآني او ایماني معیارونه وټاکل شي، او په عمل کې یادو الهي آیتونو ته لبیک وویل شي، که داسې وي چې په عمل کې پولې او سرحدونه آباد وي او بیا د وروړګلوي دعوې وي دې دعوو ته هیڅ امتیاز نده حاصل بلکې دا به  د دوه مخي او منافقت یوه دعوه وي.

الله عزوجل په ادامه کې بیا فرمایلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَايَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰ أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَىٰ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿الحجرات: ١١﴾**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، هېڅ قوم دې په بل قوم پورې مسخرې نکوي، کېدی شي چې هغوی له ده نه ډېر غوره وي، او نه دې ښځې په نورو ښځو پورې ﴿مسخرې کوي﴾ کېدی شي چې هغوی ددوی نه ډېرې غوره وي او تاسو د خپلو ځانونو عیب جویي مه کوئ او یو بل په بدو لقبونو سره مه بلئ، د ایمان راوړو نه بعد د فسق نومونه بد کار ده او چا چې توبه ونه وېستله نو هم دغه کسان ظالمان دي.**

پدې آیت کې الله سبحانه وتعالی مؤمنانو ته بل امر دا کړی چې هیڅ قوم دې په بل قوم مسخرې نکوي ځکه کیدی شي چې هغوی د الله عزوجل په نزد له دوی غوره قوم وي ، پدې ځای کې الله عزوجل نارینه د قوم په عنوان او ښځینه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيله توګه مخاطبې کړي او ان شاءالله حکمت پکې دا ده چې نارينه و ته د قوم خطاب د مؤمنانو اجتماعي ژوند ته اشاره ده ځکه د مؤمنانو د اجتماعي ژوند چارې ټولې نارينه سنبالوي او په اجتماعي توګه بايد نران نور نران مسخره نکړي خو افسوس چې په اجتماعي، هجومي، رسنيز او علني شکل نن مؤمنان نور مؤمنان د هغوی د مختلف وطن او جغرافيې له کبله مسخره کوي او په بدو الفاظو يې يادوي چې لنډ مثال يې د افغانستان او پاکستان د شيطاني او توطئه شوې دښمني يادولی شو چې دوی د پاکستان مؤمنان د دال خورو او فلان او فلان په نوم يادوي او هغوی هم بالمقابل همداسې خراب القاب د افغانانو د تحقير لپاره کاروي تر څو مسخره، سپک او بې عزته يې کړي، په همدې شکل د اندونيزيا او ماليزيا مسلمانانو هم ځانونه د کفارو خندني کړل، د ترکيې او شام تر منځ هم مؤمنانو يو او بل ته د پرديو په سترګه کتلي او له يو او بل څخه بې کچې کرکه کوي چې دا ډير د افسوس ځای ده، چيرې قرآني او محمدي امت او چيرې د افتراق او تعصب دومره بدبختي چې ټول امت يې په سر اخيستی او دا هر څه د همدې سيکولر وطني عقيدې له امله چې مسلمانان يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهل تقسیم کړي، دا داسې بدبویه کار ده چې الله عزوجل د ښځو په نسبت هم چې دوی په اجتماعي ژوند کې برخه نلري ترې منع کړې ځکه دا کار په انفرادي ژوند کې هم د مؤمنانو تر منځ د پراخې فتنې، افتراق او حسد سبب ګرځي، او بیا چې یو قوم په اجتماعي شکل بصیرتاً دا کار کوي نو چیرې به د امت تر منځ اخوت پاتې شي؟ هغه خلک چې د سیکولر وطنیت عقیده لري باید له الله عزوجل څخه وویریږي، الله عزوجل بیا په ادامه کې فرمایي چې:

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴿الحجرات: ١٢﴾**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی ده، تاسو د ډېرو ﴿بدو﴾ ګمانونو څخه ځان وساتئ، بېشکه ځینې ګمانونه ګناه ده او پټ عیبونه مه لټوئ او ستاسو ځینې دې د ځینو نورو غیبت نکوي، آیا په تاسو کې یو کس دا خوښوي چې د خپل ورور غوښه وخوري، پداسې حال کې چې هغه مړ وي، نو تاسو دغه ﴿خوراک﴾ بد ګڼئ او د الله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عزوجل نه وویرېږئ بېشکه الله ښه توبه قبلوونکی بې حده رحم کوونکی ده.

پدې مبارک آیت کې الله عزوجل اول امر دا کړی چې پخپلو منځو کې بدګماني مکوئ، دوهم دا چې په یو او بل پسې جاسوسي مکوئ، دریم دا چې د یو او بل غیبت مکوئ او څلورم دا چې له الله عزوجل څخه ویره وکړئ.
خو افسوس چې د سیکولر وطنیت له امله نن مسلمانان په اول قدم کې پخپل مسلمان ورور بدګمانه وي، دده په وطن کې چې الهي آفت هم راشي پرې یې سیکولر وطنپرستان پخپل همسایه سیکولر وطن وراچوي ، پداسې حال کې چې تر څنګ به بل کفري هېواد هم ورسره موجود وي خو دوی به د هر څه پرې پخپل مسلمان ورور اچوي دا ځکه چې کفارو د سیکولر وطنیت په چوکاټ کې ددوی تر منځ کرښې کش کړي او د همداسې دښمني او افتراق زمینه سازي یې ورته کړې پداسې حال کې چې دواړه به د یوې قبلې دعوه داران او لمونځ ګذاران وي خو په یو او بل به د سیکولر کرښو او وطنونو له امله تر ټولو ناکاره ګمانونه ساتي، که همدا نن هغه یو یې موقع

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومومي او يا د کفارو له لوري څه زمينه سازي ورته وشي نو دوی
به په بل سيکولر وطن چې مسلمانان پکې مېشت دي داسې
هجوم وروړي لکه په کفارو چې وروړل کيږي.
زمونږ مطلب دا نده چې سيکولر وطنی دې د سيکولر وطن
خيال وساتي بلکې مطلب مو داده چې د سيکولريزم له چوکاټه
بايد ځانونه خلاص او د وطنيت له جهل څخه توبه وويستل او
قرآن ته رجوع وشي.
او د سيکولر وطنيانو خو د بل سيکولر وطن غيبت کول ورځنی
مشغله ده، په رسنيزه توګه د يو او بل د جغرافيو په مخاطب
کولو فريادونه کوي چې فلان ملک زمونږ داسې او داسې
دښمن ده او داسې او داسې ناکاره خلک دي، کفار يې
تماشې کوي او دوی د يو او بل بدي په علني او رسنيزه توګه
بيانوي حتی د همدې خپلمنځي جهل اخبار يې کفار له خپلو
رسنيو نشروي.
او سيکولر وطنيان نه يوازې دا چې په يو او بل پسې جاسوسي
کوي بلکې په يو او بل پسې په جاسوسي کولو درانه درانه
مصارف کوي، پدې لاره کې قرباني هم ورکوي او په ډېر افتخار
د خپل مسلمان ورور استخباراتي معلومات راغونډوي او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ضد اقدامات کوي او دا د قرآني هداياتو او اسلامي تعليماتو څخه ليرې او پردې خبره ده چې له مسلمان سره هيڅ نه ښايي خو متأسفانه نن مسلمانانو د سيکولر وطنيت له امله د اسلامي امت د سراسري اتحاد سياسي او اجتماعي احکام تر شا پريښي او د کفري اساساتو په پيروي يې ځانونه له تقوا ليرې کړي او له اسلامه خارج کړي، الله عزوجل په سورة حجرات کې بيا فرمايلي چې:

**يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّاخَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿الحجرات: ١٣﴾**

**ژباړه: ای خلکو، بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي يئ او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولي يئ ددې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله عزوجل په نزد په تاسو کې ډېر عزتمند ستاسو زيات پرهېزګار ده، بېشکه الله ښه پوه ښه خبردار ده.**

په پورته مبارک آيت کې الله عزوجل د مختلفو قومونو او قبيلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د انسانانو د پيدا کولو هدف﴿پېژندګلوي﴾ښيي نه دا
چې لدې څخه مطلب د ښو او بدو معلومول وي، هر څوک چې
د هرې ځمکې، وطن او جغرافيې وي چې تقوا ولري افضل ده
او همدا د عليم او خبير ذات جل جلا له سنت دي چې مونږ ته
يې بيان کړي.
نو د اسلام له نظره ورورګلوي که د قرآن د يادو آيتونو په اساس
وشي صحيح او که له يو او بل سره د دښمن په څېر معامله
کول وي، په منځ کې پولې او سرحدونه وي او بيا د ورورګلوي
دعوې وي چې ﴿مونږ ټول وروڼه يو﴾ دې دعوې ته هېڅ امتياز
نده حاصل او دا به دوه مخيزه او منافقه دعوه وي.
عجيبه خبره داده چې بعضې سيکولر هېوادونه چې د اسلام
دعوې لري د هر راغلي آفت او مصيبت ضمه دار بل هغه هېواد
بولي چې په هغه کې هم مسلمانان مېشت وي سره لدې چې
ددوی په ګاونډ کې به کفري هيوادونه موجود وي، د مثال په
ډول افغانستان د سياسي او نظامي ناورينونو پر مهال هېڅکله
خپله ګوته د خپل همسايه کفري هېوادونو لکه روسيې او چين
ته نده نيولې چې هغوی کافران دي او د ايغور او ققفاز مؤمنان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم رېږې ترې تيروي او مونږ ته هم ښې ارادې نلري بلکې ددوی ګوته تل د پاکستان لوري ته نيول شوې وي!

دا پداسې حال کې ده چې همدا چين او روسيه د بين الملل په دائمي غړو کې شامله ده او پاکستان هم چې هر څه کوي د همدې بين الملل (روس، چين، امريکې، برطانيې او فرانسې) په اطاعت يې کوي او پاکستاني مرتد نظام دومره هم مېړنی نده چې په بل سيکولر هېواد ﴿افغانستان﴾کې خود سره مداخله وکړي او بين الملل دې هم انتقاد قدرې پرې ونلري او خبرتيا ترې ونلري بلکې په رسميت يې هم وپېژني؟!!

نو نن هيڅوک کفارو ته ګوته نه نيسي بلکې تل يې ګوته د بل مسلمان په لور کړه وي دا ځکه چې کفارو دوی ته د سيکولر وطنيت په مټ د همداسې افتراق او ګډوډي زمينه سازي کړې او دا چې بل مسلمان په مختلف جغرافياوي موقعيت کې اوسي ددوی د سيکولر مصالحو دښمن بلل کيږي او په منځ کې اسلامي معيارونه له منځه وړل شوي دي، نو د مسلمانانو تر منځ دا ټوله بدبختي د سيکولر وطنيت له امله ده چې اطاعت يې د کفري دين او تګلارې اطاعت، کفر او له اسلامه وتل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د وطنیت منل که په هر عنوان او نوم وي مردود ده، که د اسلام په نوم وي که د حکمت او هوښیاري په نوم هېڅکله الله سبحانه وتعالی ته د منلو نده ځکه دا د یوه کفري دین رکن او عقیده ده او الله عزوجل فرمایلي پرته له اسلامه بل هیڅ دین، عقیده، قانون او تګلاره نه قبلوم او پدې صورت کې به د بل دین، تګلارې او قانون پیرو په آخرت کې له تاوانیانو څخه وي[4] مطلب دا چې نیک عملونه به یې برباد وي، هغه که د همدې وطن په لاره کې د جهاد په نوم جګړې وي، که زخمونه، تکلیفونه او که قربانیانی وي خو چې د سیکولر وطنیت لپاره شول الله عزوجل ته د قبلولو ندي بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک حدیث په اساس ددوی مرګ د جاهلیت ده.

---

[4] آل عمران ۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکې د پروژې درېیم رکن: ﴿سیکولر تعلیمي نظام﴾

په سیکولر تعلیمي نظام کې سیکولران د ځان لپاره حکام او مامورین تربیه کوي، هر کله چې غربي سیکولران یوه سیمه لاندې کړي له هر څه دمخه هلته د مکتب ډېره ایږدي دا ځکه چې همدا ډېره په آینده کې ددوی د نظامونو د بقاء تضمین ده، غربیان خو هرې سیمې ته له اروپا او امریکې مامورین نشي راوستی او همدلته د همدې سیمې خلک باید د کفر خدمت ته ځانونه تربیه کړي تر څو په آینده کې د سیکولریزم امریکایي پروژه مخې ته یوسي.

خو پدې خبره باید تحقیقي سوچ وشي چې آیا دا تعلیم د اسلامي امت لپاره ګټه ده که تاوان؟ که تاوان وي نو ددې سیکولر تعلیم بدیل څه کېدلی شي؟ ولې له هر څه دمخه کفار د مسلمانانو په ځمکو کې مکتب جوړوي؟ د کفارو پدې تعلیم کې څه ګټې دي چې خپل درانه مصارف د مسلمانانو په ځمکو کې په تعلیمي ارګانونو کوي، لوی لوی تعمیرونه ورته جوړوي، د لیلیو مصارف، د قرطاسیې مصارف او د معلمانو، مامورینو او نورو خدماتي پرسونل معاشونه ورکول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هر څه دوی په څه هدف کوي؟ دا پداسې حال کې چې الله عزوجل د همدوی په اړه فرمايي چې:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿آل‌عمران: ١١٨﴾**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی پرته له خپلو ځانو ﴿مسلمانانو﴾ نور ﴿کافران﴾ په پټې دوستي مه نيسئ، هغوی تاسو ته په ضرر رسولو کې هيڅ کمی نه کوي، هغوی هغه څه ډير خوښوي چې تاسو په تکليف کې اچوي، يقيناً ددوی له خولو (د مسلمانانو په نسبت) ددوی کينه ظاهره شوې او هغه څه چې دوی ﴿د مسلمانانو په نسبت﴾ په سينو کې پټ ساتلي هغه ﴿کينه او دښمني﴾ لدې ډيره زياته ده ﴿چې دوی يې په خوله ظاهروي﴾، يقيناً مونږ تاسو ته خپل آياتونه بيان کړل تر څو له عقل څخه کار واخلئ.**

په پورته مبارک آيت کې الله عزوجل د مسلمانانو په نسبت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفارو ډيرې کينې ته اشاره کړې او حقيقت هم همدا ده ځکه کفار پدې ټولو هلو ځلو يوازې يو کوشش لري چې مونږ هم د ځان په څېر کافران کړي لکه چې الله عزوجل فرمايي:

**﴿وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً﴾النساء: ٨٩﴾**

**ژباړه: کفار خوښوي چې تاسو داسې کافران شئ لکه دوى چې کافران دي نو تاسو به دوى سره به ﴿په فکر، عقيدې، قانون او تګلاره﴾ کې برابر شئ.**

هو! دوى دا ټولې هلې ځلې د همدې لپاره کوي چې مونږ له اسلامه مرتد کړي او د کفري تګلارو په زده کولو او اختيارولو ددوى په څير کافران شو، او دوى مسلمانانو ته هيڅکله ښې ارادې نلري او تر هغو چې په مسلمانانو کې اسلام وي دوى به همداسې کينه ورسره کوي لکه چې الله عزوجل ددوى په اړه مونږ ته فرمايلي چې:

**﴿هَا أَنتُمْ أُولَاءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتَابِ كُلِّهِ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴾آل‌عمران: ١١٩﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: ای تاسو بیا هغه خلک یاست چې دوی سره محبت کوئ خو دوی تاسو سره محبت نکوي او تاسو ددوی په ټولو ﴿آسماني منزلو﴾ کتابونو ایمان لرئ ﴿خو دوی په قرآن ایمان نلري﴾ او کله چې دوی تاسو سره مخ شي وایي چې مونږ هم ایمان راوړی (ستاسو خیرخواهان یو﴾ خو کله چې له تاسو یوازې شي ستاسو په نسبت د کینې او غصې له امله پخپلو ګوتو غاښ لګوي ورته ووایه چې پخپل قهر کې مړه شئ یقیناً الله عزوجل د سینو په ټولو رازونو خبر ده﴾**

د کفارو کینه د مسلمانانو په نسبت ډېره زیاته ده او تر څو چې مونږ په اسلام ټینګ اوسو دوی به زمونږ په نسبت په زړه کې همداسې کینه لري خو که الله مکړه مونږ داسې ورسره کافران شو لکه دوی چې کافران دي نو بیا معلومه ده چې د بم او بارودو په ځای به زمونږ ماشومانو ته بیسکیټ او قرطاسیه رسوي، لدې حالت څخه مونږ الله عزوجل ته پناه وړو.

ممکن ستاسو په زړه کې دروګرځي چې په معاصر سیکولر تعلیم کې خو زمونږ خپلې ګټې هم پرتې دي او مونږ وینو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ په ګټه کفار زمونږ پرمختګ ته ژمنتیا لري نو ولې باید په مطلق ډول باید د کفارو هر څه مردود وبولو؟

دا شبهه نن ډېر خلک لري خو مونږ ورته وایو چې خبره داسې نده، تاسو سیکولر تعلیم د ځان لپاره څه ډول پرمختګ بولئ؟ آیا پرمختګ پیژنئ چې څه ته وایي او په څه کې ممکن ده؟ دا تعلیم خو د اسلامي امت لپاره زهر قاتل ثابت شوی نه پرمختګ او سعادت او پدې تعلیم کې د پرمختګ په نوم چې څه ګورئ هغه په حقیقت کې لوی شاتګ او ذلت ده، مخکې لدې چې د معاصر سیکولر تعلیم په مفسداتو بحث وکړو تر څو پوه شو چې دا تعلیم ولې شاتګ ده راځئ وګورو چې پرمختګ څه ته وایي؟

## پرمختګ او ډولونه یې:

له پرمختګ څخه به حتماً ستاسو مطلب د اسلامي امت مشترکو مصالحو او میراثونو ته وده ورکول وي تر څو یاد امت د عروج پوړو ته په سیاسي، نظامي او اقتصادي برخه کې ورسوي لکه په نظامي برخه کې توپ، ټانګ، طیاره او بمونه جوړول وغیره... د غوره پوهاوي لپاره به پرمختګ په دوو ډولونو ووېشو:

**اول: د ټول امت اجتماعي پرمختګ.**

**دوهم: د خلکو د انفرادي ژوند پرمختګ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اول: د ټول اسلامي امت اجتماعي پرمختګ:

هغه پرمختګ ده چې د اسلامي امت مشترک مصالح په اقتصادي، نظامي او سياسي برخو کې رانغاړي، دا پرمختګ په سيکولر تعليم کې نشته او برعکس پدې تعليم کې له همدې پرمختګ څخه د وروسته پاتې کېدو شيطانت طرح شوی چې پدې خبره به وروسته ددې تعليم د مفسداتو په برخه کې بحث وشي ان شاءالله.

ددې پرمختګ يو مثال د مسلمانانو لپاره د توپونو، الوتکو او نورو پرمختللو وسلو جوړول يادولی شو، که له پرمختګ څخه ستاسو مطلب همدا معنويات ترلاسه کول وي نو دا خو تاسو ته په مکتب او پوهنتون کې نه درښيي، دروغ ولې واياست چې مونږ هلته دا شيان زده کوو او دا تعليم پرمختګ ده؟ بلکې په تېرو سلو کالو کې خو حقيقت دا راوتلی چې ستاسو سر له فراغت سره سم د سيکولر کفري حکومتونو د ماموريت لپاره ددوی په دروازو ورننوځي او يا په بل مختلف ډول د سيکولريزم په صف کې ودرېدلي ياست، تاسو خو دا سل کاله زمونږ په سترګو کې خاورې شيندلي چې مونږ په مکتب او پوهنتون کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امت قضیه حل کوو خو په عمل کې تل له تاسو یوازې سیکولر مامورین جوړ شوي او بس!

د اسلامي امت اجتماعي پرمختګ په سیکولر تعلیم کې نشته او دا تعلیم په حقیقت کې خپلو نفسی غرایزو ته د رسېدلو لپاره یوه بهانه، شیطاني وسیله او دروغجن شعار ده.

## دوهم: د خلکو د انفرادي ژوند پرمختګ:

پدې پرمختګ کې یو کس د سیکولر تعلیم په ډګر کې د خپل انفرادي ژوند د تأمین لپاره تربیه کیږي او په پایله کې صرف د دنیوي مفاداتو د لاسته راوړلو او د پیسو ګټلو په یوه بې غیرته ماشین بدلیږي چې له فراغته وروسته لکه وږی حیوان د پیسو ګټلو لپاره نه ایماني ارزښتونه په پام کې نیسي نه انساني، نه حلال ګوري نه حرام او نه دا ګوري چې زه د چا په ګټه د چا لپاره کار کوم بلکې مطلب یې صرف او صرف د پیسو ګټل او د خپلو شهواني او نفساني غرایزو مشبوع کول وي، چې نفس همدا خبره د سیکولریزم تعریف هم ده.

همدا زمونږ بديله برنامه ده خو ای کاش چې خلک د کفارو له تعليمي نصابونو بيزاري وکړي، جهاد وکړي او له خپلو ځمکو د غربي ملحدانو سيکولر نظامونه وشړي او په ځای يې د اسلامي خلافت نصرت وکړي نو هغه مهال به د امت لپاره تعليمي نصاب پخپله خلافتونه طرح کوي، بلکې اوس خلافت موجود ده او الله عزوجل ددې نعمت لورينه په اسلامي امت کړې خو ای افسوس چې نن خلک له کفري تګلارو او کفري روزنتونونو جدايي او پوره بيزاري ته تيار ندي.

منفي برداشت مکوئ مونږ د اسلامي امت د پرمختګ مخالفين نه يو او نه دا وايو چې الجبر، مثلثات، کيميا او فزيک په يو مخيز ډول بې ګټې مضمونونه دي خو زما هدف داده چې ياد مضامين په بې ګټې ډول او د مسخرو په شکل اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امت ته په نصابونو کې ځای پر ځای شوي او هر عنوان د استعمال له ځای سره نده تشریح شوی چې همدا بیا علت ګرځي چې زده کوونکي نه پوهیږي چې دا مونږ د څه لپاره وایو؟ چې وروسته له کمې فاصلې بیرته ځنې هېریږي ځکه هغه د سفسطو او منترونو په شکل په همغه وخت کې زده شوي او د ژوند سره د نه تړاو له وجې یې هیر شوي وي، نو داسې الجبر، مثلثات، کیمیا، فزیک او جغرافیه به مونږ څه کوو؟

او یوه خبره په یاد ولرئ چې د همدې مضمونونو له لارې اجتماعي پرمختګ حاصلول د یوه فرد انفرادي دنده نه بلکې دا د یو نظام او حاکمیت اجتماعي دنده ده چې یادو معنویاتو ته نظامي، امنیتي او اقتصادي سهولتونه برابر او د اسلامي امت لپاره بیا یو مشترک میراث ځنې جوړ کړي او بیا د حقیقي پرمختګ په نوم وپېژندل شي او دا کار د سیکولر، ډیموکراټو او جمهوري نظامونو کار نده ځکه په هغوی د بین الملل له لوري داسې قوانین وضع شوي چې کاملاً د حقیقي استقلالیت حق ترې اخیستل شوی او دوی مجبور دي چې له کفارو سره د غلامي په ژوند قناعت ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سیکولر تعلیمي نظام اسناد:

د سیکولر تعلیمي نظام تعلیمي اسناد نن د انسانیت معیار بلل کیږي، هر څوک چې یاد اسناد ولري هغه ته په محترمه سترګه کتل کیږي او هر څوک چې یاد اسناد ونلري هغه ته څوک د انسانیت درجه هم نه ورکوي سره لدې چې متقي، هوښیار، عاقل او په قضایاو پوه سړی به وي خو دا چې د دنیا پرستي او د دجالي روزي ګټلو ﴿سیکولریزم﴾ روزنه یې نده تر لاسه کړې خلکو ته یو خوار او حقیر ژوی ورمعلومیږي.

نن چې د همدې کفر روزنه چا نه وي کړې هغه ته د یو حیوان په سترګه کتل کیږي تردې چې په آساني څوک خپښي، دوستي او ملګرتیا هم نه ورسره کوي بلکې له هغه سره په ملګرتیا او مجلس کولو شرمیږي، هر څوک چې د غربي تعلیم په فساد ککړ وي هغه په مجلسونو کې هم محترم وي او په ملګرتیا یې هم افتخارونه کیږي.

هر څوک چې د یاد دجالي کفر روزنه تر لاسه نکړې او اسناد ونلري هغه د ښې او آسانه روزي له ګټلو څخه محروم وي بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د د جال پدې پادشاهي کې هغه خوار، حقير او په ډېره سختي د يوې گولۍ روزي پيدا کوونکی وي.

د دنيويت او ماديت طلبگاران ياد تعليم يوازې او يوازې د خپل دنيوي او انفرادي ژوند د پرمختگ لپاره وايي او بالمقابل مسلکونه که څومره په سريعه بڼه په آزاد بازار کې زده کيږي دوی يې هلته نه زده کوي او ځي په پوهنتونونو کې يې د يوې اوږدې او وخت ضايع کوونکې دورې په ترڅ کې زده کوي ځکه په آزاد بازار کې څوک بيا داسې رسمي او معتبر اسناد نشي ورکولی کوم چې دوی د سيکولر نظامونو اړوندو پوهنتونونو څخه ترلاسه کوي خو سوال داده چې دوی په رسمي اسنادو څه کوي؟ آيا همداسې نده چې دوی پدې اسنادو په سيکولر حکومتونو کې وظيفه ترسره کول غواړي؟ نو هغه دعوه چې ددې تعليم له لارې د اسلامي امت د اجتماعي پرمختگ په نوم خلک کوي هغه باطله ده او لدې تعليم څخه د خلکو ټول مطلب د انفرادي ژوند د غوښتنو او نفسي غرايزو مشبوع کول دي نه دا چې د اسلامي امت اجتماعي پرمختگ ترې مطلب او د اسلامي امت قضيه حل کول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له تېرو سلو کالو راهيسې دوی د مجاهدينو په سترګو کې خاورې شيندلي او همدا وايي چې مونږ پدې تعليم کې د امت قضيه حل کوو او کله چې ترې فارغ شي نو په اخواني طريقې لګيا خلک په نن او سبا غلطوي چې مونږ اسلام راولو او اسلام ته کار کوو خو په عمل کې دوی د اسلام په نوم د کفر ترويجوونکي او د باطلو معنوياتو خدمت کوونکي وي، دوی په همدې شعار په همدې کفر کې خدمتونه کوي، په همدې کفر کې رالوئيږي، همدا کفر زده کوي او په همدې کفر کې مري نور هېڅ هم ندي ځنې ليدل شوي.

## د سيکولر تعليم له لارې د قلم جهاد:

تاسو به ډېر ځلې له سيکولرانو اورېدلي وي چې مونږ د قلم له لارې جهاد کوو او لدې لارې ښه خدمت ممکن ده، دا هغه خلک دي چې ظاهراً ځانونه اسلام سره ډېر خواخوږي ښيي خو له دجالي نعمتونو يې هم زړه نه شکيږي نو مجبور دي چې خپل کفر ته د اسلام د خدمت نوم ورکړي، دا ډول خلک دا هم وايي چې د سيکولريزم يا ډيموکراسي له لارې مونږ اسلام ته خدمت کوو، خو ددوی دا دوه ډوله دعوي چې په قلم جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوو يا د کفر له لارې اسلام راولو په حقيقت کې د منافقت تفسير وړاندې کوي چې په لاندې ډول به ذکر شي:

## الف: د قلم جهاد:

د قلم د جهاد په اورېدو خلک داسې ذهنيت اخلي چې پدې جهاد کې اسلامي نظام ته دعوتونه کيږي خو داسې نده، د قلم جهاد د اخوانيت په طريقه په حقيقت کې د دروغجنو وعدو، دوکو، فريبونو، خلکو ته د سيکولر نظام په تابعداري قناعت ورکولو او بيا يې پرې راتولو او له اصلي قتال في سبيل الله څخه د خلکو د کښېنولو شيطاني جهاد او کوشش ده.

د قلم د جهاد د دعوې په اورېدلو ممکن خلک فکر وکړي چې د اسلامپالني دغه دعوه داران په کفري حکومتونو کې ناست او په قلم اسلام ته دعوتونه کوي، حق بيانوي او د کفر خلاف فعاليتونه کوي، خو حقيقت دا نده بلکې په حکومتي دفترونو کې دوی هلته ناست د سيکولر حکومت اړوند اداري چارې ترسره کوي او دا هغه خلک دي چې همدا يې خپل شعار ګرځولی او په حقيقت کې د کفر ماموريت کوي چې دا ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک د کفري نظام اړوند خلک دي او د اولې درجې منافقين او مرتدين دي چې د کفر خدمتونه کوي.

او پدې کې دوهم ډول خلک هغه منافقان او مرتدين دي چې له حکومتي ادارو بهر د دوکتورانو، شيخانو او عالمانو په نوم د اسلام ګټلو په عنوان په سيکولر نظامونو د خلکو د راټولولو لپاره د قلم شيطاني جهادونه کوي خو ددوی د دعوت نتيجه برعکس ده، دوی د اسلام په نوم کفر راولي نه دا چې دوی د کفر له لارې د اسلام راوستونکي وي او هغه اول ډول خلک چې اړوند مامورين دي ټول د همدې مکارو په هلو ځلو په کفري نظام راټول شوي دي، ددوی تأليفات او خبرې که تاسو وګورئ د اصلي اسلام دريځ پکې لري، دوی به تاته د جهاد، صبر، استقامت، امير، بيعت او اطاعت چې ټول د اسلامي سياست معنويات دي په اړه به خبرې کوي خو چوکاټ به د حکمت او هوښياري په نوم د سيکولريزم او ډيموکراسي دروړاندې کوي او خلک د قلم، کتابت او تأليفاتو په مټ تشويقوي چې په کفري نظام کې د اسلام په نوم کار وکړي، همدې شيطانت ته دوی د قلم جهاد وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول منافقين ارجايي دريځونه لري او پدې کې اکثره د اخوانيت مرتد دوکتوران او شيخان موجود دي چې تأليفاتو يې ټول اسلامي امت له فساد سره مخ کړی.

## ب: د کفر له لارې د اسلام راوستل:

تقريباً له سلو کالو راهيسې د سيکولريزم اسلامپاله مقلدين د دين په نوم د کفر تابعداري لدې دعوې سره کوي چې مونږ له همدې لارې اسلام راولو خو له دوی څخه حقيقت تل برعکس ثابت شوی او دوی د اسلام په نوم کفر راوستی او په همدې شعار يې ډېر مؤمنان د ارتداد او گمراهي لوري ته سوق کړي.
دوی تل خلک په نن او سبا غولوي خو ددوی اعمالو ته که ځير شئ تل يې خپلې بشري، اقتصادي، نظامي او سياسي منابع د کفارو د خدمت لپاره د هغوی په صف کې ودرولي او له هغوی سره په اسلام ضد ائتلافونو کې برخه داران وي، دوی عقيده لري چې مونږ کفري دين چې هغه سيکولريزم يا ډيموکراسي ده الله عزوجل ته د نږدې کېدلو وسيله گرځولې، دوی خپل همدې کار ته ثواب، حکمت او هوښياري وايي خو په حقيقت کې له ټولو لوی جرم او حماقت همدا ده، په وروستيو صفحو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې به په سیکولریزم کې موجود د ایمان معاصر نواقض یو یو ذکر شي چې په هغو کې یو ناقض همدا د کفر له لارې د اسلام د گټلو ناقض ده چې تفصیل به یې راشي ان شاءالله.

## د سیکولر تعلیمي نظام بدیل څه کېدلی شي؟

اوس مو چې د سیکولر تعلیم منفوره څېره وپېژنده نو حتماً به ستاسو په ذهن کې دا سوال پیدا کیږي چې که دا تعلیم مردود وبولو او ترک یې کړو نو آیا د خپلو آینده نسلونو د روزلو لپاره بل کوم بدیل لرلی شو؟

هو ددې تعلیم له مردود گڼلو وروسته مونږ د اسلامي امت تنگیو نسلونو ته ډېر ښه او غوره بدیلونه لرلی شو خو ددې تعلیم مردود گڼل یوازې یو شعار نه بلکې عمل او یو څه دردوونکو مرحلو او قربانیو ته اړتیا لري چې هغه باید وزغمل شي ځکه یاد فاسد تعلیم په اسلامي امت کې ډېرې ژورې او خائنې ریښې ځغلولې چې ځان ترې خلاصول په اول قدم کې له دوی څخه پوره بېزاري او په دوهم قدم کې یې ریښې په بې رحمي قطع کول غواړي او که داسې ونشي او سیکولر تعلیم ته په اسلامي امت کې همداسې لاره ورکول شي نو د جگړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډې مار به د سلگونو کالو لپاره نور هم په اسلامي امت کې دوام وکړي او نتيجه به يې نا معلومه وي.

ياد سوال به په دوو برخو کې تاسو ته ځواب کړو: اول دا چې د سيکولر تعليمي نظام بهترين بديل همدا مهال هم اسلامي خلافت طرح کړی پداسې ډول چې يو زده کوونکی په مستقيم ډول له پرمختگ او دنيوي کسب سره تړي، پدې نصاب کې زده کوونکی د مکلفيت دورې ته له رسېدو سره سم يو کسب زده کوي او ورسره د توحيد په عقيدې سنبال د اسلام او ايمان په حقيقت هم خبر وي، تر څنگ يې د اعداد په گاڼه ملبس مسلح مجاهد ځوان وي چې د اسلامي امت د مشترکو اقتصادي، نظامي او سياسي مصالحو په طرفداري تل قرباني ته د زمري په څېر تيار وي.

د اسلامي خلافت په ياد نصاب کې وخت ضايع کوونکي عموميات او نور خرافات نشته بلکې مستقيماً کسب او عقيده پکې زده کيږي او يو مؤمن ماشوم پداسې حال کې يوه مسلک ته رسوي چې په سيکولر تعليم کې يې همزولي د الف او با له زده کولو فارغ نه وي، که تاسو واياست چې يو زده کوونکی څرنگه له وړوکتوبه د ځان لپاره مسلکي مسير وټاکي نو مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وايو چې اولاد د پلار د مال حيثيت لري، پلار د خپل اولاد په ژوند کې هر ډول تسلط لرلی شي او پلار شرعي صلاحيت لري چې د خپل زوی لپاره يو کسب دده له ماشومتوبه ده ته وټاکي او روزنه پکې ورکړي.

راځو د پورته سوال د ځواب دوهمې برخې ته: په اول قدم کې واوره چې د کفر بديل اسلام ده، کفر او شرک بايد ترک او اسلام ته بايد مخه شي، خو پوهيږم چې خلک د کوم ډول ځواب او بديل لرلو تمه لري؟

ډېر خلک ممکن بيا هم د خپل انفرادي ژوند د رفاهيت او نفسي خواهشاتو د اشباع په انتظار وي تر څو داسې يو بديل ورته په گوته شي چې هغه بيا هم ددوی له اولادونو د پيسو گټلو ماشينونه جوړ کړي، خو گورئ مونږ تاسو ته د تلپاتې دنيوي او اخروي عزت او اسلامي نظام دعوت درکوو، سيکولريزم يعنې دنيا پرستي او ماده پرستي بايد ترک او اسلام ته بايد مخه شي.

که له بديل څخه ستاسو مطلب نظامي، سياسي او اقتصادي پرمختگ مطلب وي نو بيا ددې ځواب لپاره مونږ لومړی له تاسو يو څو پوښتنې کوو هغه دا چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيکولر تعليم تاسو د څه لپاره واياست؟

په تېرو سلو کالو کې تاسو اسلام ته کوم پرمختګ ددې تعليم له لارې راوړی؟

ستاسو په مکتب او پوهنتون کې د اسلامي امت د يادو مشترکو مصالحو کومې کومې داسې پوهنځۍ شته چې مؤمنان پکې پرته له فکري او عقيدوي انحرافه د سوچه اسلام په ګټه ټانګ، توپ او طياره جوړه کړي؟ آيا شته داسې پوهنځۍ؟

او له همدې مکتبه هر کال له کومې کومې پوهنځۍ څو کسه داسې طلبګاران فارغوئ چې هغه اقلاً د قتال په سطحي اعداد ملبس او د اسلامي نظام د اقامې فکر ورسره وي؟ آيا شته داسې پوهنځۍ؟

ستاسو ځوابونه حتما دا دي چې دا تعليم د اسلامي امت د پرمختګ لپاره وايو، خو نه ددې مصالحو پوهنځۍ پکې شته، نه زمونږ ماشومان ياد درسونه پکې وايي او په کال کې څه چې په سلو کالو کې مو داسې څوک ترې فارغ نکړل چې هغه دې له عقيدوي انحراف څخه بچ او د خالص اسلام پيرو وي که وي هم نو هغه به ددې تعليم ثمره نه بلکې دا به د نورو علماؤ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخلصینو د دعوت ثمره وي چې که پدې تعلیم کې روزل شوی هم نه وای نو د هدایت نور به یې په نصیب کیده، او تاسو شاید یوه بله خبره دا وکړئ چې اوس نه بلکې مونږ پدې تعلیم کې د یادو معنویاتو لور ته یو قدم وراخلو او په آینده کې به ورسره ګورو، نو پدې ځای کې مونږ د اضافي، بې ځایه او اخواني سفسطو اجازه نه درکوو ځکه تاسو زمونږ اول سوال غلط ځواب کړ چې ګویا دا تعلیم مونږ د اسلامي امت د پرمختګ لپاره وایو بلکې حقیقت داده چې دا تعلیم خو تاسو د خپلو نفسي خواهشاتو د مشبوع کولو لپاره وایاست او تاسو چې کله خپل اولاد ته نصیحت کړی نو داسې مو ندي ورته ویلي چې کوشش وکړئ چې د همدې تعلیم له لارې د اسلامي امت قضیه حل کړې بلکې دا مو ورته ویلي چې کوشش وکړئ چې له ښېل او کولنګه ځان خلاص او آسانه او پریمانه پیسې وګټئ، آیا همداسې نده؟ نو لدې تعلیم څخه ستاسو مطلب څه راووت؟

او زمونږ بله پوښتنه له تاسو داده چې د اسلامي امت پرمختګ تاسو د څه لپاره غواړئ؟ په کفارو د غلبې او که د خپلو شهواني غریزو مشبوع کولو لپاره؟ که مطلب مو په کفارو غلبه وي نو الله عزوجل ددې هر څه اسباب پخپل کتاب کې ښودلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا تا له الله سبحانه وتعالی څخه د نصرت د حصول لپاره په هغو ارشاداتو عمل لرلی او یو ځل دې لوستي او که نه؟

راځئ چې یوه شېبه د الله سبحانه وتعالی کلام پدې اړه وګورو چې د غلبې او نصرت لپاره یې څه څه اسباب مونږ ته راښودلي؟

یقیناً د مؤمنانو د غلبې راز په تقوا کې ده، د کوم څه په اړه چې الله عزوجل بار بار فرمایلي چې:

**وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا﴿الطلاق : ٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴿الطلاق : ٣﴾**

**ژباړه: او هغه څوک چې د الله عزوجل نه وویرېږي ﴿نو﴾ هغه به دده لپاره ﴿له مشکلاتو﴾ د وتلو څه ځای پیدا کړي او ده ته به له هغه ځایه رزق ورکړي چې دا به ګمان هم نه کوي او هغه څوک چې په الله باندې توکل وکړي نو همدا دده لپاره کافي ده، بېشکه الله عزوجل خپل کار ته رسېدونکی دی، یقیناً الله سبحانه وتعالی د هر شي لپاره یوه اندازه مقرره کړې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه الله سبحانه وتعالی فرمايلي:

**وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا﴿الطلاق: ٤﴾**

**ژباړه: او څوک چې له الله عزوجل څخه ووېرېږي الله به يې په کارونو کې آسانتيا پيدا کړي.**

همدارنگه رحمان ذات فرمايي:

**وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا ﴿الطلاق:٥﴾**

**ژباړه: او څوک چې له الله عزوجل څخه ووېرېږي الله به د هغه بدي ورڅخه ايسته کړي او لوی اجر به ورکړي.**

همدارنگه الله عزوجل فرمايي:

**وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿آل‌عمران: ١٢٠﴾**

**ژباړه: که تاسو له صبر څخه کار واخلئ او له الله عزوجل څخه ووېرېږئ ددوی چل او مکر به تاسو ته هېڅ تاوان ونه رسوي، د الله علم په هر څه چاپېره ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ای د پرمختګ دعوه دارانو! تاسو ماته خپله تقوا راوښیئ چې الله سبحانه وتعالی بیا له تاسو سره نصرت وکړي، تاسو که د الله تعالی د نصرت او په کفارو د غلبې ریښتونی ارمان په زړه کې لرلی اقلاً تقوا به مو اختیار کړې وه، ستاسو خو لمونځونه هم ندي زده، ږیره مو خریلي او د مکتب او پوهنتون په صنفونو کې له انجونو او هلکانو سره په بد اخلاقي سر یاست، تاسو سره به څرنګه الله تعالی نصرت وکړي؟ الله عزوجل خو فرمایلي چې تر څو یو قوم خپل حالت پخپله بدل نکړي الله تعالی یې نه ورته بدلوي، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ ﴿الرعد: ١١﴾**

**ژباړه: بېشکه الله عزوجل د هېڅ قوم حالت نه بدلوي تر هغه پورې چې هغوی ﴿پخپله﴾ د خپلو نفسونو حالت بدل کړي او کله چې الله په یو قوم د بدۍ اراده وکړي نو د هغې لپاره بیرته ګرځېدل او ددوی لپاره د هغه نه غیر هیڅوک مددګار نشته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو تاسو د خپل حالت د تغیر لپاره کله لاس په کار شوي یاست؟ آیا تاسو د خپل حالت د تغیر لپاره موجوده وسلې استعمال کړي چې اوس په هوایي او دروغجن پرمختګ پسې ورک او د اخوانیت خیالي وسلې مو په اوږه کړي؟ او دا سل کاله تاسو د همدې دعوې سره پداسې حالت کې مرۍ چې جنازې مو د سیکولر او کفري نظام له دروازو راوځي او اسلام ته مو پرته له شره هېڅ ګټه نده رسېدلې، ستاسو له سیکولر تعلیمي روزنې سره د اسلامیت شعارونه ډېر بد ښکاري او تاسو دروغ وایاست چې د همدې کفر له لارې مونږ اسلام ته خدمت کوو بلکې تاسو د اسلام د دعوې له لارې کفر ته خدمت کوئ، له همدې لارې مو د اسلام په ځای کفر ګټلی او خپل ټول منابع مو د کفارو په واک کې ورکړي.

تاسو خو قتال في سبیل الله هم ترک کړی پداسې حال کې چې په ډېرو احادیثو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو د ذلت، فقر او د بدبختي علت همدا د جهاد او قتال في سبیل الله ترک ښودلی، راځئ تر څو پدې اړه د رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علیه وسلم څو مبارک حدیثونه هم مطالعه کړو تر څو د حقیقي هوساینې او پرمختګ لاره چاره وپېژنو.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په یوه روایت کې نقل شوي چې:

**اذا تبایعتم بالعینة، و اخذتم اذناب البقر، و رضیتم بالزرع و ترکتم الجهاد سلط الله علیکم الذل حتی ترجعوا الی دینکم «أبو داؤد»**

**ژباړه: کله مو چې په سود معاملې وکړې او د غوا لکۍ مو ونیوله او په زراعت راضي شوئ او جهاد مو پرېښود الله عزوجل به په تاسو سپکوالی مسلط کړي ﴿او دا حالت به تر هغه دوام لري﴾ تر څو چې خپل دین ته راوګرځئ ﴿مطلب جهاد شروع کړئ﴾.**

په پورته مبارک حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د داسې حالت په اړه خپل امت ته خبرداری ورکړی چې مؤمنان به د دنیا پرستۍ له امله جهاد ترک کوي چې له امله به یې په مسلمانانو ذلت مسلط کیږي، نن همداسې یوه زمانه راغلې، د جهاد ترک نن خلک په مختلفو شکلونو او بهانو کوي، څوک وايي چې فرض نده، څوک وايي چې جهاد حل لاره نده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک وايي چې دا د کفارو سازش ده، او يا په نورو بهانو دغې فريضې ته شا اړوي او يا ترې کرکه ځرګندوي خو دا خلک د نبي عليه السلام له لوري ډېر سپک او ذليل په ګوته شوي، په رښتيا هم د جهاد ترک نن د خلکو د ذلت سبب ګرځېدلی لکه همدا مطلب به وروسته په نورو مبارکو احاديثو کې هم ذکر شي ان شاءالله.

همدرانګه له الشعبي څخه په روايت کې راغلي چې کله أبوبکر صديق رضي الله عنه سره بيعتونه وشول او منبر ته پورته شو نو له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په روايت يې دا حديث ذکر کړ چې:

**عن انس ابن مالک قال لما بويع أبوبکر في السقيفة وکان الغد جلس أبوبکر على المنبر فقال: ولا يدع قوم الجهاد في سبيل الله الا ضربهم الله بالذل «البداية والنهاية (۲۱۸/۵).**

**ژباړه: له انس بن مالک رضي الله سبحانه وتعالی عنه څخه روايت ده چې کله د أبوبکر رضي الله عنه سره په سقيفة کې بيعت وشو نو سبا په منبر پورته شو او وې فرمايل: يو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څوک د الله عزوجل په لاره کې جهاد نه پرېږدي مگر الله فقر ورپه برخه کوي.**

همدارنگه له أبوبکر صدیق رضي الله عنه څخه په بل روایت کې راغلي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته هغه خلکو ته وویل چې ای خلکو ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې هغه وفرمایل:

**ما ترک قوم الجهاد في سبیل الله الا أذلهم الله و ما ترک قوم الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر الا عمهم الله بعقاب (اخرجه الطبراني في الأوسط (۲۲۸/۲) وهو حدیث حسن)**

**ژباړه: یوې ډلې د الله سبحانه وتعالی په لار کې جنگ کول نه دي پریښي مگر الله رسوا کړي دي او حکم په نیکیو او له بدیو مخنیوی نه دی پریښی مگر الله ددوی زړونه ړانده کړي.**

همدارنگه له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



من غزا غزوة في سبيل الله فقد أدى الى الله جميع طاعته ﴿فمن شاء فليؤمن و من شاء فليكفر، انا اعتدنا للظالمين ناراً﴾ قال: قيل يا رسول الله: وبعد هذا الحديث الذي سمعنا منک من يدع الجهاد ويقعد؟ قال: من لعنه الله و غضب عليه وأعد له عذاباً عظيماً، قوم يكونون في آخر الزمان لا يرون الجهاد و قد اتخذ ربي عنده عهداً لا يخلفه أيما عبد لقيه وهو يرى ذلک أن يعذبه عذاباً لا يعذبه احداً من العالمين «اخرجه ابن عساكر في باب التغليظ في ترک الجهاد بتمامه»

ژباړه: چا چې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د يوې غزوې لپاره سفر وکړ نو د الله پوره اطاعت يې وکړ (څوک چې وغواړي ايمان دې راوړي او څوک چې وغواړي کفر دې وکړي يقيناً مونږ ظالمانو لره اور تيار کړی ده) چا وويل چې يا رسول الله له دې وروسته چې مونږ له تاسو دا حديث واورېد بيا به هم څوک جهاد پرېږدي؟ او (له جهاد څخه) به ناست وي؟ هغه وفرمايل: هغه څوک چې الله عزوجل ورباندې لعنت او غضب يې پرې کړی وي او د هغه لپاره يې لوی عذاب تيار کړی وي (هغه به جهاد پرېږدي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په آخره زمانه کې به داسې قوم وي چې جهاد به نه مني او زما رب داسې وعده کړې چې هیڅ بنده به ورسره ملاقات نه کوي چې هغه داسې نظر لري مګر داسې عذاب به ورکوي چې په ټوله نړۍ کې به هیڅوک داسې عذاب نشي ورکولی.**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وړاندوینې په اساس نن خلکو په رښتیا هم په اجتماعي شکل جهاد ترک کړی او هغه یوه خرابه تګلاره بولي والعیاذبالله، همدا وجه ده چې د نورو اطاعت ته مسلمانان په ذلیله توګه درېدلي او سیکولر نظامونه پرې حاکمیت کوي، د جهاد ترک کول په یوې تګلارې بدل شوي او د هغه د ترک او د دنیوي ژوند د پیل لپاره خلک سیکولر تعلیم ته ور روان او د اسلام له دعوو سره د کفر په لمنه کې خپل عزت لټوي او فکر کوي چې مونږ به دلته عزتمند شو.

که له سیکولر تعلیم زده کولو څخه د اسلامي امت نظمي پیشرفت لکه د ټانګ او طیارې جوړول مطلب وي نو دا خو تیار کشف شوي شیان دي او درسي محتویات یې بشه پریمانه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره کتابخانه کې موندل کېږي او اوس خو په انټرنېټ کې د هر څه ویډیویي درسونه شته، پرته له مبالغې راشه حتی د هر نټ او بولټ له اندازې سره یې له الفه تر یاء دروښیو خو آیا تاسو به یو ځو شیبې وخت د جهاد په نیت د اسلامي امت د اجتماعي پرمختګ علومو ته ورکړئ؟

حتماً به د جهاد نوم په تاسو درون پرېوځي او غوره والی به دنیوي ذلیل ژوند ته ورکوئ او یا به وایئ چې دا زمونږ له انفرادي اقتصاد، قوت او وړتیا څخه پورته خبره ده او دا کار باید یو نظام او حاکمیت وکړي...!

ښه خبره ده خو اول دا چې تاسو خو د همدې پرمختګ په دعوې سیکولر تعلیم ته ور روان یاست اوس ولې وایئ چې دا زمونږ له وړتیا پورته خبره ده؟ مونږ یې چې مستقیماً په رښتیا درښیو له وړتیا پورته خبره شوه او هغوی یې چې نه درښیي ور روان یاست او همغه غولوونکي شعارونه بیانوئ چې د پرمختګ لپاره سیکولر تعلیم وایو؟ ځان سره چلونه او خدعې کوئ که له الله سره؟

ددې شیانو جوړول په رښتیا هم د نظام او حاکمیت دنده ده تر څو یې جوړ کړي او تر څو چې نظام او حاکمیت پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي نشي او د بين المللي کفارو له قيد او بند څخه خلاص نشي ناشونې خبره ده چې اسلامي امت دې د تعليم له لارې پرمختګ وکړي، نو له هر څه مخکې الهي شريعت، الهي نظام او حاکميت قائمول پکار دي چې هغه اسلامي خلافت ده چې بايد مرسته ورسره وشي خو ای افسوس زمونږ ځوانانو جهاد او قتال ترک کړی او خپل وخت په مکتب او پوهنتون کې د بل د روزنې په غېږ کې د پرديو تګلارو او الهاماتو د ترلاسه کولو لپاره تيروي نو څرنګه به پرمختګ او يا د هغه مصداق په اسلامي امت کې ممکن شي؟!!

او تر اوسه که مسلمانانو توپ جوړ کړی، که ټانګ که طياره دا کار يې په جهادي سنګر کې کړی نه په سيکولر مکتب او پوهنتون کې چې روښانه مثال يې په شام، عراق، خراسان او د اسلامي خلافت په ګڼ شمېر نورو ولايتو کې د خلافت د مجاهدينو له لوري د ډرون او د يادو نورو وسائلو جوړول يادولی شو.

نن چې په اسلامي امت هره بلا راغلې هغه د قتال في سبيل الله د ترک له امله پرې راغلې او په ټول امت کې قتال نده ترک شوی مګر د همدې سيکولر تعليم له امله چې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانان يې له ځان سره په صنفونو کې يرغمل کړي او اجازه نه ورکوي چې د اسلام علياء اهداف تعقيب کړي.

البته د تعليم د مطلقو مخالفينو گمان راباندې مکوئ لکه څرنگه چې سيکولران بعضې خلک په همدې شعار بد او منفور بولي چې فلان جهت د تعليم او پرمختگ مخالفين دي بلکې مونږ د هغه سيکولر تعليم کلک مخالفين وبولئ چې د پرمختگ په ځای يې اسلامي امت د پراخ شاتگ لوري ته سوق کړی.

## سيکولر تعليم سره څه وکړو؟!

بعضې نيکان خلک وايي چې که خپلو ماشومانو ته څوک ددې تعليم ترديد وکړي نو بيا پروا نکوي چې هلته ورواستول شي، خو مونږ لدې خبرې سره مخالف يو ځکه خبره يوازې دا نده چې يو څوک ددې تعليم په مفسداتو خبر شي او که بيا پکې ښکېل هم شي نو پروا نکوي بلکې دې تعليم ته که زه او ته هم ورشو د سيکولريزم له فتنې پکې خلاصون نلرو او الله سبحانه وتعالی هم فرمايلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَافَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿النساء: ١٤٠﴾**

**ژباړه: الله په دې کتاب کې تاسو ته پخوا امر کړيدی چې که په هر ځای کې واورئ چې د الله د ايتونو په خلاف اواز پورته کيږي او مسخرې ور پورې کيږي هلته مه کښينئ، تر هغه چې خلك په کومه بله خبره کې مصروف شي، اوس که تاسو داسې وکړئ نو تاسي هم د هغو په څېر ياست، باور ولرئ چې الله منافقان او کافران په دوزخ کښې يو ځای راغونډوي.**

همدارنگه الله عزوجل فرمايلي چې:

**فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿الأنعام: ٦٨﴾**

**ژباړه: نو ته د يادېدلو نه پس (يا له نصيحت کولو نه وروسته) د ظالمو خلکو سره مه کښېنه.**

په همدې اساس دا خبره صحيح نده چې يو څوک خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو ته ددې تعلیم تردید وروښیي او بیا یې له هغوی سره کښېنوي او د سیکولرانو د تربیې ځولۍ ته یې ورواچوي ځکه کله چې د جوارو یوه دانه د ژرندې د دوو پلونو تر منځ راشي نو روغ وتل ترې ناممکن وي، یو خو هلته مجبوراً هر شاګرد روزانه د سیکولریزم تمرین کوي او ستاسو د اولادونو هم هېڅ خلاصون ځنې نشته او دوهم دا چې آیا تاسو پوهیږئ چې ستاسو د ماشوم همصنفیان څوک دي؟ ستا اولاد د چا شاګرد او له څه ډول خلکو سره ناسته پاسته کوي؟ له چا رنګ اخلي؟ ددې تنکي ماشوم په عقل څومره باوري یې او څه ضمانت کولی شې چې هغه به د نورو سیکولر طلبګارانو په څېر سیکولر کیږي نه؟ آیا ددې ټولو خبرو ضمانت کولی شې؟ او څه ضمانت کوې چې ستاسو تنکي اولادونه به هلته له کوم چا سره د ګرل فرینډ او بوای فرینډ په خرتوب او فحاشي نه سر کیږي او د اسلامي نظام د علیاء اهدافو څخه به غافل کیږي نه؟ آیا شته ددې خبرو ضمانت؟

په تېرو صفحو کې واضحه شوه چې سیکولر تعلیم د اسلامي امت د ځوانانو د وروسته تګ لوی عامل، ددوی د وخت د ضیاع کارنده لامل او له علیاء اهدافو یې غافلوونکې وسیله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مطلق شمول پکې ټول کفري اهداف زمونږ په اولادونو کې حقيقت ته رسوي او دې تعليم ته اجازه خو به د اسلامي امت ټولو ځوانانو ته په ترک د جهاد او هجرت اجازه ورکول وي.

همدارنګه که چيرې خبره لدې تعليم څخه د برائت شي نو بعضو علماء کرامو يوازې ددې تعليم له ځينې مسلکونو او پوهنځيو څخه لکه په سيکولر تعليم کې د حقوقو پوهنځۍ چې څارنوالان او نور مرتدين فارغوي برائت کړی او نورې هغه پوهنځۍ چې عام مسلکونه دي هغه يې مباح بللي خو دا تقسيم هم غلط ده ځکه يو خو په سيکولر نظامونو کې د يوې پوهنځۍ فارغ اکثره په هغه مسلک کې په دنده نه ګومارل کيږي مثلا د حقوقو يو فارغ ممکن معلم شي او د زراعت يو فارغ لاړ شي په کفري محاکمو کې محرر يا بل مرتد موقف ترلاسه کړي نو پدې صورت کې پدې تعليم کې صرف د يو څو خاصو مسلکونو څخه بېزاري او نورو سره دوستي باطله کيږي ځکه ددوی ټول فارغين د دسيکولر نظامونو مامورين وي او بس.

همدارنګه که خبره صرف له مسلک څخه د بېزاري شي نو مخکې لدې مسلکه ددوی د مکتب سيکولر نصاب هم کافي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضلالتونه او مفسدات لري چې یادونه یې په تېرو صفحو کې وشوه نو هره ورځ چې ستا ماشوم د وطنیت ترانه د لین په سر زمزمه کوي او په احترام چوپ لاس په سینه ورته ولاړ وي او په لسګونو نور سیکولر الهامات هلته اخلي د هغه حل لاره به څه وي؟ او یا چې په همدې مکتب کې د سیکولریزم د ارکانو په اساس د ښځو او نرانو د مساواتو اصل ستاسو د اولادونو په وجود په اسلامي امت کې حقیقت ته رسېدلی د هغه په اړه څه کول پکار دي؟

په همدې اساس که څوک غواړي چې له سیکولر تعلیم څخه بېزاري وکړي نو ددې تعلیم له دریو جهتونو څخه دې بېزاري وکړي:

الف: د سیکولر تعلیم له نصاب څخه بېزاري.

ب: په سیکولر تعلیم کې د مستقیماً کفري معنویاتو﴿لکه حقوق وغیره﴾او مسلکونو څخه بېزاري.

ج: په سیکولر تعلیم کې له اړوندو مامورینو، معلمینو او ددوی له خدماتي پرسونل لکه چپراسي وغیره څخه بېزاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او پدې اړه مجاهدينو ته خاص پيغام دا لرم چې هر کله مجاهدينو د لسو سيکولر نظاميانو په ځای يو سيکولر معلم په هلاکت ورساوه نو همغه ورځ د شکر سجدې اداء کړئ ځکه پدې ورځ به اسلام بريالی شوی او کفر به مغلوب شوی وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکې د پروژې څلورم رکن: (جمهوریت یا ډیموکراسي)

په سیکولریزم کې د حاکمیت د رامنځته کولو ډول او طریقه ډیموکراسي ده چې پدې کې عام اکثریت ته د حاکم د ټاکلو حق ورکول کیږي خو دوی تش یو حاکم نه بلکې په حقیقت کې شارع ټاکي او د هغه دنده قانون یا شریعت جوړول وي او هغه بیا تش د یو امیر یا مشر په حیثیت نه بلکې د فرعونیت او الوهیت درجه ورکول کیږي ځکه هغه ته د قانون یا شریعت جوړولو واک ورکول کیږي او دا همغه کفر او شرک ده چې د حاکمیت په توحید کې یهودو کاوه او الله سبحانه وتعالی یې په اړه فرمایلي چې:

**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ[التوبة : ٣١]**

**ژباړه: ﴿یهودو﴾ خپل علماء او مشران پرته له الله معبودان (حلالوونکي او حراموونکي) نیولي ؤ او همدارنګه مسیح زوی د مریم هم او دوی ته امر نه ؤ شوی مګر ددې خبرې چې ﴿د حاکمیت په ډګر﴾ کې یوازې او یوازې د یو الله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عبادت وکړي، نشته حقدار د بندګي ﴿په حلالولو او حرامولو کې﴾ مګر همغه الله، الله عزوجل پاک ده د هغه ﴿کاندیدانو او قانونسازانو ورسره له شریکولو ثخه چې﴾ دوی یې ﴿د حاکمیت په توحید کې﴾ ورسره شریکوي.**

ابن کثیر او ابن أبي حاتم پخپلو تفاسیرو کې د یاد آیت په تشریح کې له عدي بن حاتم رضي الله عنه نه روایت نقل کړی چې هغه فرمایلي: زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته ورغلم پداسې حال کې چې هغه صلی الله علیه وسلم دا آیت چې اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ تلاوت کاوه نو ما ورته وویل چې ای رسول الله، یهودانو خو د خپلو مشرانو او علماؤ عبادت نه ؤ کاوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: **بَلَى، إِنَّهُمْ حَرَّمُوا عَلَيْهِمُ الْحَلَالَ، وَأَحَلُّوا لَهُمُ الْحَرَامَ، فَاتَّبَعُوهُمْ، فَذَلِكَ عِبَادَتُهُمْ إِيَّاهُمْ" (ترمذي و احمد)**

**ژباړه: هو، هغوی ﴿د یهودو مشرانو او علماؤ﴾ به حلال حرامول او حرام به ئې حلالول، هغوی به په همدې کې ﴿د خپلو مشرانو او علماؤ﴾ تابعداري کوله نو همدا ددوی عبادت ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه الله عزوجل د حاکمیت د توحید په اړه پخپل کلام کې فرمایلي چې:

**وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا[كهف : ٢٦]**

**ژباړه: او هغه پخپل حکم ﴿پادشاهي یعنې حلالولو او حرامولو یا قضاوت او حاکمیت﴾ کې هېڅوک له ځان سره نه شریکوي.**

هغه خلک چې د حاکمیت مطلق حق کاندید فرعون ته ورکوي الله عزوجل ورته فرمایي:

**أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّين مَالَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿الشورى: ٢١﴾**

**ژباړه: آیا ددوی (رأیه ورکوونکو) لپاره داسې شریکان (کاندیدان) شته چې ددوی لپاره یې له دین ﴿قانون﴾ څخه هغه لاره مقرره کړې ده چې الله عزوجل د هغې اجازه نده کړې؟ او که چیرې د فیصلې خبره نه وی ﴿نو﴾ ددوی په منځ کې به خامخا فیصله شوې وای او بېشکه ظالمان چې دي ددوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه الله عزوجل د اکثريت فيصله تل مردوده بللې او د اکثريت د متابعت په اړه يې فرمايلي چې:

**وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿الأنعام: ١١٦﴾**

**ژباړه: او که چيرې ته د ځمکې پر مخ د اکثريت اطاعت وکړې دوی به تا د الله عزوجل له لارې ګمراه کړي، دوی يوازې د ګمان پيروي کوي او دوی يوازې اټکل چلوي.**

د پورته آيت په اساس د اکثريت فيصله په اټکل بناء ده نه په واقعيت، حقيقت او دقت او د اټکل کوونکو په اړه بيا الله عزوجل بيا فرمايلي چې:

**قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ﴿الذاريات: ١٠﴾**

**ژباړه: اټکل کوونکي دې هلاک کړی شي.**

خو نن د ټولو سيکولرانو د حکومت تګلاره د اکثريت په متابعت او اټکلونو بناء او دول يې د يهودو له شرک سره مشابه ده، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون کې له الله عزوجل سره برخه داران جوړوي او هغوی ته د حلالولو او حرامولو واک ورکوي.

دا چې نن اکثره خلک د سیکولر جمهوریت یا ډیموکراسي بندګان ګرځېدلي او د سوء ملایانو له طرفه خو بعضو ته په انتخاباتو کې ګډون واجب او د ثواب کار هم ورښودل شوی نو لازمه ده تر څو وخېږو چې پدې جهل کې د کفر او ګمراهي کوم کوم ډولونه شتون لري؟ هغه څوک چې رأیه ورکوي هغه د کفر په ګڼ شمیر انواعو کې مبتلاء کیږي چې په لاندې عنوان کې به بحث ورباندې وکړو.

## په رأیه ورکولو کې د کفر ډولونه:

هر څوک چې په ډیموکراټیکو ټاکنو کې ګډون وکړي هغه د کفر او ګمراهیو په هغو ډولونو کې مبتلاء کیږي کوم چې د وضعي قوانینو په متابعت کې شتون لري، سره لدې چې هغه په تفصیلي بڼه د سیکولر وضعي قوانینو په برخه کې بیان شول خو بیا به هم د کفر او ګمراهیو د هغو ډولونو غټ ټکي دلته تکراراً راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) د حاکميت په توحيد کې له الله سبحانه وتعالی سره شرک کول.

2) د کفارو اطاعت کول.

3) د بغير ما أنزل الله قوانينو متابعت.

4) الهي شريعت (قانون) نيمگړی بلل.

5) له الهي شريعت (قانون) څخه کرکه لرل.

6) الهي شريعت (قانون) لدې زمانې سره نامناسب بلل.

7) د غير الله د رضامندي طلب.

8) د طاغوت عبادت.

9) تحاکم الی الطاغوت.

10) له کفارو سره مشابهت کول.

شيخ أبو مصعب الزرقاوي تقبله الله د ډيموکراټيکو ټاکنو اړوند کانديدان او رأيه ورکوونکي دواړه تکفير کړي او پدې اړه يې پخپل بيان (ولتستبين سبيل المجرمين) کې فرمايلي چې:

والمرشحون للانتخاب هم ادعياء لربوبية والالوهية والمنتخبون لهم قد اتخذوهم اربابا من دون الله و حكمهم في دين الله الكفر والخروج عن الاسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: او انتخاباتو ته کانديدان د ربوبيت او الوهيت دعوه داران دي او دوی ته رأيه ورکوونکي يقيناً دوی پرته له الله معبودان نيسي او د الله عزوجل په دين کې ددوی حکم کفر او له اسلامه وتل دي.**

## د کانديدانو کمپاينونه که د جهنم دروازو ته دعوتونه؟!

يقيناً رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت ته د هرې زمانې جهل او د اړوندو عاملينو نښې نښانې د خپلو مبارکو وړاندوينو په ترڅ کې بيان کړي او بار بار يې په يوه امام د راټولېدو توصيې امت ته کړي، په همدې اړه په آخره زمانه کې د بعضو گمراهو فرقو په اړه لاندې مبارک حديث ته توجه وکړئ.

**عن حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ قال قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: "يَكُونُ دُعَاةٌ عَلَى أَبْوَاب جَهَنَّمَ، مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوهُ فِيهَا. قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّه، صفْهُمْ لَنَا. قَالَ:"هُمْ قَوْمٌ منْ جِلْدَتِنَا، يَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا" قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذَلكَ؟ قَالَ: "فَالْزَمْ جَمَاعَةَ الْمُسْلمِينَ وَإِمَامَهُمْ". قلت: فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلَا إِمَامٌ! قال: فَاعْتَزِلْ تِلْكَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الْفِرَقَ كُلَّهَا، وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ بِأَصْلِ شَجَرَةٍ حَتَّى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ كَذَلِكَ"**

**ژباړه: حذيفه بن يمان رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د جهنم د دروازو لوري ته به دعوتگران وي، چا چې ددوی دعوت قبول کړ هغه پکې وغورځېد، ما ورته وويل چې يا رسول الله ددوی ځانگړني مونږ ته ووايه، هغه وفرمايل: دوی به زمونږ څخه وي، زمونږ په ژبه به خبرې کوي، ما ورته وويل چې: نو ته څه امر کوې ماته که چيرې دې حالت زه لاندې کړم؟ ويې فرمايل: د مسلمانانو له جماعت ﴿خلافت﴾ او ددوی له امام ﴿خليفة المسلمين﴾ سره يو ځای شه، ما ورته وويل: نو که چيرې پدې وخت کې مسلمانانو لره خلافت او خليفة المسلمين نه وي؟ ويې فرمايل: نو لدې ټولو ډلو څخه ځان وساته سره لدې که ﴿د لوږې يا مجبوري له وجې﴾ د ونې په تنې خوله لگوې، تر دې چې مرگ درته راشي او ته په همدې حالت کې وې.**

له پورته مبارک حديث څخه لاندې نکتې تر لاسه کيږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## • د جهنم دروازو ته دعوتگران:

نبي عليه السلام په آخره زمانه کې د داسې طائفې په اړه خپل امت ته خبر ورکړی چې هغوی به خلک د جهنم دروازو ته دعوت کوي او هر څوک چې ددوی دعوت ومني هغوی به جهنم ته گوزار شي.

عجيبه ده چې پداسې ځانگړنو به يوه طائفه پيدا کيږي چې د هغوی کفر ډول په دعوتونو بناء او همدا يې اصل خاصيت وي، د دعوت په واسطه خلک کافران کوي او مطلق ددوی د دعوت په قبلولو يو سړی جهنم ته گوزاريږي.

نن په رښتيا هم همداسې يو جهل په ټوله نړۍ مسلط شوی، نن د سيکولر نظامونو د حاکميت د تعين ډول په دعوتونو بناء ده، هر کله چې کوم ډيموکراټ کانديد د فرعونيت څوکۍ ته ځان کانديد کړي نو فوراً دعوتونه پيل کړي، پدې لاره کې درانه درانه مصارف کوي، د مؤثر دعوت لپاره د ځان په صفت شعارونه چاپوي، د ښه دعوت د چلولو لپاره مېلمستياوي کوي، د خلکو کورو ته خوراکي مواد او مرستې رسوي، د فقيرانو پوښتني او د هغوی جنازو ته ورځي، دا هر څه دوی يوازې او يوازې د خپل دعوت د کاميابي لپاره کوي چې په ترڅ کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک د ځو ځو ډوله کفر مرتکبين ګرځي او د معاصر سيکولر او ډيموکراټ کفر په فتنه کې واقع کيږي او دا همغه دعوت کوونکي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په اړه مونږ ته خبر راکړی.

- **دوی به زمونږ په ژبه خبرې کوي:**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې ياد دعوت کوونکي به زمونږ په ژبه خبرې کوي، يعنې دوی به هم د اسلام دعوې کوي.

نن ليدل کيږي چې د سيکولريزم او ډيموکراسي بندګان د اسلام له ټولو اوچتې دعوې لري، د خپلو اشتهاراتو په عکسونو کې همدا فرعونيان اسلامي جامې اغوندي، قرآن کريم سره عکسونه اخلي، تسبيح يې په لاس او قرآني آيتونه پخپلو اشتهاراتو کې چاپوي او حتی خپل همدې جهل ته د جهاد نوم ورکوي، او بيا وروسته لدې چې نظام يې په پښو ودريږي خپلو هلاکو شوو ته په اسلامي تقدساتو ژمن هغوی شهيدان بولي، د خپلو بيرغونو په منځ کې د توحيد کليمې چاپوي، پخپلو ټانګونو د الله اکبر الفاظ ليکي، تر دې چې له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامونو سره د اسلامي کلمه هم کاروي او د بعضو په بيرغ کې خو د توحيد پوره کلمې هم ليکل شوې وي خو په سيکولر اساساتو به کلک ايمان لرونکي وي.

دوی حتی دا هم وايي چې له همدې لارې د اسلام ګټل ممکن دي او دوی خپلې مبارزې ته د اسلامي مبارزې نوم ورکوي ځکه خو هم رسول الله صلی الله عليه وسلم د يادو دعوتګرانو په اړه فرمايلي چې دوی به زمونږ په ژبه خبرې کوي.

- ## پدې وخت کې له خلافت سره بيعت وکړئ:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې ددغو دعوت ګرانو د ظهور پر مهال تاسو د مسلمانانو له امام (خلافت يا له اسلامي نظام) سره يو ځای شئ او نورې ټولې ډلې او فرقې ترک کړئ.

دغو دعوت ګرانو ته مونږ د سيکولر او ډيموکراټو کانديدانو نوم له همدې امله ورکوو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ددوی د متابعت په ځای د اسلامي نظام د متابعت توصيه امت ته کړې لدې څرګنديږي چې دعوت ګران به هم د يو ډول کفري حاکميت لور ته خلک دعوت کوي او د مسلمانانو امام او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلافت هم د نظامونو له ډول څخه ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم ندي فرمایلي چې پدې مهال د انفرادي ژوند عباداتو لکه لمونځ، روژې وغیره پابندي زیاته کړئ بلکې دا یې فرمایلي چې د مسلمانانو له امام ﴿خلیفه﴾ او جماعت ﴿خلافت﴾ سره یو ځای شئ ځکه اصله ستونزه به د اسلامي او کفري نظامونو او حاکمیتونو وي چې له امله یې خلک د کفر په فتنه کې غورځي ځکه خو هم رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې پدې مهال له امام یا خلیفة المسلمین سره یو ځای شئ او نورې ټولې فرقې او ډلې ترک کړئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له امام المسلمین سره د یو ځای والي خبره سره لدې فرمایلې چې په تاسو که ډېره سختي هم راتله او مجبورېدلی چې د ونې په تنې د لوږې له وجې غاښونه لګوئ خو بیا هم له خلیفة المسلمین سره یو ځای واوسئ، خو سوال داده چې نبي علیه السلام پدې مهال د خلکو د ژوند د خطر خبره نه بلکې د نس خبره کړې او پدې کې څه حکمت ده؟

دا ځکه چې د جهنم دعوت ګران به د دنیویت ﴿سیکولریزم﴾ بندګان وي او نن ګورو چې خلک د دنیوي متاع موندلو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو خيټو ډکولو لپاره د همدې مستکبرينو اطاعت کوي، ددې لپاره چې مال ترلاسه کړي څوک په نظامي صف کې خدمتونه ورته کوي او څوک په ملکي صف کې او څوک د کفر په همدې دعوتونو کې ورسره برخه دار ده او عجيبه دا چې د دنيويت ﴿سيکولريزم﴾ د زده کړې لپاره دوی خپل اولادونه له ماشومتوبه ددوی تربيوي مراکزو ﴿مکتبونو او پوهنتونونو﴾ ته استوي تر څو په آينده کې دا کس پرېمانه دجالي روزي په آساني ترلاسه کړي ليرې لدې چې د حلالو او حرامو تفکيک پکې موجود وي ځکه خو رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې که له لوږې مو د ونې په تنې هم خوله لګوله بيا هم د جهنم لور ته لدې دعوتګرانو ځانونه وساتئ او له اسلامي نظام سره يو ځای شئ.

تاسو وګورئ، نن هر څوک چې له همدې سيکولر نظامونو څخه بېزاره وي هغه په قسماقسم سختيو کې مبتلاء وي، روڼ مثال يې د معاصر اسلامي خلافت د تمکين ساحې وې چې مجاهدين به په شپو شپو وږي ؤ، نه دوی او نه به يې ماشومانو د خوراک څه لرل خو سره لدې هم رسول الله صلی الله عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلم توصيه کړې چې له امام المسلمين او خلافت سره پخپل دريغ پاتې شئ.

## آيا په ډيموکراټيکو انتخاباتو کې کانديدان او رأيه ورکوونکي پوره استقلال لري؟!

په ډيموکراټيکوټاکنو خو سيکولرانو د آزادو او مستقلو ټاکنو نوم ايښی خو يادې ټاکنې هېڅکله آزادې او مستقلې ندي ځکه په لومړي قدم کې هغه ښوک چې ځان کانديدوي بايد د بين الملل په سپين ليست کې موجود او د هغوی په معيارونو برابر او تَلل شوی کس وي او که داسې نشي نو د يوه سيکولر وطن خلک که هر ښومره د يوه کس په طرفداري رأيه ورکړي هغه په بين المللي سطح د قانوني رئيس جمهور په حيث نشي پېژندل کېدی او بيا په هغه هېواد هر ډول بنديزونه او پرې کودتاګانې وي، بيا به هغوی پخپل مجلس کې ددوی نماينده ته د کېناستو اجازه نه ورکوي، په بين الملل کې يې عضويت لغو کيږي، نو پدې ټاکنو کې د څه استقلال؟

او د بين الملل په سپين لېست کې خو پوهيږئ چې هغه ښوک ځائيدلی شي چې سيکولر اصول په کامله بڼه ومني،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د اسلامي نظام او مجاهدينو په ضد له غرب سره ائتلاف ته ژمنتيا، د ښځو او نرانو مساوات منل، د مسلمانانو او کفارو مساوات منل، د بين الملل اطاعت، سيکولر ارکان لکه وطنيت منل، په بل سيکولر نظام کې مداخله نکول او هر هغه کفر چې معاصر فرعونيان پرې راضي کيږي بايد ومنل شي نو بيا به هغه کس د بين الملل په سپين لېست کې داخل او د کانديد کېدو اجازه به ورکول کيږي نو په همدې شکل کله چې د کفارو له چغل څخه يو څوک راووځي بيا عام خلک هم اجازه لري چې هغه د خپل کانديد او فرعوني حاکم په صفت وټاکي او رأيه ورکړي او که داسې نه وي نو يو قوم چې څومره زورونه ووهي چې يو کس د ټاکنو په مټ فرعوني او کفري منصب ته پخپله خوښه ورسوي کفارو ته د منلو نه ده.

په همدې اساس ويلی شو چې په سيکولر ټاکنو کې استقلال او آزادي نشته بلکې خبره له همغو کفارو جوړيږي، هغوی خلکو ته کسان ورمعرفي کوي چې فلان او فلان تاسو د خپل زعيم په صفت ټاکلی او فلان او فلان نشی ټاکلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په هر ډيموکراټ يا سيکولر وطن کې د آزادي يا استقلال ورځې څه معنا لري؟!

هر ډيموکراټ او سيکولر وطن حتماً د آزادي او استقلال په نوم يوه خاصه د اختر او خوشحالي ورځ لري، دا په حقيقت کې د سيکولريزم د دين مقدسه او عقيدوي ورځ ده او دا ورځ لکه څرنګه چې آزادي بلل کيږي د کوم چا له تسلط څخه د آزادي ورځ نه بلکې له دين او د الله سبحانه وتعالی له احکامو څخه د خلاصون او آزادي لپاره لمانځل کيږي، دا ورځ د سيکولرانو د اختر او خوشحالي ورځې دي، په همدې شعار په امريکا کې دوی د آزادي مجسمه لري چې د آزادي د مجسمې په نوم يادېږي.

د همدې ورځې تر شا ددوی د عقيدې روحانيت پټ ده، دوی پدې ورځ نوې جامې اغوندي، يو او بل ته د خاصو احساساتو په ترڅ کې مبارکي ورکوي، دوی پدې ورځ پخپلو مارکېټونو کې خاص تخفيفونه راولي او دا داسې ورځ وي لکه د بل کوم دين مقدسه ورځ چې پيروان يې لمانځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو راځو ددې سوال تفصیلي ځواب ته چې آیا د وطنیانو د سیکولر استقلالونو معنی په رښتیا د کوم چا له تسلط څخه آزادي ده او که تر شا یې کوم بل کفري معنویت پټ ده؟

د سیکولر استقلالونو څخه مطلب د چا له تسلط څخه خلاصون نه بلکې له دیني قید او بند څخه خلاصون او په ځای یې خپلو نفسي خواهشاتو ته التزام مطلب ده، دوی چې هر کله د حلالو او حرامو اراده له الله عزوجل څخه خپلو نفسونو، رأیو او خپلو نمایندګانو ته چې په حکومتي څوکیو او پارلمانونو کې ناست دي وسپاري بیا ځانونه ورته آزاد او مستقل ښکاري.

دې ورځو ته څوک د آزادي ورځ، څوک ورته ملي ورځ، څوک ورته د استقلال ورځ او څوک ورته د اتحاد ورځ وایي، ددې سیکولر اصطلاح متضاده کلمه د اشغال کلمه ده چې تل د سیکولرانو په ژبه اوړي راوړي، که لدې استقلالونو څخه د یو چا له تسلط څخه خلاصون مطلب وي نو بیا خو له هر تسلط څخه آزادي استقلال بلل کېدلای شي.

د امان الله غدار او انګریزانو لوبه په افغانستان کې استقلال او آزادي بلل کیږي خو له افغانستان څخه د روسانو وتلو ته استقلال او آزادي نه ویل کیږي، دا ولې؟ د امان الله غدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډرامه په جنتري کې هم د استقلال او آزادي په نوم لیکل شوې او د روسانو وتلو ته صرف (پیروزي انقلاب) لیکل شوي ددې علت څه ده؟

دا ځکه چې د لومړي ځل لپاره د امان الله غدار پر مهال سیکولریزم افغانستان ته راغی، د نارینه ؤ او ښځینه ؤ سیکولر مکتبونه پیل او ښځو ته په ادارو کې د کار کولو اجازې او تشویقونه ورکړل شول، په سود بناء د سیکولر اقتصادي نظام بانکونه دلته د اول ځل لپاره د همدې غدار پر مهال فعال شول، کابل ته به له مسنون دستار سره کله کله خلک نه پرېښودل کېدل او د انګریزي شپول خولۍ په سر کولو ترغیبونه به خلکو ته کېدل، د سلام په ځای انګریزي سلوټ کول او د ملحدانو قسماقسم نور عادتونه د همدې غدار پر مهال افغانستان ته راوړل شول ځکه خو د امان الله غدار راتګ ته استقلال او آزادي ویل کیږي او د روسانو د وتلو ورځ څوک د افغانستان د آزادي په نوم نه پېژني.

که لدې ورځو څخه د کوم چا له تسلط څخه خلاصون مطلب وي نو تاسو ووایئ چې چین، جرمني، ایران، لاوس، پالوا، روسیې او ایټالیې د چا له تسلط څخه ځان خلاص کړی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې فکر او روحيې د آزادي، استقلال او يا ملي ورځې لمانځي؟ خو حقيقت داده چې پدې ورځو کې يادو هېوادونو د هيچا له تسلط څخه نده خلاص کړې مګر دا چې په يادو ورځو کې دوی د دين له شروطو او قيودو څخه ځان خلاص کړی او د حلالو او حرامو واک ﴿يعنې د قانون جوړونې واک﴾ د ولسواکي يا خپلواکي يا آزادي په عنوان خپلو نفسونو ته د رأيو، پارلمانونو، صدراعظمانو او رئيس جمهورانو په جامه کې سپارلی ده.

ډېر داسې ملکونه چې صليبي ملکونه ؤ، صليبيانو نيولي او صليبيانو پرېښي ؤ او د پرېښودو ورځ يې د آزادي د ورځې په نوم نوموليې، مثلاً انګولا چې ډېری پکې عيسويان دي، عيسوي پرتګال نيولې وه او په ۱۹۷۵ کې يې پرېښود چې د عيسوي پرتګال په وتلو عيسوي انګولا نوره د حاکميت په ډګر کې د دين او پاپانو له واکه ووتله او په ځای يې د حاکميت واک ولس ته وروسپارل شو نو دا ورځ ولې ددوی د خوشحالي ورځ وبلل شوه پداسې حال کې چې ددوی د خپل دين مسيحيان ورته راغلي او بيرته ځنې تللي ؤ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقيقت داده چې په کومه ورځ سيکولر نظامونه د دينونو له اثر څخه خلاص کړې او سيکولريزم پکې راغلی همغه ورځ دوی له الله عزوجل څخه د آزادي او استقلال په صفت ټاکلې نه دا چې دادې د چا له تسلط څخه د خلاصون له امله ټاکل شوې وي، درسته ده چې په بعضو ملکونو کې له تسلط څخه د خلاصون په شکل کې يادې ورځې رامنځته شوي لکه له افغانستان څخه چې انگريزان ووتل خو هغه داسې کار ؤ چې د نصب کړل شوو او پريښودل شوو غازيانو د تيښتې غارونه به بيا هم همغه غربي هيوادونه ؤ، غرب د شکست په تصور کې خپل B پلان رامنځته کاوه او هغه داسې چې په اړوندو سيمو کې يې خپل اجنټان د فاتحينو په نوم پرېښودل، حاکميت يې ورسپاره تر څو خلک د دين په نوم پرې راټول او راوړی غربي کفر په سره سينه پرې ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکي د پروژې پنځم رکن: (سیکولر ټولنیز ژوند)

په سیکولر ټولنیز ژوند کې د مسلمانانو ژوند په کامله توګه غربي کېدو او فاحش کېدو ته سوق کیږي، د معاصر کفر پدې برخه کې سیکولر آزادیانې، همجنسبازي، د بشر د حقوقو په نوم د حیوانیت درجې انسانانو ته ورکول، بې حجابي، کم عقل او بې انصافه مساوات، د ښځو سیکولر حقوق او ګڼ شمېر نور جهالتونه شامل دي چې کفار یې په اسلامي امت کې راوستل غواړي او غواړم چې د فرعي عنوانونو په شکل په هرې برخې ځو مستقلې کرښې ولیکم.

### اول: په سیکولر ټولنیز ژوند کې سیکولر آزادیانې:

دا چې سیکولریزم له ادیانو او الهي شرائعو څخه په انکار او په ځای یې خپلو نفسي خواهشاتو ته په التزام بناء ده نو په سیکولریزم کې همدې حالت ته د آزادیانو په نوم جدا اساسات اینښودل شوي، پداسې حال کې چې الله عزوجل انسان ته پخپل ژوند کې مطلقه آزادي نده ورکړې او هغه یې له ټولو اخیستې او فرمایلي یې دي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا [الأحزاب:٣٦]**

**ژباړه: او نه ده جائز د هيڅ مؤمن او نه د مؤمنې لپاره، کله چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول د يوه کار فيصله وکړي او بيا دې ددوی لپاره په خپل کار کې (د الله او د رسول د حکم په تغير کې) آزادي وي او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو يقيناً دغه ﴿کس﴾ گمراه شو، ښکاره گمراه کېدل.**

په پورته مبارک آيت کې الله عزوجل له نارينه ؤ او ښځو مطلقه آزادي صلب کړې او په وضاحت يې فرمايلي چې د الله او د رسول د فيصلې په مقابل کې دوی آزاد نه بلکې د هغه اطاعت ته مستلزم دي، دا چې په سيکولر آزاديانو کې کومې کومې داسې آزادۍ شتته چې د الله عزوجل او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د فيصلې سره مخالفت لري په لاندې ډول به بيان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عقیدې آزادي:

د سیکولر ټولنیز ژوند په آزادیو کې د عقیدې آزادي دوی ته مهم اصل ده چې پدې کې هر انسان خپل ځان ته هر ډول عقیده چې وغواړي ټاکلی شي او پدې کار کې هیڅوک د مداخلې او انتقاد حق پرې نلري، اسلامي امت ته ددې غربي گمراهي راتگ باعث گرځېدلی چې خلک له اسلام څخه په ارتداد کې آزادي حس کړي.

پداسې حال کې چې په اسلام کې مسلمانانو ته په عقیده کې هېڅ آزادي نشته او دا کار منع گرځول شوی چې یو څوک دې غیر له اسلامه بل دین وټاکي ځکه الله عزوجل فرمایلي چې:

**وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنيُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴿آل عمران:۸۵﴾**

**ژباړه: او څوک چې غیر له اسلامه بل دین (قانون او شریعت) ولټوي هېڅکله به ځنې قبول نشي او هغه به په آخرت کې له تاوانیانو څخه وي.**

او په صحیح بخاري کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل شوي چې فرمایلي یې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عن عبد الله بن عباس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: .....من بدل دينه فاقتلوه «رواه البخاري»**

**ژباړه: د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل....: هر چا چې خپل دین بدل کړ هغه ووژنئ.**

نو له پورته نصوصو څخه نتیجه اخلو چې د سیکولریزم د عقیدې آزادي له اسلام سره په مخالفت کې قرار لري او په اسلام کې د عقیدې آزادي مردوده ده او دا د کفري اساساتو اصول دي نه د اسلام.

## د کار او کسب آزادي:

په سیکولریزم کې کسب او کار مطلقه آزادي لري او د هر چا چې هر څه خوښ شول د پیسو ګټلو لپاره یې کولی شي او هیڅوک د انتقاد حق پرې نلري سره لدې که یو چا پخپل جسم جنسي تجارت هم کاوه مطلقه آزادي پکې لري!

خو د کاروبار دا آزادي هم له اسلام سره کاملاً په مخالفت کې ده ځکه په اسلام کې بعضې کسبونه، کارونه او حتی تجارتونه حرام ګرځول شوي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اسلام کې موسيقي او ډمتوب حرام ده خو په سيکولريزم کې دا د يوه کسب په عنوان حلال ده:

الله عزوجل پخپل کلام کې فرمايلي چې:

**وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿لقمان: ٦﴾**

**ژباړه: او له هغې انسانانو څخه داسې څوك هم شته چې چټي او بابېزه خبري پيري چې خلك د الله له لاري په بې علمۍ سره گمراه کوي او ددغې لارې په بلنې پورې مسخرې کوي، د دغسې خلکو لپاره سخت سپکوونکی عذاب دی.**

امام ابن کثير رحمه الله په خپل تفسير کې د عبد الله بن عباس او عبد الله بن مسعود رضي الله عنهم څخه نقل کړې چې پدې آيت کې د (لهو الحديث) څخه مراد (الغناء) يعنې موسيقي ده.

همدارنگه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په يو حديث کې داسې روايت شوی چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عن ابي هريرة رضي الله عنه قال : نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ثمن الكلب و كسب الزمارة (رواه فى شرح السنة ـ حسن ـ ورجاله ثقات)**

**ژباړه: د ابو هريرة رضى الله عنه څخه روايت ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم منع وکړه د سپي د (تجارت) د ګټې نه او د ډمتوب له کسب او کار څخه.**

نو په اسلامي شريعت کې د کار مطلقه آزادي نشته، د همدي او نورو احاديثو په اساس د سپيو کاروبار او ډمتوب حرام ګرځول شوی او همدارنګه په يو بل حديث کې د پيشو له ګټې څخه هم منع راغلې.

**په سيکولريزم کې انځور ګري د هنر په عنوان يو حلال کسب ده خو په اسلام کې دا کار حرام ده:**

د انځور ګري په اړه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يو روايت نقل شوی چې:

**عن ابن مسعود رضي الله عنه   قال سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول : (إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ) رواه البخاري ومسلم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی چی فرمایل یی: د الله عزوجل په نزد د سخت عذاب وړ هغه خلک دي چې (د ژوندیو روح لرونکو موجوداتو) تصویرونه جوړوي.**

خو سیکولران ددې کار د عام کولو لپاره ځانګړې پوهنځی او روزنځایونه لري او په شعوري ډول دا کار یو حلال کسب بولي چې هر چا ته یې د خپل مسلک په حیث د ټاکلو مطلقه آزادي پکې ورکړې او دا پداسې حال کې ده چې د الله او رسول فیصله پدې کار کې کاملاً ددوی لدې آزادي سره مخالفت لري.

او ګڼ شمېر نور کارونه لکه سودي تجارت، جادوګري، کهانت، فالونه کتل وغیره چې اسلام حرام ګرځولي خو سیکولرانو د کسب او کار د آزادي په عنوان حلال ګرځولي دي.

## د نظر او رأیې آزادي:

په سیکولریزم کې هر څوک آزاد ده چې خپله رأیه او نظر په عامه چارو کې څرګند کړي تر څو فیصله ورباندې وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پداسي حال کې چې الله عزوجل د اکثریت، بې تجربو او بې علمه خلکو نظر پوښتنه یوازې په اټکل ولاړه بللې او دا له حکمت او پوهې څخه ډېره لیرې خبره ده، الله عزوجل ددوی په اړه فرمایلي چې:

**وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ﴿الأنعام: ١١٦﴾**

**ژباړه: او ای محمده، که ته چیرې د ځمکې پر مخ د ډېرو خلکو خبره ومنې هغوی به تا له سمې لارې گمراه کړي، هغوی تابعداري نکوي مگر د اټکل.**

همدارنگه رسول الله صلی الله علیه وسلم په آخره زمانه کې په عامه چارو کې د نا اهله خلکو د خبرو په اړه په یو حدیث کې داسي فرمایلي چې:

**سيأتي على الناس سنوات خداعات يصدق فيها الكاذب و يكذب فيها الصادق و يؤمن فيها الخائن و يخون فيها الأمين و ينطق فيها الروبيضه، قيل وما الروبيضه؟ قال: الرجل التافه يتكلم في امر العامة «سنن ابن ماجة»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول سيکولر نظامونه جهاد او قتال في سبيل الله منع او حرام کار بولي پداسې حال کې چې الله عزوجل پخپل کتاب کې بار بار امر پرې کړی او په سلګونو نصوص پرې نازل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**س: سیکولر نظامونو هجرت في سبیل الله سبحانه وتعالی هم حرام گرځولی:**

سیکولر نظامونه د یو مؤمن تگ بل ځای ته د هجرت په نیت حرام بولي او دې کار ته په غیر قانوني توگه له پولو څخه تگ راتگ یا په بل هیواد کې مداخله وایي پداسې حال کې چې هجرت د برکتونو سبب او الله عزوجل پخپل کتاب کې بار بار حکم پرې کړی.

**ص: سیکولر نظامونو انفاق في سبیل الله سبحانه وتعالی حرام گرځولی:**

هر څوک چې مجاهد في سبیل الله سره مالي مرسته وکړي سیکولر نظامونه د تروریزم تمویل ورته وایي، دوی یاد کار حرام گرځولی او بیا یې د کلونو کلونو لپاره د زندان تورو خونو ته اچوي او یا یې په شهادت رسوي.

**ط: د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر وجیبه یې منع او حرامه گرځولې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امر بالمعروف او نهی عن المنکر عظيمه وجيبه چې الله عزوجل پخپل کتاب کې ډېر ټينګار پرې کړی سيکولر نظامونو هغه منع او حرامه ګرځولې، دوی ياده وجيبه د انسان د آزاديانو د حقوقو د نقض په عنوان جرم بولي يا په عامه سلطه کې د مداخلې د نه کولو په نوم دا کار منع او حرام بولي.

او ډېر نور شيان چې الله عزوجل حلال ګرځولي سيکولرانو حرام کړي او يا الله عزوجل حرام کړي دوی حلال ګرځولي، نو په همدې اساس ډيموکراټيکو ټاکنو ته کانديد کېدل تشريع (قانونسازي) ته کانديد کېدل او دا کار کفر او له اسلامه وتل دي.

## 2. په سيکولر ټاکنو کې رأيه ورکول کفر او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې په ډيموکراټيکو ټاکنو کې ګډون وکړي او رأيه ورکړي يا په بل هر شکل په ياده پروسه کې د يادو طاغوتيانو نصرت وکړي هغه کافر او له اسلامه خارج ده ځکه په حقيقت کې دوی کانديد تش د مشري لپاره نه بلکې هغه د شارع په

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفت فرعوني منصب ته رسوي او د حاکمیت په ډګر کې هغه معبود نیسي او دا همغه د یهودو کفر ده چې الله عزوجل یې په اړه فرمایلي چې:

**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ [التوبة :٣١]**

**ژباړه: ﴿یهودو﴾ خپل علماء او مشران پرته له الله (په حلالولو او حرامولو کې) معبودان نیولي و او همدارنګه مسیح زوی د مریم هم او دوی ته امر نه ؤ شوی مګر ددې خبرې چې ﴿د حاکمیت په ډګر﴾ کې یوازې او یوازې د یو الله عبادت وکړي، نشته حقدار د بندګي ﴿په حلالولو او حرامولو کې﴾ مګر همغه الله، الله عزوجل پاک ده د هغه ﴿کاندیدانو او قانونسازانو ورسره له شریکولو څخه چې﴾ دوی یې ﴿د حاکمیت په ډګر کې﴾ ورسره شریکوي.**

ابن کثیر او ابن أبي حاتم د یاد آیت په تفسیر کې له عدي بن حاتم رضي الله عنه نه روایت کوي چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته ورغلم پداسې حال کې چې هغه صلی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



عليه وسلم دا آيت چې اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ تلاوت کاوه نو ما ورته وويل چې ای رسول الله، يهودانو خو د خپلو مشرانو او علماؤ عبادت نه ؤ کاوه نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې: **بَلَى، إِنَّهُمْ حَرَّمُوا عَلَيْهِمُ الْحَلَالَ، وَأَحَلُّوا لَهُمُ الْحَرَامَ، فَاتَّبَعُوهُمْ، فَذَلِكَ عِبَادَتُهُمْ إِيَّاهُمْ" (رواه ترمذي و أحمد)**

**ژباړه: هو، هغوی «د يهودو مشرانو او علماؤ» به حلال حرامول او حرام به ئې حلالول، هغوی به په همدې کې «د خپلو مشرانو او علماؤ» تابعداري کوله نو همدا ددوی عبادت ده.**

هر هغه څوک چې په ډيموکراتيکو ټاکنو کې ګډون وکړي د کفر په لسو(۱۰) ډولونو کې مبتلاء کيږي چې يادونه يې د امريکې د پروژې په اول رکن (سيکولر وضعي قوانين) او همدارنګه په څلورم رکن «جمهوريت / ډيموکراسي» کې په مفصله توګه وشوه خو د وضاحت لپاره به د کفر د هغو ډولونو عنوانونه يو ځل بيا هم دلته ذکر کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1- د حاکميت په توحيد کې له الله عزوجل سره شرک کول.**

**2- د کفارو اطاعت کول.**

**3- د بغير ما آنزل الله قوانينو متابعت.**

**4- الهي شريعت (قانون) نيمگړی بلل.**

**5- له الهي شريعت (قانون) څخه کرکه لرل.**

**6- الهي شريعت (قانون) لدې زمانې سره نامناسب بلل.**

**7- د غير الله د رضامندي طلب.**

**8- د طاغوت عبادت.**

**9- تحاکم الی الطاغوت.**

**10- کفارو سره مشابهت.**

### 3. په بغير ما أنزل الله سيکولر وضعي قوانينو فيصلې کول کفر او له اسلامه وتل دي:

هر هغه فيصله گر چې د الله سبحانه وتعالی په نازل شوي قانون فيصلې ونکړي او په سيکولر وضعي قوانينو فيصلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي هغه له اسلامه خارج او مرتد ده، ځکه الله سبحانه وتعالی فرمايلي چې:

**وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴿المائدة : ۴۴﴾**

**ژباړه: کوم خلك چې د الله له نازل کړي قانون سره سمې فيصلې ونه کړي، هماغوی کافران دي.**

د يادولو وړ ده چې بعضې علماء په بغير ما أنزل الله قوانينو فيصله کول مطلق کفر نه بولي او وايي چې کله کله ياد کار کفر دون کفر (گناه کبيره) وي او د کفر سرحد ته نه رسيږي، يا دوی وايي چې په بغير ما أنزل الله قوانينو باندې يوه يا دوه فيصلې کول يو مؤمن له اسلامه نشي مرتد کولی او ممکن يو قاضي د په خپله رأيه يو دوه فيصلې غلطې وکړي نو پدې کار ځوک له اسلامه نه مرتد کيږي بلکې گناهگاريږي. پورته استثنائات صحيح دي، چې قانون اسلامي وي او يو حاکم يوه يا دوه فيصلې په خپله رأيه وکړي نو يو کس نه پري مرتد کيږي، خو پدې اړه د علماء کرامو پام يوې مسئلې ته راگرځوم چې نن په سيکولر وضعي قوانينو فيصلې کول په دارلاسلام کې د کوم چا انفرادي گمراهي نده بلکې ياد کار نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دارالکفر کې په اجتماعي شکل د کفري نظامونو تګلارې دي، دوی د همدې په دفاع کې د اسلامي شريعت له اقامې څخه منع کوي او دوی ياد قوانين له کفارو څخه په اطاعت وضع کوي او بيا په مسلح ډول مؤمنان د هغه تابعداري او عبادت ته په زور او وحشت وربولي.

نو سيکولر فيصله ګر چې پرته د الله عزوجل له قانون څخه په بل قانون فيصله کوي خصوصاً د نن سبا په وضعي او سيکولر قوانينو او محلي رواجي فيصلو هغه کافر او له اسلامه مرتد ده.

## 4. طاغوتي محکمو او قوانينو ته فيصلې وروړل کفر او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې طاغوتي محکمو ته فيصلې يوسي او د قرآن او سنتو په ځای د هغوی په فيصلو راضي وي دا کس کافر او له اسلامه خارج ده ځکه الله عزوجل فرمايي چې:

**أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا [النساء:٦٠]**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: آیا تا هغه کسان ندي لیدلي چې دا دعوې کوي چې دوی په هغه څه ایمان راوړی ده چې تاته نازل کړی شوي دي او په هغه څه چې له تانه مخکې نازل کړی شوي دي؟ دوی غواړي دا چې خپلمنځي فیصلې طاغوت ته یوسي حال دا چې دوی ته د هغه نه د انکار کولو حکم شوی دی او شیطان غواړي چې دوی ګمراه کړي په ډیرې لیرې کمراهۍ سره.**

ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې فرمایلي چې:

**هذا انکار من الله عزوجل علی من یدعی الایمان بما أنزل الله علی رسوله و علی الانبیاء الأقدمین وهو مع ذلک یرید التحاکم في فصل الخصومات الی غیر کتاب الله و سنة رسوله.**

**ژباړه: دا کار له الله عزوجل څخه د هغو خلکو انکار ده چې په هغه څه چې الله عزوجل نازل کړي او په مخکېنیو انبیاؤ د ایمان دعوه لري خو له همدې دعوې سره سره د خصومتونو په باب کې غیر د الله عزوجل په کتاب او غیر د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنتو ﴿يعني په نورو قوانينو﴾ فيصله کوونکو ته فيصلې ورورېږي.**

همدارنګه د مؤمنانو په صفت کې الله عزوجل فرمايي چې:

**إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ [نور :٥١]**

**ژباړه: د مؤمنانو کار خو داده چې کله د الله عزوجل او پيغمبر لوري ته د خپلو شخړو د فيصلې لپاره وبلل شي نو وايي: مونږ﴿حکم﴾ واورېده او ومو مانه، همدغه راز خلک د بري او نجات موندونکي دي.**

همدارنګه الله عزوجل فرمايي:

**فَلَاوَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿النساء: ٦٥﴾**

**ژباړه: پس داسې نده، ستا په رب مې دې قسم وي! دوی مؤمنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی پخپل منځ کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په پېښو جګړو کې تا فیصله کوونکی ومني بیا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فیصلې په باره کې هیڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره یې ومني.**

نن د ایمان دا نړوونکی عمل هیچا ته کفر نه ښکاري، خپلې عریضې او فیصلې کفري محاکمو ته وروړي، د هغو په قوانینو او فیصلو راضي وي پداسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی په پورته آیتونو کې دا ډول خلک په واضحه له ایمانه خلاص بللي دي.

## 5. دین او سیاست جدا جدا جهتونه بلل کفر او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې دین او سیاست جدا جدا جهتونه بولي هغه مؤمن نده بلکې د کفر په فتنې کې ښکېل ده، نن مونږ سیکولران وینو چې هم لمونځ کوي او هم اسلام ته د بې دینانو په تعریف وايي چې: دین صرف د الله او د انسان د رابطې یوه وسیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطلب دین د انفرادي ژوند یو معنویت ده او باید په اجتماعي چارو او سیاست کې دخل ونلري، دا خلک په انفرادي چارو لکه لمونځ، روژه وغیره کې د الله عزوجل احکام مني او په سیاست او نظام کې د سیکولریزم عبادت کوي او دوی په حقیقت کې د دین په یوې برخې عمل کوي او په بلې لویې سیاسي برخې یې عمل نکوي او نیم دین منل او نیم نه منل کفر او له اسلامه وتل دي ځکه الله سبحانه وتعالی فرمایلي:

**إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا﴿١٥٠﴾أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا﴿١٥١﴾**

**ژباړه: یقیناً هغه کسان چې په الله او د هغه په رسول کافران کیږي او دوی غواړي چې د الله او د هغه د رسولانو په منځ کې بېلتون وکړي او دوی وائي چې مونږ په یوې برخې ایمان راوړو او په بلې برخې کافر کیږو دوی غواړي چې ددې ﴿اسلام او کفر﴾ په منځ کې ﴿بله﴾ لاره ونیسي دغه کسان پاخه کافران دي او مونږه د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله سبحانه وتعالی د نيم دين (قانون او شريعت) منلو او د نيم نه منلو کفر د يهودو کفر ؤ چې الله عزوجل ورته په اشارې فرمايلي:

**أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ﴿البقرة: ٨٥﴾**

**ژباړه: نو آيا تاسو د کتاب په يوه برخه ايمان راوړئ او په بله برخه يې کفر کوئ؟**

همدارنګه دا د شعيب عليه السلام د قوم کفر و چا چې دين او سياست په جدا ګڼلو شعيب عليه السلام ته ويل چې:

**قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ﴿هود: ٨٧﴾**

**ژباړه: هغوی ويل ای شعيبه! آيا ستا لمونځ تاته ددې حکم کوي چې موږ هغه ﴿خيزونه﴾ پرېږدو چې زموږ پلرونو به يې عبادت کاوه يا دا چې په خپلو مالونو کې چې موږ څه کول غواړو ﴿هغه پرېږدو﴾ بېشکه هم ته يقيناً ډېر تحمل والا ډېر پوه ئې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. د حاکمیت او نظام په چوکاټ کې د سیکولر وطنیت عقیده منل کفر او له اسلامه وتل دي:

هر حکومت چې د سیکولر وطنیت عقیده لري هغه د معاصر غربي او سیکولر کفر اطاعت کوي او دا کار کفر او له اسلامه وتل دي ځکه الله عزوجل فرمايلي چې:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ﴿١٤٩﴾**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! که چیرې تاسو د کافر شویو کسانو خبره ومنئ ﴿نو﴾ هغوی به تاسو ﴿ له دین نه﴾ په شا وګرځوي بیا به تاسو داسې شئ چې تاوانیان به یئ.**

همدرانګه فرمايي چې:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا فَرِيقًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ ﴿آل‌عمران: ١٠٠﴾**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی که چیرې تاسو د هغه چا خبره ومنئ (اطاعت وکړئ) چې کتاب ورکړل شوی (یهود او نصارا) هغوی به تاسو وروسته له ایمانه کافران کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې په سیکولر وطني عقیده کې کوم کوم مفسدات شتون لري د سیکولر وطنیت په بحث کې مو مفصل ذکر کړل چې د فسق، کفر یا اسلاي امت ته یې د رسېدلو اضرارو یوولس ډولونه پکې موجود ؤ او همدا کفر نن د اسلامي امت په مقابل کې جنګیږي، د همدې کفري معنویاتو په مټ کفارو له مسلمانانو اجتماعي او سیاسي دیني ارزښتونه له منځه وړي او ددوی له ژونده یې ویستلي او هم یې له دین څخه لیرې کړي دي، سره لدې چې د سیکولر وطنیت مفسدات مخکې ذکر شول خو بیا هم غواړم دلته یې لوی او مهم ټکي اجمالاً ذکر کړم.

1 - سیکولر وطنیت د کفارو د اطاعت وسیله.
2 - سیکولر وطنیت د اسلامي اخوت د له منځه تللو سبب.
3 - سیکولر وطنیت د اسلامي امت د ضعف سبب.
4 - سیکولر وطنیت د اسلامي امت د سیاسي، نظامي او اقتصادي مشترکو مصالحو د له منځه تللو سبب او هغه په برخو او حصو تقسیمېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5 - د سیکولر وطنیت د اسلامي امت د واحد امیر او واحد قیادت له منځه تللو سبب.

6 - سیکولر وطنیت د اقدامي جهاد د له منځه تللو سبب.

7 - سیکولر وطنیت د هجرت في سبیل الله د ترک کېدو سبب.

8 - سیکولر وطنیت د جهاد د قربانیو د بې فایدې کېدو سبب.

9 - سیکولر وطنیت د غیر الله لپاره د دوستي او دښمني کولو (الولاء والبراء لغیر الله) سبب.

10 - سیکولر وطنیت د اسلامي امت د تفرق وسیيله.

11 - سیکولر وطنیت د کفارو له لوري د مسلمانانو د لوبولو او خپلمنځي جنګولو وسیله.

په پورته توګه سیکولر وطني کفر نن له اسلامي امت سره جنګیږي، د همدې په منلو نن کفار له خلکو راضي کیږي او په نه منلو ورسره دښمني کوي، همدا کفر منل د معاصر سیکولر کفر اطاعت ده چې له امله یې یو انسان له اسلامه خارجیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 7. د ښځو او نرانو حقوق، درجه او امتيازات برابر بلل د معاصر سيکولر کفر رکن او منل يې د قرآن تکذيب او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې د نرانو او ښځو حقوق او امتيازات برابر او مساوي بولي هغه کافر او له اسلامه مرتد ده ځکه الله سبحانه وتعالى پخپل کتاب کې د نرانو او ښځو تر منځ مساوات رد کړي، په همدې اساس هر څوک سره لدې چې پدې اړه د الله د دين احکام ورته معلوم او حجت پرې قائم شي بيا هم ياد جهل ته معتقد وي نو دا کس د الله د کتاب تکذيب کوي، الله سبحانه وتعالى د ښځو او نرانو د درجې او فرق په اړه فرمايلي چې:

**الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ﴿النساء: ٣٤﴾**

**ژباړه: سړي په ښځو مسلط اداره چيان دي په سبب ددې چې الله عزوجل ددوی ځينې په ځينو نورو باندې غوره کړي او په سبب ددې چې دوی ﴿سړي﴾ د خپلو مالونو څخه خرچه کوي.**

همدارنگه فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿البقرة: ٢٢٨﴾**

**ژباړه: او په دوی ﴿ښځو﴾ باندې د سړيو لپاره يوه درجه ﴿لوړتيا﴾ شته.**

او همدارنګه د ميراث او شاهدي ورکولو په اړه ډېر نور آيتونه چې د سړيو او ښځو برابروالی پکې رد شوی، الله عزوجل په وضاحت سره د ښځو او نرانو تر منځ مساوات او برابري پخپل کلام کې رد کړي خو سيکولر مرتدين يې مساوي او برابر بولي او دا کار د قرآن تکذيب او د معاصر سيکولر کفر له عقايدو او ارکانو څخه د يوې عقيدې او رکن منل دي او هر څوک چې د الله عزوجل تکذيب کوي په اړه يې الله عزوجل فرمايي:

**فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَبِآيَاتِهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ﴿يونس : ١٧﴾**

**ژباړه: نو له هغه چا لوی ظالم څوک ده چې په الله باندې دروغ تپي يا د هغه د آيتونو تکذيب کوي، بېشکه شان داده چې مجرمان به خلاصی ونه مومي.**

### 8. له جهاد څخه کرکه لرل کفر او له اسلامه وتل دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک چې د سستي له امله جهاد نکوي هغه ګنهګار ده خو څوک چې د جهاد فريضه ناخوښه ګڼي پداسې ډول چې د معاصرو سيکولرانو په څير يې مطلقه په بربادي او تباهي توجيه کوي، د کفارو پروژې يې بولي او يا دا کار د اسلام په تاوان بولي نو دا کس کافر او له اسلامه خارج ده، الله سبحانه وتعالی د مديني منورې د هغو منافقينو په اړه چې د جهاد په مقابل کې يې د ننيو سيکولرانو په څير کرکه څرګندوله او خپلو عقلونو او حکمتونو ته يې پرې وړانديوالی ورکاوه فرمايلي چې:

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَاتَنفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ﴿٨١﴾

ژباړه: (له جهاده) وروسته پاتې کړی شوي خلک د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه شاته، په خپلو کېناستو باندې خوشحاله شول او دوی بده وګڼله چې په خپلو مالونو او ځانونو سره د الله عزوجل په لاره کې جهاد وکړي او ﴿دوی﴾ وويل: تاسو په ګرمي کې ﴿دې غزا ته﴾ مه ځئ، ته ورته ووايه: بېشکه د جهنم اور د ګرمی په لحاظ ډېر سخت ده که چيرې دوی پوهېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او الله عزوجل بیا همدوی ته د سورة په ادامې په ۸۴ نمبر آیت کې فرمایي چې:

**إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ﴿التوبة : ۸۴﴾**

**ژباړه: بېشکه دوی (د جهاد بد ګڼونکي) په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي او مړه شوي پداسې حال کې چې نافرمان ؤ.**

او د الله عزوجل له احکامو څخه کراهیت لرل خو واضح کفر ده ځکه الله تعالی په سوره محمد کې هم د کفارو یو صفت همدا بیان کړی چې:

**ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ﴿محمد: ۹﴾.**

**ژباړه: دا لدې وجې چې دوی له هغه څه چې الله عزوجل نازل کړي بد وګڼل نو ددوی (نیک) اعمال (د کافر کېدو له وجې) برباد شول.**

نن هم د خلکو یوه لویه برخه له قتال في سبیل الله څخه نه یوازې دا چې ناست دي بلکې د الله تعالی د دین دغه عظیمه فریضه ناخوښه هم ګڼي، په واضحو ټکو یې د کفارو دسیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولي، دا کار تباهي او بربادي ورته بریښي، له حکمت او هوښیاري یې لیري بولي والعیاذبالله او حل لاره د جهاد په ځای د قلم ﴿یعني د سیکولر حکومتونو د ماموریت له لارې﴾ خدمت کول په ګوته کوي او دا همغه د مدینې منورې د منافقینو وروڼه دي چې الله سبحانه وتعالی په حکم خپل عقلونه او حکمتونه مقدم بولي او دا همغه خلک دي چې الله سبحانه وتعالی پخپل کلام کې تکفیر کړي دي.

## 9.هر څوک چې دا عقیده ولري چې د قتال في سبیل الله ټوله رهبري د کفارو لاسو ته لوېدلې، هغوی یې اداره کوي او دا د هغوی په ګټه کار ده نو دا کس له اسلامه مرتد ده:

هر څوک چې دا عقیده لري چې قتال في سبیل الله د کفارو سازش او بشپړې چارې یې کفار تنظیموي، دا کار د کفارو په ګټه او د مسلمانانو په تاوان او مجاهدین ټول د کفارو جاسوسان دي او د هغوی پروژه ده نو دا خبره کفر، له اسلامه وتل او د قرآن تکذیب ده ځکه الله سبحانه وتعالی پخپل کلام کې د مجاهدینو په فضیلت شاهدي ورکړې او هغوی یې نیک خلک بللي دي، الله عزوجل پدې اړه فرمایلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿النساء: ٩٥﴾**

**ژباړه: او الله سبحانه وتعالی مجاهدینو ته په ناستو کسانو په لوی اجر بهتري ورکړې ده.**

همدارنګه الله عزوجل مجاهدینو ته د مؤمنانو په خطاب فرمایلي چې:

**لَٰكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ وَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿التوبة: ٨٨﴾**

**ژباړه: (له جهاد څخه د ناستو خلکو برعکس پیغمبر او هغو کسانو چې له پیغمبر سره یې ایمان راوړی ؤ په خپل سر او مال سره یې جهاد وکړ او اوس ټولې ښېګڼې د هماغو لپاره دي او همغوی د بري موندونکي دي.**

همدارنګه الله عزوجل فرمایلي چې:

**وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿النساء: ١٤١﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژباړه: او الله عزوجل به هېڅکله د کافرانو لپاره په مؤمنانو باندې (دغلبې) څه لاره جوړه نکړي.

خو نني سيکولران وينو چې دا يې لازمې عقيده ګرځولې چې د جهاد رهبري اوس د کفارو لاسو ته لويدلې او چارې يې هغوی تنظيموي، دوی عقيده لري چې د اسلامي دين ټول سياست د کفارو په لاسو کې ده او د النساء د ۱۴۱ آيت څخه په انکار عقيده لري چې الله کفارور ته په مؤمنانو (اسلام) لاره ورکړې او دا عقيده لرل د قرآن تکذيب، کفر او له اسلامه وتل دي.

البته پدې مسئلې کې لږ تفصيل شتون لري او هغه دا چې که کوم څوک له جهاد څخه منحرفې او د کفارو د اصولو منونکې ډلې لکه طالبان وغيره... پدې دايره کې شاملوي دا کفر نده بلکې د حق بيان ده خو په مطلق ډول هر مجاهد ته دا نسبت له جهاد څخه د کرکې لرلو په ډول کول او هيڅ فرق نه پکې کول کفر او له اسلامه مرتد کېدل دي، ځکه علاوه له پورته ذکر شوو آيتونو رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د قيامت تر ورځې د مجاهدينو او د جهاد شتون پخپلو احاديثو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصديق کړی چې دا احاديث به د کتاب په آخري او د منصورة طائفو په برخه کې ان شاءالله نشر کړو.

## 10. د الله عزوجل د کلام تکذيب کول کفر او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې د الله عزوجل د کلام تکذيب وکړي هغه له اسلامه خارج او مرتد ده ځکه الله عزوجل فرمايلي چې:

**فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ إِنَّهُ لَايُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ﴾يونس : ١٧﴿**

**ژباړه: او له هغه چا څخه به غټ ظالم څوك وي چي پر الله د دروغو بهتان وواېي، يا د الله نښانې درواغ وګڼي؟ - دا يقيني ده، داسي ظالمان هيڅکله برى نه شي موندلاى.**

نن د خلکو يوه لويه برخه د الله عزوجل د کلام تکذيب کوي، سره لدې چې د الله سبحانه وتعالی په آيتونو حجتونه ورباندې قائميږي خو دوی بيا هم د الله د کلام په مقابل کې د سيکولريزم کفري اساساتو ته وړانديوالی ورکوي او هغه د اسلام په مقابل کې په مسلح او اجتماعي توګه په اسلامي امت تطبيقوي چې د ښځو او نرانو مساوات، د مؤمنانو او کفارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مساوات او وغيره صورتونه د مثال په ډول يادولی ش، همدا د الله عزوجل د آيتونو د تکذيب په معنی ده ځکه الله سبحانه وتعالی فرمايي چې نران او ښځې ندي برابرې او دوی وايي چې نه برابرې دي، الله سبحانه وتعالی فرمايي چې مؤمن او کافر ندي برابر او دوی وايي چې نه برابر دي، الله عزوجل فرمايي چې له کفارو سره دوستي حرامه ده او دوی وايي چې نه دا پوهه او هوښياري ده، په همدې ډول په اجتماعي امورو کې بله هره گمراهي چې الله سبحانه وتعالی گمراهي بللې دوی يې هدايت، حکمت، پوهه او هوښياري بولي دا د الله سبحانه وتعالی د کلام تکذب ده، نعوذبالله من ذلک، چې دا کار کفر او له اسلامه وتل دي.

## 11. معاصرو نړيوالو کفارو سره د بين الملل په اصولو سوله کول يا د نړيوال امنيت له پروسې سره يو ځای کېدل کفر او له اسلامه وتل دي:

هر نظام چې له نړيوالې سولې سره پيوست شي هغه له اسلامه خارج او مرتد نظام ده، ځکه د نړيوالې سولې په پروسه کې هغه خلک منل کيږي چې هغوی له کفارو سره په سپين

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليست کې شامل او د هغوی د سيکولر ارکانو پوره اطاعت کوي، د همدې اطاعت بعضې مثالونه به په لاندې ډول بيان شي.

## د نړيوال امنيت په پروسه کې د منل کېدو لپاره د کفارو شرطونه:

له معاصرو کفارو سره د سولې په بين المللي پروسه کې يو ځای کېدل ايمان اخيستونکو شرطونو منلو ته اړتيا لري چې بعضې يې په لاندې ډول دي.

**اول شرط: د الله سبحانه وتعالی په لاره کې نړيوال قتال ترک کول او د نړيوالو مجاهدينو په ضد له کفارو سره ائتلاف کول:**

هر څوک چې غواړي چې د کفارو د نړيوالې سولې له بهير سره يو ځای شي هغه بايد قتال في سبيل الله يا ددوی په اصطلاح «تروريزم» د تل لپاره ترک کړي او نه يوازې دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترک يې کړي بلکې د مجاهدينو په ضد هم بايد له نړيوالو سره ائتلاف وکړي او د هغه چا په مقابل کې جنګ وکړي چې د بين المللي کفارو اطاعت نکوي.

د کفارو د سولې له پروسې سره يو ځاى کېدل ددې ګمراهي په منلو ممکنه کېداى شي، کله چې قتال ترک او برعکس د قتال في سبيل الله په مقابل کې له کفارو سره يو لاس شي نو بيا د هغوى په سپين ليست کې شامل او سوله يې ورسره ممکنه کيدلى شي.

**په نړيوالو اصولو برابره عمومي عفو کول:**

هر څوک چې غواړي په بين المللي امنيت کې عضويت ترلاسه کړي نو هغوى بايد په سياسي او نظامي بڼه ټولو مرتدينو ته عمومي عفو اعلان کړي، پدې پروسه کې بيا څوک داسې نشي ويلى چې فلان د اسلام له نظره واجب القتل ده، مرتد ده او له کفارو سره يې د مؤمنانو په مقابل کې تړون کړى ؤ، نو کله چې پدې برخه کې اسلامي شرائع ترک او په غربي فکر ټولو ته بې له قيد او شرطه عفو وشي هغه مهال به ياد جهت د کفارو د سولې په پروسه کې منل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ژوندی مثال د افغاني طالبانو ده چې د کفارو د اطاعت په چوکاټ کې يې ټولو هغو مرتدينو ته د عمومي عفوې اعلان وکړ چې د ملا محمد عمر او اسامه بن لادن په ضد يې له امريکې سره لاسونه يو کړي ؤ.

البته دوی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د مکې مشرکانو ته د فتحې پر مهال عمومي عفو کړې وه نو مونږ هم په همدې دليل دلته مرتدينو ته عفو کوو.

خو دوی ته مونږ وايو چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم عفو د مرتدينو عفو کول نه بلکې د اصلي کفارو عفو کول ؤ او د مرتدينو په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم امر کړی چې ويې وژنئ.

له بل لوري طالبانو په خپله خوښه ياده عفو نده کړې بلکې دا د کفارو له لوري ورته يو امر ؤ تر څو خپلو هغو مرتدو اجيرانو ته پرې امن حاصل کړي چې د غرب په پلوي يې دلته له مؤمنانو سره نظامي او فکري جګړې وکړې.

## دوهم شرط: نړيوال اسلام ضد بشري حقوق منل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړیوالو بشري حقوقو په اړه مو د سیکولر ټولنیز ژوند په برخه کې تشریحي خبره وکړه چې مطلب ترې په اسلامي امت کې فحاشي او بې حجابي خپرول، د مساواتو په نوم کفر په مسلمانانو منل، سیکولر آزادیانې تطبیقول، اسلامي ټولنې غربي کول، د شرعي حدودو لکه قصاص وغیره معطل کول او نور اسلام ضد فاسد معنویات لکه همجنسبازي، خرو او سپیو سره نکاح تړل او نورې گمراهۍ پکې موجودې دي یادولی شو نو کله چې دا کفري معنویات په مکمله توگه ومنل شي بیا کفار تا د نړیوالې سولې په پروسې کې یو ځای کوي او په رسمیت دې هم پېژني.

## درېیم شرط: بې وسلې کول یا بې وسلې کېدل:

د سولې له پروسې سره د یو ځای کېدو لپاره د بین المللي کفارو درېیم شرط داده چې سیمه باید پوره خلع سلاح کړي، کومه سلاح چې موجوده وي هغه باید یا د کفارو پښو ته گوزار شي او یا هغه د خپلو هغو مرتدینو په لاس ورکړې چې له دوی سره په همداسې کفري نظام راضي او د څو پیسو لپاره د خپل ایمان په بدل کې د سیکولریزم تطبیق ته تیار وي، کله چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



منافقينو په څېر د جهادي اعداد له ګاڼې سيمه خلاصه او کفارو ته خلک لاس تړلي وسپارل شي او خپل نظامي قوت هم د هغوی د اصولو د تطبيق لپاره د هغوی په صف کې ودروې نو بيا به ته د نړيوالې سولې په پروسه کې منل کيږې او په سپين ليست کې به هم قرار لرې.

**څلورم شرط: سيکولر وطنيت او اړوند وطني اصول منل:**

هر څوک چې وغواړي د نړيوالو کفارو د سولې له بهير سره يو ځای شي بايد د نړيوالو کفارو د وطني اصولو اطاعت وکړي، په بل سيکولر هېواد خصوصاً اروپا او امريکې کې مداخله ونکړي، کفارو ته د امن او مهاجرينو او مجاهدينو سره د جنګ او دښمني اعلان وشي، اقدامي جهاد ترک او دا کار هم په نورو کې د غير قانوني مداخلې په نوم ونومول شي نو بيا به د نړيوالې سولې په پروسه کې منل کيږي او په سپين ليست کې به هم شامليږي.

**پنځم شرط: هجرت في سبيل الله پرېښودل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک چې د کفارو د نړيوالې سولې له پروسې سره يو ځای کيږي هغوی بايد د الله عزوجل په لاره کې هجرت کول هم ترک کړي ځکه دا کار د تروريستانو کار او د هغو خلکو کار ده چې وطني اصول نه رعايت کوي او له پولو څخه د بين المللي اصولو خلاف تگ راتگ کوي، نو ددې کار په ترک کفار له خلکو راضي کيږي، په همدې شرط يې د خپلې نړيوالې سولې له بهير سره يو ځای کوي او په سپين ليست کې يې هم شاملوي.

**شپږم شرط: د سياسي اسلام ترک کول:**

هر څوک چې له نړيوالې سولې سره يو ځای کيږي هغوی بايد د سياسي اسلام پيروي ترک کړي ځکه سياسي اسلام خپلو پيروانو ته امر کوي چې (وقاتلوهم حتى لا تكون فتنة) او د نړيوالې سولې پروسه خو د جنگ او قتال سره مخالفه او د دجالي امنيت پروسه ده نو بايد دين او سياست جدا جدا جهتونه وبلل شي او په نظام، شريعت او سياست کې اسلام ترک او د سيکولريزم تابعداري وشي بيا به همداسې يو څوک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفارو د نړیوالې سولې په بهیر کې منل کیږي او په سپین لیست کې به هم شاملیږي.

## اووم شرط: د اسلامي شرعي حدودو د اقامې ترک کول:

هر څوک چې د کفارو د سولې له پروسې سره یو ځای کېدل غواړي هغه باید د اسلامي شرعي حدودو اقامه ترک کړي ځکه رجم، قصاص او د غله او مفسدینو لاس او پښې قطع کول ددوی په نظر د بشري حقوقو خلاف کار ده نو ددې اصولو د منلو لپاره یاد اسلامي او شرعي حدود باید ټول ترک او په ځای یې غیر شرعي سزاګانې تطبیق شي نو پدې شرط کفار له یو چا راضي کیږي او هم یې پخپل سپین لیست کې شاملوي.

## اتم شرط: د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر ترک کول:

په نړیواله سوله کې د یو ځای کېدو لپاره د اسلام د سترې فریضې أمر بالمعروف او نهی عن المنکر ترک هم له مهمو ضروریاتو څخه بلل کیږي ځکه یو څوک ښو کارو ته دعوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول او له بدو کارو څخه یې منع کول د سیکولر آزادیانو خلاف کار ده، د اسلام دا عظیمه فریضه باید ترک شي تر څو د کفارو سره په سپین لېست کې شامل او په نړیواله سوله کې عضویت ولري.

نو پورته ﴿۸﴾ شرطونه هغه اصول دي چې نړیوال کفار یې په سوله کې د منل کېدو لپاره وړاندې کوي تر څو پخپل کتار کې یې حساب کړي او په ملل متحد کې څوکۍ هم ورکړي، په پورته اصولو چې هر څوک کفارو سره سوله کوي او یا په همداسې یوې سولې له خپل صف سره راضي وي هغه کافر او مرتد ده.

## آیا د جمهوریت یا ډیموکراسي منل له نړیوالې سولې (امنیت) سره د یو ځای کېدو لپاره شرط ده؟

د یادولو وړ ده چې جمهوریت یا ډیموکراسي منل د نړیوالې سولې، یا په سپین لیست یا د رسمیت پیژندلو لپاره د کفارو شرط نده، هر هغه څوک چې پورته ۸ عمده سیکولر اساسات ومني نو بیا که د ټاکنو په ځای یې نظامونه د قطر، دوبۍ او د افغانستان د طالبانو د امارت په څېر امارتونه هم وي پروا نکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ياد شرطونه منل د سولې په پروسې، سپين ليست کې د شامليدلو او يا د رسميت پيژندلو لپاره اړين او منل يې اولويت لري.

لکه طالبانو چې د کفارو ياد ټول اصول په يوه او بل نوم ومنل، د خپل دين چوکاټ يې ارجائي او اخواني کړ، له کفارو سره د اسلامي خلافت د مجاهدينو په مقابل کې يو شول او بيا کفارو هم پخپل سپين ليست کې شامل او نظام يې ورتسليم کړ او اوس هره ورځ د بمونو په ځاى بشري مرستې ورته رارسوي، او هغه څه چې تاسو نن د طالبانو او غربيانو تر منځ د رسميت د نه پيژندلو په شکل گورئ دا ټول فريب او دوکه ده تر څو کشرانو طالبانو ته وښيي چې امارت اسلامي ده او کفار ورسره دښمني کوي.

## 12. په بين الملل کې له کفارو د څوکۍ مطالبه کفر او له اسلامه خارجيدل دي:

هر څوک چې له بين الملل څخه د څوکۍ مطالبه کوي هغه له اسلام څخه مرتد ده ځکه هغه څوک چې ياده څوکۍ ترلاسه کوي بايد ځان ورته پوره سيکولر کړي تر څو د کفارو په منځ کې دا مقام ترلاسه کړي لکه په تېر ناقض کې چې د نړيوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنیت له پروسې سره د یو ځای کېدو لپاره ﴿۸﴾ عمده شرطونه منل بیان شول، سره لدې چې هلته یاد ایمان اخیستونکي شرطونه لږ په تفصیل بیان شول خو بیا به هم دلته په اجمالي شکل ذکر شي.

**په بین الملل کې د ځوکۍ د حاصلولو شرطونه:**

**اول شرط:** د قتال في سبیل الله ترک کول او د مجاهدینو په ضد له کفارو سره ائتلاف کول.

**دوهم شرط:** نړیوال اسلام ضد بشري حقوق منل.

**درېیم شرط:** ځان بې وسلې کول.

**څلورم شرط:** سیکولر وطنیت منل.

**پنځم شرط:** د هجرت في سبیل الله پرېښودل.

**شپږم شرط:** د سیاسي اسلام ترک کول.

**اووم شرط:** د شرعي حدودو ترک کول.

**اتم شرط:** د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر ترک کول.

همدارنګه ورسره دا هم واضحه شوه چې جمهوریت یا ډیموکراسي منل د یادو بین المللي کفري معنویاتو د ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو لپاره شرط نده بلکې د دوبۍ، قطر، طالبانو او نور امارتونه سره لدې کفارو ته د منلو دي چې جمهوري نظامونه ندي.

او له بل لوري الله عزوجل په واضحه ددوی په مجلسونو کې د کښېناستو څخه منع کړې او فرمایلي یې دي چې:

**وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿النساء: ١٤٠﴾**

**ژباړه: الله عزوجل په دې کتاب کې تاسو ته پخوا امر کړی چې که په هر ځای کې واورئ چې د الله د آیتونو پر خلاف آواز پورته کیږي او مسخرې ورپورې کیږي هلته مه کښېنئ، تر هغه چې خلک په کومه بله خبره کې مصروف شي، که تاسو داسې وکړئ (د هغوی په مجالسو کې په خوښۍ لرلو راضي وئ) نو تاسو هم د هغو په څېر (کافران) یاست، باور ولرئ چې الله منافقان او کافران په دوزخ کې یو ځای راغونډوي.**

همدارنګه الله عزوجل فرمایی چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿الأنعام: ٦٨﴾**

**ژباړه: او (ای پیغمبره) کله چې ته هغه خلک وینې چې زمونږ په آیتونو کې نقطې لټوي نو د هغو له څنګ څخه پاڅیږه، تر دې پورې چې هغوی دا بحثونه پریږدي په نورو خبرو پیل وکړي او که کله شیطان تا په هیره کې واچوي نو چې څه وخت دا خطاء احساس کړې له هغه وروسته بیا ددې ظالمانو څنګ ته مه کښېنه.**

نو هر څوک چې له کفارو څخه ددوی په منځ کې د مجلس څوکۍ حاصلول غواړي او یا په همداسې جهل له خپل صف سره راضي وي هغه کافر او له اسلامه مرتد ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 13. له بين المللي کفارو په سپين ليست کې د شامليدو طلب کول کفر او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې له کفارو څخه په سپين ليست کې د شامليدلو غوښتنه کوي هغه مسلمان نده ځکه سپين ليست کفارو سره د دوستي په ليست کې د شامليدو طلب ده، که تاسو کوم دښمن ليدلی وي چې د دښمن په سپين ليست کې موجود وي نو دې ته به هم بيا د دښمني نوم ورکړو خو ټولو ته واضحه ده چې ددې کار طلب له کفارو څخه د دوستي طلب ده او په سپين ليست کې شامليدل د کفارو د سيکولريزم د اساساتو په منلو کيدای شي، خصوصاً هغه ﴿۸﴾شرطونه چې په تيرو صفحو کې بيان شول په منلو يې يو کس د کفارو په سپين لېست کې داخليدلی شي، هغه شروط تکراراً په اجمالي ډول بيا هم په لاندې ډول بيانيږي:

**اول شرط:** د قتال في سبيل الله ترک کول او د مجاهدينو په ضد له کفارو سره ائتلاف کول.

**دوهم شرط:** نړيوال اسلام ضد بشري حقوق منل.

**دريیم شرط:** ځان بې وسلې کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم شرط:** سیکولر وطنیت منل.

**پنځم شرط:** د هجرت في سبیل الله پرېښودل.

**شپږم شرط:** د سیاسي اسلام ترک کول.

**اووم شرط:** د شرعي حدودو ترک کول.

**اتم شرط:** د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر تر کول.

همدارنګه ورسره دا هم واضحه شوه چې جمهوریت یا ډیموکراسي منل د یادو بین المللي کفري معنویاتو د ترلاسه کولو لپاره شرط نده بلکې سیکولر امارتونه هم د یادو اصولو په منلو ددوی د زړه سرونه جوړېدلی شي.

یاده ګمراهي د ځان لپاره یو امتیاز بلل بل ضلالت ده لکه نن چې ډېر جهتونه د کفارو سپین لیست د ځان لپاره ویاړ بولي پداسې حال کې چې دا ډېره د شرم خبره ده، هر څوک چې په یاد فساد ککړ او یا له خپل صف او نظام سره په همدې راضي وي هغه کافر او مرتد ده ځکه الله عزوجل فرمایي چې:

**وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴿المائدة:٥١﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: او په تاسو کې چې چا دوی سره دوستي وکړه نو یقیناً هغه له همدوی څخه ده، بېشکه الله عزوجل ظالم قوم ته نېغه لا نه ښیي.**

همدارنګه الله سبحانه و تعالی فرمایي چې:

**الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَمِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴿النساء: ١٣٩﴾**

**ژباړه: هغه کسان چې مؤمنانو نه غیر کافران دوستان نیسي آیا دوی د هغوی په خوا کې عزت لټوي؟ نو بېشکه عزت ټول د الله لپاره ده.**

او ډېر نور آیتونه چې الله سبحانه وتعالی پدې اړه نازل کړي دي، او نن سبا پدې مرض ککړ د افغانستان ګمراه طالبان دي چې د کفارو سره په سپین لېست کې شمول د ځان لپاره ویاړ او دا یوه فتح هم بولي خو په حقیقت کې دوی ځانونه پدې کار له اسلامه خارج کړي او ذلیل کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 14. د مسلمانانو او کافرانو تر منځ مساوات منل کفري عقيده او د قرآن تکذيب ده:

په سيکولريزم کې بل موجود کفر د مسلمان او کافر تر منځ د مساواتو فاسده عقيده ده چې دوی ټولو انسانانو ته يوازې د انسانيت درجه ورکړې او بيا د دين او عقيدې په اساس کافر له مسلمان څخه نه بېلوي او دا پداسې حال کې ده چې الله عزوجل د مسلمان او کافر تر منځ مساوات رد کړي او فرمايلي يې دي چې:

**أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا لَّايَسْتَوُونَ﴾السجدة: ١٨﴿**

**ژباړه: آيا هغه څوک چې مؤمن وي د هغه چا په شان دي چې نافرمان وي؟ دوی ندي برابر.**

همدارنگه الله عزوجل فرمايي چې:

**وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿آل‌عمران: ١٣٩﴾**

**ژباړه: او تاسو مه کمزوري کيږئ او مه غمژن کيږئ، هم تاسو به لوړياست﴿خو﴾ که تاسو مؤمنان واوسئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بالمقابل هغه چې کافران دي الله سبحانه وتعالی له حيواناتو هم بدتر بللي او پدې اړه يې فرمايلي چې:

**أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿الأعراف: ١٧٩﴾**

**ژباړه: دا خلک (کافران) د څارويو په شان دي بلکې دوئ (له څارويو هم) زيات گمراه دي، همدغه خلک غافله دي.**

په همدې اساس مسلمانان او کافران برابر او مساوي ندي بلکې مسلمانان غوره او بهتر دي او هر څوک چې سره لدې بيا هم سيکولر مساوات مني هغه په حقيقت کې د الله عزوجل د کلام تکذيب کوي ځکه الله عزوجل فرمايي چې ندي برابر او دوی وايي چې نه برابر دي او د همدې تکذيبوونکو په اړه الله عزوجل بيا فرمايلي چې:

**فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ﴿يونس : ١٧﴾**

**ژباړه: نو له هغه چا لوی ظالم څوک ده چې په الله عزوجل باندې دروغ تپي، يا د هغه د آيتونو تکذيب کوي، بېشکه شان داده چې مجرمان به خلاصی ونه مومي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 15. د دين او عقيدې د آزادي اصل منل کفر او له اسلامه خروج ده:

هر څوک چې دا عقده ولري چې هر انسان د ځان لپاره د دين او عقيدې په ټاکلو کې آزاد ده هغه کافر او مرتد ده ځکه دا کار د معاصر سيکولر کفرى دين رکن ده، او پدې کار کې د کفارو هدف په حقيقت کې له اسلام څخه ارتداد ته آزادي ورکول دي او دا د سيکولر کفري دين پليد اساس ده چې په اسلام کې هېڅ ځاى نلري، الله عزوجل فرمايلي چې پرته له اسلامه بل دين ﴿قانون او تګلاره﴾ هېڅکله نه قبلوم، الله عزوجل فرمايلي:

**وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿آل عمران:٨٥﴾**

**ژباړه: او څوک چې غير له اسلامه بل دين ﴿قانون او تګلاره﴾ ولټوي هېڅکله به ځنې قبول نشي او هغه به په آخرت کې له تاوانيانو څخه وي.**

همدارنګه الله سبحانه وتعالى فرمايلي چې:

**إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ﴿آل‌عمران: ١٩﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: د الله سبحانه وتعالی په نزد یوازېنی دین (قانون، شریعت او تګلاره) اسلام ده.**

بلکې برعکس الله عزوجل امر کړی چې شرک مه کوئ لکه چې فرمايي:

**قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّاتُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴿الأنعام: ١٥١﴾**

**ژباړه: ته ووايه: تاسو راشئ چې زه ولولم هغه څه چې ستاسو رب په تاسو باندې حرام کړي دي، دا چې تاسو د هغه سره هېڅ شی مه شریکوئ او د مور او پلار سره ښېګڼه کوئ.**

نو په قاطع ډول انسان ته الله عزوجل د دین په انتخاب کې آزادي نده ورکړې بلکې وګورئ چې الله عزوجل فرمايلي چې پرته له اسلامه به له هيچا بل هېڅ دین، قانون شریعت او یا تګلاره قبوله نکړم، نو آیا دا په عقیدې کې آزادي شوه که محدودیت؟

د عقیدې د آزادي په اړه چې بعضې مضر څاروي چې د شریعت علم ورسره نه وي او یواځي د خپل خواهش پسې روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي له لاندي آیت څخه د عقیدي د ازادی لپاره دلیل نیسي چي﴿لَاإِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ﴾

د پورته ایات مقصد دادي چې کله اصلي کافر یعنی یهودی یا نصراني .... ایمان نه راوړي او د هغه را نیول او د وهلو او تهدید په زور د اسلام اقرار ترې اخیستل دا اجبار او اکراه نشته په دین کې اما کله چي یو شخص اسلام ومني او بیا له اسلام څخه بل دین ته اوړي او مرتد کیږي د عقیدې داسي ازادي هیڅکله په اسلام کې څوک نشي پیش کولي بلکې داسي شخص مرتد حسابیږي او باید ووژل شي.

په اسلامي امت کې د عقیدې د آزادي ګمراهي عام کول په حقیقت کې مسلمانانو ته په ارتداد کې د آزادي سترګکونه وهل دي تر څو هر مرتد په آزاده اسلام ترک او پدې کار کې له هیڅچا ویره احساس نکړي حال دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې:

**عن عبد الله بن عباس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:.....من بدل دینه فاقتلوه «رواه البخاري»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: د عبد الله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر چا چې خپل دین بدل کړ هغه ووژنئ.**

نو په اسلام کې د دین او عقیدې آزادي نشته او هر څوک چې له اسلامه مرتد شي له هغه به د توبې غوښتنه کیږي او که نه وژل کیږي به، نو د کفارو د سیکولر دین او تګلارې یاد اساس منل د الله د کلام تکذیب، کفر او له اسلامه وتل دي.

## 16. په دین استهزاء کول کفر ده:

هر څوک چې په دین ټوکې وکړي هغه کافر او له اسلامه مرتد ده ځکه الله عزوجل فرمایلي چې:

**وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ﴿٦٥﴾لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ إِن نَّعْفُ عَن طَائِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ﴿التوبة : ٦٦﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: او قسم ده که ته له دوی نه پوښتنه وکړې ﴿نو﴾ خامخا به دوی ووائي: مونږ خو یوازې مشغولتیا او لوبې کولې، ته ﴿ورته﴾ووایه: آیا تاسو په الله او د هغه په آیتونو او د هغه په رسول پورې لوبې او مسخرې کولې؟ عذرونه مه جوړوئ، یقیناً تاسو د خپل ایمان راوړو نه وروسته کافران شوي یئ، که مونږ په تاسو کې یوې ډلې ته معافي وکړو ﴿نو﴾ بلې ډلې ته به عذاب ورکړو په سبب ددې چې هغوی په رښتیا مجرمان و.**

ابن کثیر رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکلي چې:

**قال أبو معشر المديني عن محمد بن كعب القُرَظي وغيره قالوا: قال رجل من المنافقين: ما أرى قُرّاءنا هؤلاء إلا أرغبنا بطونا، وأكذبنا ألسنة، وأجبننا عند اللقاء. فرُفع ذلك إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فجاء إلى رسول الله وقد ارتحل وركب ناقته، فقال: يا رسول الله، إنما كنا نخوض ونلعب. فقال: { أبالله وآياته ورسوله كنتم تستهزئون}.**

**ژباړه: أبو معشر المدني له محمد بن كعب القرظي او نورو څخه روایت کوي وایي: د منافقانو یوه سړي وویل: مونږ نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګڼو خپل قاريان مګر غټ خيټي، دروغ ويونکي او د جګړې پر مهال ډير ډاريدونکي، نو کله چې ددې خبرو خبر ورکړل شو نبي عليه السلام ته نو دوی راغلل پداسې حال کې چې هغه په خپله اوښه سپور ؤ او د کوچ اراده يې لرله نو دوی وويل: يا رسول الله مونږ يوازې ټوکې او لوبې کولې، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې: آيا تاسو په الله او د هغه په آياتونو او د هغه په رسول پورې ټوکې او مسخرې کوئ؟**

نو تاسو فکر وکړئ، رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه څوک تکفير کړل چې صرف دا يې ويلي ؤ چې قاريان مو خيټور، دروغجن او په جګړه کې ويريدونکي دي او دا داسې خبرې دي چې د سړي هيڅ خندا نه ورته راځي او د نن په نسبت په ټوکه کې هيڅ نه حسابيږي!

ځکه نن په دين او ديني شعائرو خنددونکې ټوکې کيږي او دا کاراکټرو ته يوه مشغله ګرځيدلې، څوک په ملا او ديني عالم پسې ټوکې کوي، څوک په اودس ټوکې کوي، څوک د امام په اشتباهاتو ملنډې وهي او څوک په جهاد، حورو، جنت، دوزخ او دعا باندې مسخرې کوي داسې مسخرې چې ټول په قهقهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته خاندي نعوذبالله، دا هر څه په دین پورې استهزاءکول، کفر او له اسلامه وتل دي.

## 17. له دين څخه اعراض کول (مخ گرځول) کفر او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې له دین څخه مخ گرځوي، په قصدي توگه يې نه زده کوي او نه عمل پرې کوي او نه پوهیږي چې په څه سړی مسلمانیږي او په څه کافر کیږي هغه کافر او له اسلامه مرتد ده ځکه الله عزوجل فرمایلي چې:

**وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿السجدة: ٢٢﴾**

**ژباړه: او څوک له هغه چا نه لوی ظالم ده چې هغه ته د خپل رب په آیتونو سره پند ورکړی شي، بیا هغه ددغو ﴿آیتونو﴾ نه مخ وگرځوي، بېشکه مونږ د مجرمانو نه انتقام اخیستونکي یو.**

نن په خلکو کې له دین څخه اعراض ډېر زیات شوی، که يې راوغږوي نو له خپل دین او عقیدې څخه د دفاع کمه وړتیا خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېده بلکې لمونځونه يې هم نه وي زده او دا پداسې حال کې ده چې همدوی د سيکولر تعليم اړوند پيرړ پيرړ چپټرونه د کلونو کلونو لپاره حفظ کړي وي، هغه درسونه يې نه زړه تنګوي، نه يې زړه ځنې توريږي او نه پرې غميږي او په ښه شوق يې تر ﴿١٦﴾ کالو پورې زده کوي خو دين ته يې په تېرو ١٦ کالو کې ١٦ ساعته هم صحيح نه وي ورکړي، د دين بيان ته يې زړه هم تنګيږي، زړه يې هم توريږي او شوق يې هم نه وي ورسره تر څو هغه اصول زده کړي چې يې په منلو يې خلک دين ته داخليږي او يا په نه منلو يې له دين څخه خارجيږي، د دين څخه پدې طريقه چې نه يې زده کوي نه پرې عمل کوي همدا د کفر له اقسامو څخه يو قسم ده او شخص پرې له اسلامه خارج او مرتد کيږي.

## 18. د کفارو بشري حقوق منل کفر او له اسلامه وتل دي:

د کفارو د بشري حقوقو په اړه په مخکې صفحو کې خبره وشوه چې پکې غير اسلامي اصول موجود ؤ، دوی همدا جهلونه د يوه بشر مسلم حقوق بولي او هيڅا ته پکې د مداخلې حق نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي، سره لدې چې د بشري حقوقو څو مثالونه په سیکولر ټولنیز ژوند عنوان کې بیان شول خو بیا به هم دلته د هغه لوی ټکي اجمالاً ذکر کړو ان شاءالله:

- ϖ هر انسان ته د ژوند مطلق حق ورکولو ته ژمنتیا لرل.
- ϖ سیکولر آزادیانې منل او تطبیقول.
- ϖ اجباري کوچ ته څوک نه مجبورول.
- ϖ د انسان نه اعدامول.
- ϖ له انسان څخه د بدن اعضاوې نه قطع کول.
- ϖ انسان په غلامي نه نیول.
- ϖ د انسانانو تر منځ دیني او جنسي مساوات.
- ϖ د ښځو حقوق او نرانو سره برابر امتیاز ورکول.

یاد اساسات د معاصر هغه کفر اساسات دي چې په مسلح او اجتماعي ډول له اسلامي امت سره جنګیږي او ددې اساساتو منل که په هر عنوان وي هغه د کفارو اطاعت او د غیر اسلامي احکامو او شرائعو د منلو په معنی او له اسلامه وتل دي ځکه الله عزوجل فرمایلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ [آل عمران:١٤٩]**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی که چیرې تاسو د کافرانو خبره ومنئ ﴿نو﴾ هغوی به تاسو ﴿له دين نه﴾ په شا وګرځوي بیا به تاسو داسې شئ چې تاوانیان به يئ.**

همدارنګه الله عزوجل فرمايي چې:

**وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴿البقرة: ١٢٠﴾**

**ژباړه: او له تانه خو به هيڅکله نه يهوديان او او نه نصرانيان راضي شي تر دې چې ته ددوی د دين ﴿تګلارې او قانون﴾ پيروي وکړې.**

## 19. په سيکولر نظام کې معلم کېدل کفر او له اسلامه وتل دي:

د معاصرو ايمان ماتوونکو اسبابو په کتار کې مې په سيکولر نظام کې معلمي ځکه په ځانګړې ډول ياده کړه چې ډېر خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوي چې دا د خلکو د خدمت یوه دنده ده، خلکو ته یې خیر رسیږي او د کفري نظام حکم باید په دوی جاري نشي، خو دا خبره غلطه ده، اول خو سیکولر نظامونه د شریعت په نصوصو تکفیر شوي دي نو که څوک ترې استثناء راوړي باید د شریعت په نص استثناء راوړي ځکه شرعي نصوص په عقل نشي رد کېدلای.

دوهم دا چې ددوی همدا عقلي دلیل هم غلط ده، تاسو مونږ ته د سیکولر تعلیمي نظام خیر او مثبتې نقطې راوښایاست چې مونږ هم پوه شو بلکې پدې تعلیم کې خو درجن درجن داسې ګمراهۍ شته چې ټول اسلامي امت یې له امله کړیږي، خائنان ترې رافارغیږي او بیا له امت سره جنګیږي او ټول په یو مخیز ډول سیکولر مامورین تولیدوي.

یاد تعلیم د خلکو د انفرادي ژوند د رفاهیت، د نفسي خواهشاتو د اشباع، د ځوانانو له قتال في سبیل الله څخه د غفلت او د کفر د خدمت یوه وسیله ده او نه یوازې دا چې د اسلامي امت د پرمختګ سبب نده بلکې د پراخ شاتګ سبب یې هم ګرځېدلی، د سیکولر تعلیم د مفسداتو په اړه د همدې کتاب په سیکولر تعلیمي برخه کې مفصل بحث وشو د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث له کتو وروسته بيا تاسو خپله ځانو ته ځواب ورکړئ چې آيا د سيکولر تعليم دا معلمي په اسلامي امت کې د خير مصدر ده او که د شر؟ زموږ د پرمختګ سبب ګرځېدلی او که د شاتګ سبب؟ کله مو چې دا سوالونه له خپل ضمير سره ځواب کړل نو پوه به شئ چې د سيکولر تعليم معلمان پدې امت کې له ټولو خطرناکه خزندې دي او هر کله چې امت ددوی له وجوده پاک شو ايله به د خائنانو روزنتونونه بند او امت به د کراري ساه واخلي.

دا پدې معنی نه چې موږ پوهه بده ګڼو يا مو د دنيوي علومو تعليم سره ورانه ده او مطلقه روزنه بندول غواړو بلکې موږ په تېرو صفحو کې د ياد تعليم د بديل په اړه هم خبرې وکړې او مناسبه نه بولم چې بيا يې دلته تکراري ذکر کړم، خو مطلب دا چې له سيکولر تعليم سره مخالفت علم او پوهې سره د مخالفت معنی نلري بلکې دا مخالفت موږ له سيکولريزم سره کوو چې د همدې معلم په مټ يې د ټولو کفري معنوياتو روزنه ترسره کيږي.

سره لدې چې د سيکولر تعليم په مفسداتو د هغه د بديل له تشريح سره مخکې بحث وشو خو بيا به هم ددې تعليم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



گمراهیو او اسلامي امت ته یې د اوښتو زیانونو لوی ټکي دلته راوړم تر څو وپوهیږو چې معلم له معاصر سیکولر کفر سره او د هغه د تطبیق په کومه کومه نقطه کې دوستي او همکاري لرلې چې باید د سیکولر نظامونو د نورو مامورینو په څېر تکفیر شي؟

- معلم او سیکولر تعلیمي نظام په اسلامي امت کې د سیکولر ټولنیز ژوند ترویجوونکی ده: دا کار دوی د نرانو او ښځو ځخه د مختلط تعلیمي محیط په مټ تر سره کوي چې پکې سیکولر مساوات ﴿یعنې د کافر او مسلمان مساوات او د نرانو او ښځو مساوات﴾ د یادولو وړ دي، همدارنگه د همدې تعلیم له لارې همجنسبازي ته لاره هوارېدل چې مستنده تشریح یې په تېرو صفحو کې وشوه او معلم او سیکولر تعلیمي نظام په اسلامي امت کې د حجاب د پرېوتلو وسیله هم یادولی شو.
- معلم او سیکولر تعلیمي نظام د سیکولر نظامونو لپاره د مامورینو د تولید وسیله.
- معلم او سیکولر تعلیمي نظام په اسلامي امت کې د سیکولر وطني عقیدې د ترویج وسیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- معلم او سیکولر تعلیمي نظام د سیکولر نظامونو لپاره د وضعي قوانینو د متخصیصینو تربیه کوونکي.
- معلم او سیکولر تعلیمي نظام په اسلامي امت کې د سیکولر اقتصادي سودي نظام ترویجوونکي او دې کار ته د سودي متخصصینو روزونکي.
- معلم او سیکولر تعلیمي نظام په اسلامي امت کې د الحادي افکارو د ترویج وسیله.
- معلم او سیکولر تعلیمي نظام په اسلامي امت د کفارو د رعب او درناوي د مسلطولو وسیله.
- معلم او سیکولر تعلیم د خلکو او د کفارو او کفري معنویتونو د ارتباط او اتصال وسیله.
- معلم او سیکولر تعلیم په اسلامي امت کې د هجرت او جهاد د ترک سبب او عامل.
- معلم او سیکولر تعلیم د شرعي علومو د ورک کېدو سبب.
- معلم او سیکولر تعلیمي نظام په اسلامي امت کې د دین او سیاست د جدایي اساسي عامل.
- معلم او سیکولر تعلیم په اسلامي امت کې د جمهوریت او ډیموکراسي د پلي کېدو وسیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- معلم او سيکولر تعليم له کفارو سره د مشابهت او له هغوی سره مشابه عزت او شوکت ته ژمنتيا.
- معلم او سيکولر تعليمي نظام په اسلامي امت کې د دنيا پرستي ﴿سيکولريزم﴾ او دجالي معيارونو د ترويج وسيله.
- معلم او سيکولر تعليمي نظام په اسلامي امت کې د مؤمنو ځوانانو د وخت اساسي ضايع کوونکي او هغوی له علياء اهدافو غافلوونکې وسيله.

په معلم او سيکولر تعليم کې د پورته مفسداتو مفصله تشريح د همدې کتاب د سيکولر تعليمي نظام په برخه کې شوې چې دلته يوازې د هغه لوی ټکي راوړل شول.

نو نتيجه اخلو چې سيکولر معلمان د خلکو خدمت نه بلکې د خلکو د گمراهي دنده په غاړه لري او له کفري اساساتو سره مستقيمه دوستي او همکاري لري او همغه د مؤمنانو په منځ کې ترويجوي او ددوی حکم هم د سيکولر نظام د حکم په څېر کفر او له اسلامه وتل دي ځکه الله سبحانه وتعالی فرمايلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [المائدة :٥١]**

**ژباړه: او په تاسو کې چې چا دوی سره دوستي وکړه، نو يقيناً هغه له همدوی څخه ده، بېشکه الله عزوجل ظالم قوم ته نېغه لاره نه ښيي.**

د يادولو وړ ده چې بعضې خلک د سيکولر نظام له بعضو معلمانو تکفير ردوي او له بعضو يې نه ردوي اوعلت دا ښيي چې بعضې داسې معلمان شته چې سيکولر نظام سره دائمي قرارداد نلري بلکې د مؤقتي دندو لرونکي دي او هغوی بايد تکفير نشي ځکه هغوی له سيکولر نظام سره پوره قرارداد نلري خو دا خبره غلطه ده ځکه مونږ دلته قراردادونه نه تکفيروو بلکې له کفارو او کفري معنوياتو سره ددوی دوستي او همکاري تکفيروو، که داسې شي نو بيا ډېر نور نظامي او غير نظامي جهتونه شته چې له کفارو سره مؤقتي قراردادونه لري او د قرارداد له پوره کېدو وروسته له دندې ګوښه کيږي نو هغه ټول شرکتونه او افراد بايد تکفير نشي؟ که تاسو واياست چې هغوی پخپلو مؤقتي دندو کې له کفارو سره دوستي او همکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرلې او باید له امله یې تکفیر شي نو مونږ هم همدا خبره کوو چې معلم هم د خپلې مؤقتي دندې په ترڅ کې له کفارو سره دوستي او همکاري لرلې چې پدې تعلیم کې مو له سیکولر کفر سره ددوی د یادې همکارۍ ډولونه تاسو ته یو یو تړول په گوته کړل.

دوی معاصر سیکولر کفري معنویات د سیکولر تعلیمي نصاب له لارې خلکو ته رسوي او هغه که هر ډول معلم وي د سیکولر مامورینو په روزلو او د خلکو په سیکولریزه کولو کې بشپړه ونډه لري سره لدې که یو څوک دې معلمي ته رضاکارانه او بې له قرارداد او بې معاشه هم ورشي حکم یې له هغو معلمانو سره یو شان ده چې دائمي قرار داد له سیکولر نظامونو سره لري.

## 20. د سیکولر تعلیمي نظام په حقوقو، څارنوالي، نظامي او قضائي پوهنځیو کې محصل کېدل کفر او له اسلامه وتل دي:

په سیکولر تعلیمي نظام کې د هغو کفري معنویاتو زده کول او ځان پکې شاملول چې د سیکولریزم او د هغه د تنفیذ او تطبیق زده کړه پکې کیږي دا کار هم کفر او له اسلامه وتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، ځکه الله سبحانه وتعالی په هغه ځای کې له کښېناستو منع کړې چې د آیتونو، دین او شریعت په خلاف یې آواز پکې پورته کیږي او له هغوی سره کښېناستل د همغو کفارو په حکم کې راځي چې پدې اړه مو په مخکې صفحو کې د سورة الأنعام ٦٨ نمبر آیت او د سورة نساء ۱۴۰ نمبر آیت په دلیل کې له اړوند تفصیل سره ذکر کړل او په تکرار یې د کتاب حجم نه لویوو.

## 21. سیکولریزم ته کفر نه ویل او هغه د حجت له اقامې سره سره صحیح تګلاره (دین، قانون یا شریعت) بلل کفر او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې کفري ادیان، کفري تګلارې، کفري قوانین او کفري شرائعو ته کفر او کافر ته کافر نه وایي هغه پخپله کافر او له اسلامه خارج ده ځکه دا کس هغه څه ته کفر نه وایي چې الله سبحانه وتعالی کفر ورته ویلي چې پدې ډول له یوه طرفه د کلام الله تکذیب رامنځته کیږي او له بل لوري دوی له کفر څخه بیزاري نلري او پرته لدې د یوه چا ایمان نه صحیح کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له شکه علماؤ د ايمان دا ناقض مطلق ناقض نده بللى بلکې پدې کې تفصيل موجود ده، هغه خلک چې ددې ناقض قاعده ونه پېژني نو ناپوهي به يې په تکفير کې د معتزله ؤ په څير د تسلسل لور ته سوق کړي، هر څوک چې سيکولر کفر ته کفر نه وايي هغه بايد له نږدې وليدل شي او د ناپوهي په صورت کې وپوهول شي، خو هغه خلک چې د الله سبحانه وتعالى آياتونه د سيکولر کفر په تکفير کې ورته بيان شوي وي، حجت پرې قائم شوى وي خو بيا هم له سيکولر کفر څخه بيزاري ته نه وي آماده نو دا کس له اسلامه مرتد ده، ځکه دا کس د الله عزوجل د آيتونو تکذيب کوي او په اړه يې الله عزوجل فرمايلي چې:

**فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى اللَّهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ إِذْجَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَافِرِينَ ﴿الزمر: ٣٢﴾**

**ژباړه: له هغه چا څخه به بل غټ ظالم څوک وي چې پر الله يې دروغ وتړل او کله چې يې مخې ته رښتينولي راغله نو هغې ته يې د دروغو نسبت وکړ آيا د دغسې کافرانو لپاره په دوزخ کې استوګنځى نشته؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 22. په سیکولر نظامونو کې ملا کېدل کفر او له اسلامه وتل دي:

په سیکولر نظامونو کې ملا کېدل هم بعضې خلک نېک کار بولي خو مونږ له دوی پوښتو چې تاسو د کوم حکومت او کوم هېواد حکومتي او سیکولر ملایان نه تکفیروئ؟ که خبره یوازې د افغانیت او پاکستانیت وي نو دا خو غلطه ده ځکه په هر نظام کې حکومتي ملایان مشابه دندې لري چې هغه په یو مخیز ډول له سیکولر نظامونو سره په موالاتو بناء دي.
هغه خلک چې د سیکولر نظام اړوند ملایان نه تکفیروي دوی د اخوانیت په طرز ځانونه په کفر کې د اسلام داعیان بولي، مونږ د ملایانو په نسبت هم همغه خبره کوو کومه مو چې د معلمانو په اړه کړې وه، هغه دا چې سیکولر نظامونه د شریعت په نصوصو تکفیر شوي او که څوک استثناء ترې کوي باید د نصوصو په رڼا کې یې وکړي نه دا چې دا کار په عقل استوار وي بلکې دا چې دوی د عقلي دلایلو په اساس حکومتي ملایان ښه خلک او د خیر سبب بولي دا هم غلطه دعوه ده ځکه ددې ملایانو ډېر ډېر تاوانونه اسلام ته او ډېرې ګټې یې سیکولریزم ته رسیدلي او له کفارو سره یې پخپلو اعمالو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستقیمو موالاتو ثبوت وړاندې کړی او الله عزوجل فرمایلي چې:

**وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [المائدة :٥١]**

**ژباړه: او په تاسو کې چې څوک چا دوی سره دوستي وکړه، نو یقیناً هغه له همدوی څخه ده، بېشکه الله عزوجل ظالم قوم ته نېغه لار نه ښیي.**

خو هغه خلک چې د سیکولر ملایانو له تکفیر سره مخالفت ښیي په حقیقت کې له کفري نظامونو سره ددوی له همکاري او دوستي بې خبره دي او دوی فکر کوي چې دا ملایان تش په مسجد کې په جماعت لمونځ ورکوي او د حکومت په ګټه بل هیڅ کار نه ترسره کوي، ددې لپاره چې دغه راز خلکو ته مسئله ښه واضع شي د حکومتي سیکولر ملایانو د همکاري او دوستي ډېرلونه به په مستقیم ډول همدلته ذکر کړو.

**له سیکولر نظامونو سره د سیکولر ملایانو د موالاتو ﴿دوستي او همکاري﴾ مثالونه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې سيکولر ملايانو له کفارو سره په کومه کومه نقطه کې دوستي او همکاري لرلې او هغه ګټې چې دوی یې کفري اساساتو ته رسوي کومې کومې ګټې دي په لاندې توګه به تشریح شي.

## الف: سيکولر ملايان د سيکولر نظامونو لپاره دليل او حجت ده:

ملايان چې په سيکولر حکومتونو کې معاشونه اخلي په حقيقت کې د سيکولر نظامونو لپاره د هغوی د مشروعيت لپاره دليل او حجت ګرځي چې نورو عامو مامورينو تل د خپلو معاشونو د حلالوالي دليل په سيکولر نظامونو کې د همدوی وجود بللی، په سيکولر نظامونو کې د ملايانو وجود علت ګرځېدلی چې نورو خلکو ته هم د کفر د نوکري بهانه په لاس ورشي، او همدارنګه سيکولر، ديموکراټو او د جمهوري نظامونو لپاره د اسلامي نظامونو او مشروعيت فتواګانې د همدې حکومتي ملايانو له خولو راوځي ځکه په قرآني او په نبوي نصوصو کې غلط تأويل او تحريف د عامو سيکولرانو ندي زده او دا کار د همدې نظامونو په ګټه همدا مرتد ملايان کوي او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګمراه کوونکي ملایان دي چې په اړه يې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم يو روايت نقل شوی ده چې:

**عن ثوبان رضي الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: انما اخاف على امتي الأئمة المضلين «أبو داؤد، ترمذي»**

**ژباړه: له ثوبان رضي الله عنه څخه روايت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقیناً زه پخپل امت کې په ګمراه کوونکو علماؤ ډاريږم.**

نو نن همدا ملایان د نورو خلکو د ګمراه کولو آلې ګرځېدلي او دا چې دوی په کفري نظامونو کې په یوه او بل نوم دندې اخلي خلکو ته حجت ګرځي ځکه له یوه لوري دوی له سیکولر نظام سره حساسیت نه ښیي تر څو حقیقي حکم يې خلکو ته معلوم شي او له بل لوري د مشروعیت فتواګانې ورکوي چې پدې توګه هغه حکم له خلکو پټېږي چې اسلام د کفري نظامونو په اړه بیان کړی او دا کار په امت کې د پراخې فتنې سبب ګرځېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب: سيکولر ملايان د سيکولر ټولنيز ژوند مفتيان:

په اسلامي امت کې د ښځينه ؤ سيکولر تعليم چې پراخ فساد ته يې په امت کې لاره خلاصه کړې همدا سيکولر ملايان ورته د جواز فتواګانې ورکوي او همدارنګه پدې برخه کې د نرانو او ښځو ګډ او اداري اختلاط ته هم په يوه او بل عنوان د جواز فتواګانې ورکوي چې امت يې له لوى فساد سره مخ کړى، کفارو پدې برخه کې ځينې داسې فعاليتونه هم د همدې ملايانو په مټ ترسره کړي چې ظاهراً اسلامي بڼه لري لکه د ښځينه مدرسو په جامه کې، د ديني ښځينه غونډو او ديني محفلونو په نوم دوى له کوره راويستل او له نرانو سره د اختلاط فرصت ورته برابرول يادولى شو.

## ج: سيکولر ملايان د کفر په مقابل کې د ګونګو شيطانانو په نقش او ارجائي جامه کې:

سيکولر ملايانو تل د کفري نظامونو حکم له خلکو پټ کړى ځکه دوى هم د همدې نظامونو رسمي مامورين دي او معاش

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې اخلي نو د نظام د تکفیر په صورت کې دوی هم په یاد کفر تورنېدای شي له همدې امله یې د ګونګو شیطانانو دریځ غوره کړی تر څو نشي چې ددوی مرتد موقف هم رسوا شي، له همدې امله دوی د کفر په مقابل کې د حق له بیان څخه مخ ګرځوي بلکې ددوی سکوت هم په ټولنه کې د سیکولر نظامونو په نسبت په خلکو کې د خاموشي سبب ګرځېدلی، جهاد ترک شوی او په ځای یې خلک په همدې کفري نظامونو کې د کفر چوپړ ته آماده شوي.

دا ډله هغه سیکولر ملایان دي چې خلک یې په نسبت تر ټولو نرم دریځ لري ځکه دوی وایي چې بعضې داسې حکومتي ملایان شته چې د سیکولریزم او ډیموکراسي تائید نکوي صرف د خپل امامت معاش اخلي او خپل لمونځ ورکوي نو دوی له کفارو سره څه دوستي او همکاري لرلې؟ مونږ له دوی پوښتو چې دوی له کفارو څه بېزاري او څه دښمني یې ورسره لرلې چې ایمان یې صحیح وبولو او پرته له دواړو الولاء او البراء د یو چا ایمان نه صحیح کیږي ځکه الله عزوجل فرمایلي چې:

**لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْإِخْوَانَهُمْ أَوْ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ [المجادلة :۲۲]**

**ژباړه: ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د آخرت ایمان لري، چې دوی له هغو کسانو سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي اگر چې دغه خلک ددوی پلرونه وي، یا ددوی زامن، یا ددوی وروڼه یا ددوی قبیله وي، دا هغه کسان دي چې الله ددوی په زړونو کې ایمان لیکلی ده او دوی یې په هغه روح سره قوي کړي چې دده له جانبه ده.**

همدارنگه له هدایت څخه وروسته د گمراهي لور ته تگ له هغه غټ جرم ده چې حجت پرې نه وي قائم شوي، په ملایانو د الله عزوجل له لوري حجت قائم شوی او دوی پوهیږي چې په سیکولر نظامونو کې ددوی دندې له کفارو سره نصرت او په ټولنه کې د هغوی د تائید په معنی ده خو دوی بیا هم د کفر او گمراهي لاري ته غوره والی ورکړی، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا**

﴿النساء: ۱۱۵﴾

**ژباړه: او چا چې د نبي دښمني ته ملا تړلې وي او د مؤمنانو له طريقې څخه پرته په کومه بله لاره لاړ شي، په داسې حال کې چې سمه لاره ورته څرګنده شوې وي نو هغه به مونږ په هماغه لوري وخوځوو چې خپله هغه لوري ته ورګرځېدلی ده او دوزخ ته به يې ننباسو چې خورا بد استوګنځی ده.**

## د: سيکولر ملايان د قتال في سبيل الله سبحانه وتعالى په ضد له کفر او کفارو سره د سوله اييز ژوند مبلغين:

سيکولر ملايان تل له خپل منبره خلکو ته د قتال في سبيل الله بدي بيانوي، دوی خلکو ته تبليغ کوي چې قتال في سبيل الله اوس صحيح طريقه نده بلکې دا د کفارو سازش ده او بالمقابل خلکو ته له کفارو سره د سوله اييز ژوند تېرولو تلقينونه کوي او تل دوی مجاهدين او قتال في سبيل الله د کفارو دسيسه، د تباهي لامل او د مسلمانانو په تاوان کار بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هڅه کوي چې خلکو ته له کفارو او کفري اساساتو سره يو ځای په ژوند تېرولو قناعت ورکړي، د خلکو په زړونو کې د کفر او کفري اساساتو په نسبت کرکه او دښمني له منځه يوسي او د همدې کار لپاره هم دوی ځينې ديني نصوص راټولوي، تحريفوي يې او بيا يې خلکو ته بيانوي.

## ر: سيکولر حکومتي ملايان د سيکولر نظام فوځي صفونو ته د خلکو د تشويق وسيله:

سيکولر حکومتي ملايان تل د وطني مرتدو فوځيانو صفوفو ته خلک د وطن د خدمت په نوم تشويقوي، د هغوی مرگونه مقدس بولي، د هلاکت په صورت کې جنازې پرې کوي او د شهيدانو لقبونه ورکوي، له همدې امله له اسلامي امت څخه ډېر خلک د کفر په مستقيم خدمت کې ولاړ دي او د مجاهدينو په ضد يې موقف خپل کړی ده.

سيکولر ملايانو په مرتدو وطني فوځونو کې خدمت کول خلکو ته جهاد بللی او په مقابل کې يې دحقيقي جهاد د عظيمې فريضې په ضد استعمال کړي او دا ټول خدمتونه د سيکولر نظامونو لپاره همدا حکومتي مرتد ملايان د اسلام په نوم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## س: حکومتي ملايان د شرکي مزارونو خدماتي پرسونل:

د شرکي مزارونو لپاره مدافعين او مفتيان همدا حکومتي ملايان دي چې تل يې د شرک بازارونه په يوه او بل نوم گرم ساتلي او په بدل کې د حج او اوقافو له ارجايي اداري معاشونه تر لاسه کوي، دوی د يادو شرکياتو لوري ته خلک دعوت کوي او د مزارونو تر څنگ د خلکو جيبونه هم په يوه او بل نوم لوټي تر څو د اسلامي عقيدې په مقابل کې د ملحدانو د فکري گټو لپاره هم ځانونه حجت وگرځوي.

## ص: حکومتي ملايان د کفري نظامونو پيغام رسوونکي:

حکومتي ملايان اکثره خلکو ته د سيکولر نظام پيغام رسوونکي وي ترديې چې دوی د جمعې د خطبې متن هم له حکومتي ادارو ترلاسه کوي او هغه ارجايان چې په اړوندو ادارو کې ناست او يادې خطبې ليکي هغه د شيطان سرونه او اخواني تخصص پدې کې لري چې څرنگه خلک د اسلام په نوم په سيکولرکفر ورټول کړي.

د همدې لپاره هغوی يادو ملايانو ته خپل پيغامات طرح کوي او بيا يې دوی په خوله تر خلکو رسوي، دا کار په عربي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې عجمي هېوادو کې تر سره کيږي تردې چې امام حق نلري چې پخپل سر په يوې موضوع خطبه ووايي.

## ط: حکومتي ملایان او وطنیت:

سیکولر حکومتي ملايانو تل د سيکولر وطنيت په طرف خولې خوځولي او يوه ورځ يې ونه ويل چې دا د اسلامي اخوت خلاف فکر ده، په اسلام کې ځای نلري بلکې همدا سيکولر حکومتي ملايان دي چې د الله له نوم سره مل د وطن نوم هم يادوي او سم برابر عبادت يې کوي ته به وايې چې دا هم د اسلامي عقيدې يوه برخه ده، همدا حکومتي ملايان د وطن په لاره کې مردارو عسکرو ته جنازې کوي، هغوی ته شهيدان وايي او نور خلک هم د هغوی ليکو ته د اسلام او جهاد په نوم تشويقوي.

او په نورو ډېرو صورتونو کې حکومتي ملايان له کفر او کفري اساساتو سره دوستي او همکاري لري چې له امله يې په سيکولر حکومت کې ملا کېدل هم کفر او له اسلامه د وتلو سبب کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 23. د سيکولر نظامونو لپاره د کلي ملک کېدل يا وکيل گذر جوړېدل کفر او له اسلامه وتل دي:

نن سبا د سيکولر نظامونو، کفارو او عامو خلکو تر منځ د موالاتو ﴿دوستي، همکاري او تفاهم﴾ لوی پل همدا د کلي ملکان دي چې په افغانستان کې د انکشافي يا ولايتي شوراگانو په نوم نومول کيږي او د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د ځمکې په نورو برخو کې په مختلفو نومونو او شکلونو دا خائنان وجود لري، دوی له سيکولر نظامونو سره اوږه په اوږه په فعاليت بوخت دي.

دوی د سيکولر کفر او عامو مؤمنانو تر منځ رويباران دي او تل د کفارو پيغامات په مختلفو جامو کې خلکو ته رسوي او کفري طرحې او برنامې د مؤمنانو په منځ کې پياده کوي او په فکري او عسکري ډول له کفارو سره مستقيمه همکاري او دوستانه لري او الله عزوجل فرمايلي چې:

**وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [المائدة :٥١]**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: او په تاسو کې چې چا دوی﴿کفارو﴾ سره دوستي وکړه، نو یقیناً هغه له همدوی څخه ده، بېشکه الله عزوجل ظالم قوم ته نېغه لار نه ښیي.**

دا چې سیکولر ملکان له کفارو سره دقیقاً په کومه کومه برخه کې دوستي او همکاري لري په سیکولر ټولنیز ژوند کې یې مفصله تشریح وشوه خو بیا هم د نېغ تفاهم لپاره به له کفارو سره د دوی د همکاري له ډولونو څخه عمده ټکي دلته ذکر کړو:

- ملکان د جمهوري ډیموکراتیکو ټاکنو لورى ته د خلکو بلونکي او کاندیدانو ته کمپاین چلوونکي.
- ملکان د وطني تذکرو په اخیستلو کې له سیکولر نظام سره د مستقیمې دوستانې لرونکي.
- د مجاهدینو په اړه استخباراتي ادارو ته د استخباراتو استعلامونه ځوابول او د اسیرو مجاهدینو په اړه مرتدینو ته د اضافي معلوماتو ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کفري شيطاني مؤسسو د برنامو تطبيق او په کلي او کوڅو کې حکومتي فکري جاسوسان ګرځول او سروې ګانو کې مرسته ورسره کول.
- د خياطي، مرغداري يا سواد آموزي په نوم د کفارو د ښځو او نرانو مختلط ټولنيز ژوند ته په کلي کې لاره هوارول او دې کار ته د کلي ښځې آماده کول.
- د سودي مؤسسو لپاره په کلي او کوڅو کې د فعاليت زمينه برابرول او د سود خورو تضمينونه مؤسساتو ته کول، لکه د بانکونو لپاره د هغو خلکو تضمين کول چې دده د کلي له اتباعو څخه وي او په سود له بانک يا بلې مرجع څخه پيسې ترلاسه کوي، نو د ملک يا وکيل ګذر په تائيد سودي معامله ترسره کيږي او همدوی د سيکولر اقتصادي سودي سيستم او د خلکو تر منځ د رابطو او معاملو يو پل وي.
- د مجاهدينو په ضد په کلو کې د اربکيانو او پاڅونخيلو راپارول او له مجاهدينو سره جنګول.

او په ډېرو نورو برخو کې ملکان د سيکولر کفر مرستندويان دي او له کفري نظامونو سره دوستي او همکاري لري چې له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دوی د الله عزوجل د کلام د المائدة د سورة د ۵۱ مبارک آيت مصداق ګرځېدلي او له اسلامه مرتد شوي دي.

## 24. په سيکولر نظام کې مامور کېدل کفر او له اسلامه وتل دي:

د سيکولر نظام په هره برخه کې مامور کېدل او وظيفه تر سره کول کفر او له اسلامه خارجيدل دي ځکه يو نظام چې تکفيرېږي نو په هغه کې موجود انسانان تکفيرېږي نه دا چې د نظام اړوندي ونې، غرونه او لرګي تکفير شي، د کفري نظام ټول مامورين د عين نظام او کفر پيروان او متابعين دي چې حکم يې د همغه نظام حکم ده.

که نظام مرتد و نو متابعين او مستکبرين به دواړه مرتدين وي او که نظام اسلامي و نو د ټولو اتباعو حکم يې هم ظاهراً د اسلام ده مګر دا چې په يوه فرد کې د اسلام کوم ناقض وليدل شي.

د فرعون د ټول نظام په اړه الله عزوجل فرمايلي چې:

**إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا خَاطِئِينَ [قصص:۸]**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: بېشکه فرعون او هامان او د دواړو لښکرې ﴿دوی تېول﴾ خطاء کوونکي وو.

دا پداسې حال کې ده چې د فرعون په نظام کې الله سبحانه وتعالی د یوه مؤمن سړي یادونه هم کړې او فرمایي چې:

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُم بِالْبَيِّنَاتِ مِن رَّبِّكُمْ وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿غافر: ۲۸﴾

ژباړه: او د فرعون په خاندان کې یوه مؤمن سړی چې خپل ایمان یې پټ ساتلو وویل: آیا تاسو یو سړی په دې وجه وژنئ چې هغه وائي: زما رب الله ده؟ حال دا چې یقیناً هغه تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره دلیلونه هم راوړي دي او که دی دروغجن وي نو په همده باندې د خپلو دروغو ضرر ده او که دی ریښتینی وي ﴿نو بیا خو به﴾ تاسو ته د هغه ﴿عذاب﴾ ځینې برخه درورسیږي چې دا ئې تاسو ته وعده درکوي، بېشکه الله هدایت نه کوي هغه چاته چې هغه د حده تېرېدونکی ډېر درغجن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د فرعون نظام چې الله سبحانه وتعالی مکمل تکفیر کړی بیا یې پخپل کلام کې ترې استثناء هم کړې، که اوس هم څوک له موجوده کفري نظامونو څخه استثناء کوي باید خبره یې له شریعت څخه په دلیل استواره وي او یا به د تکفیر له موانعو څخه یوه ورته محققه کوي خو دا دواړه صورتونه او استثناوې باید په دلیل یا په مشاهدې بناء وي چې د یوه دلیل شرعي نصوص دي لکه الله عزوجل چې د فرعون په نظام کې د یوه چا د ایمان په اړه خبر ورکړ او دا کار خو اوس نا ممکن ده ځکه وحیې بنده ده او د بل یې د شرعي موانعو څخه د یوې شتون ده.

په یاد ولرئ چې په کفري نظام کې د یو چا د کار او دندې یا د خدمت تفاوت (کموالی یا زیاتوالی) د تکفیر له موانعو څخه نه ده لکه یو کس چې وایي چې فلان کس په کفري نظام کې فلان خدمت کوي نو هغه باید مرتد ونه بلل شي لکه د معلم، حکومتي ملا، زراعتي مامور، شاروالي، برقي وغیره باره کې چې بعضې ارجاء طبیعته خلک یاد تخفیفونه وړاندې کوي ځکه که داسې شي نو بیا د هر سیکولر نظام وزارتونه که دیرش

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب شي نو دوه یا درې به نظامي او عدلي ارګانونه وي باقي ټول د همدې خدماتو ارګانونه دي چې ټول حکومتونه یې له امله په پښو ولاړ دي او تقریباً د هر نظام ۹۰ فیصده تشکیلوي نو که د یوه نظام ۹۰ فیصده په یوې او بلې بهانې تکفیر نشي او صرف لس فیصده تکفیر شي نو څرنګه یو څوک ویلی شي چې ما له ټول کفر، کفري نظام او کفري معنویاتو پوره بېزاري کړې؟

هر کفري نظام لره مستکبرین او متابعین وي او الله عزوجل د خپل کلام په څو څو ځایونو کې ددوی یادونه کړې لکه چې فرمایلي یې دی:

**وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ الْقَوْلَ يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لَوْلَا أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ﴿٣١﴾قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا أَنَحْنُ صَدَدْنَاكُمْ عَنِ الْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَاءَكُم بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ [سباء : ٣٢] وَقَالَ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا بَلْ مَكْرُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَا أَن نَّكْفُرَ بِاللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُ أَندَادًا وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ وَجَعَلْنَا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْأَغْلَالَ فِي أَعْنَاقِ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿سبإ: ٣٣﴾

ژباړه: او که ته ووینې کله چې ظالمان د خپل رب په وړاندې ودرول شي، په داسې حال کې چې ددوی ځینې به ځینو نورو ته چې ضعیف ﴿کم رتبه﴾ کړی شوي کسان به هغو کسانو ته ووایي چې تکبر ﴿مشري﴾ به ئې کاوه: که تاسو ﴿مونږ لره د ایمان نه منع کوونکي﴾ نه وی ﴿نو﴾ یقیناً مونږ به مؤمنان ؤ، هغه کسان چې تکبر یې کړی ؤ وبه وائي هغو کسانو ته چې کمزوري (کم رتبه) کړی شوي ؤ: آیا مونږه تاسو د هدایت نه بند کړي وئ؟ وروسته لدې چې کله هغه تاسو ته راغی! ﴿داسې نه ده﴾ بلکې تاسو ﴿پخپله﴾ مجرمان وئ، او کمزوری ﴿کم رتبه﴾ کړی شوي کسان به هغو کسانو ته ووائي چې تکبر به ئې کاوه: ﴿داسې نه وه﴾ بلکې ﴿دا ستاسو﴾ د شپې او ورځې مکر ؤ کله چې به تاسو مونږ ته حکم کاوه چې مونږ په الله سره کافران شو او د هغه لپاره مونږ شریکان پیدا کړو او دوی ﴿ټول﴾ به پښېماني پټه کړي کله چې دوی عذاب ووینې او مونږ به ځنځیرونه د کافر شویو کسانو په غاړو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واچوو، دوی ته بدله نه ورکول کیږي مګر د هغو عملونو چې دوی به کول.**

همدارنګه الله عزوجل فرمايي:

**وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ فَيَقُولُ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ النَّارِ [۴۷]قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُلٌّ فِيهَا إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ [غافر:٤٨]**

**ژباړه: او ﴿یاد کړه﴾ هغه وخت چې دوی به په خپل منځ کې جګړې کوي نو کمزوري ﴿ټیټ رتبه﴾ به هغو کسانو ته وائي چې تکبر ﴿مشري﴾ ئې کاوه: بېشکه مونږ خو ستاسو پیروي کوونکي ؤ نو آیا تاسو زمونږ نه د اور ځینې برخه لیرې کوونکي یئ؟ هغه کسان به ﴿په ځواب کې﴾ ووائي: چې تکبر ﴿مشري﴾ يې کړې وه: بېشکه مونږ ټول په دغه ﴿دوزخ﴾ کې یو، بېشکه الله د بندګانو په منځ کې فیصله کړې ده.**

او ډېر نور آیتونه چې د هر طاغوت د متابعینو او مستکبرینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ټيټ رتبه مامورينو او لوړ رتبه مامورينو) يادونه پکې شوې، دا چې په کفري نظام کې يو مامور لوی او مهم کار کوي او بل وړوکی او کم کار کوي نو هر يوه ته به د هغه د عمل په اساس په عذاب کې سختي يا نرمي وي لکه چې الله عزوجل د جهنميانو تر منځ د درجو يادونه کړې او فرمايلي دي چې:

**وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِّمَّا عَمِلُوا وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَايُظْلَمُونَ [احقاف:١٩]**

**ژباړه: او د هر چا لپاره ددوی د کړو عملونو په سبب ﴿بېلې بېلې﴾ مرتبې دي او ددې لپاره چې دوی ته ددوی عملونه پوره ورکړي او په دوی به ظلم ونکړی شي.**

همدارنگه له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه په يو روايت کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

**من كثر سواد قوم فهو منهم.**[10]

**ژباړه: هر چا چې د کوم قوم توروالی ﴿ډله﴾ زياته کړه هغه له هغوی څخه ده.**

[10] شرح البخاري لابن بطال

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې اساس هر څوک چې په کفري نظام کې دنده درلوده، هغه که په هر عنوان او درجې وه هغه مرتد ده او هر چا ته به د هغه د عمل برابر عذاب يا ثواب ورکول کيږي او په کفري نظامونو کې د دندو توپير د تکفير له موانعو څخه نده، خو مشکل بيا هم همغه ده چې بعضې خلک چې ددې مامورينو په نسبت په تکفير کې تخفيفونه وړاندې کوي په حقيقت کې له کفري نظامونو سره ددې مضرو څارويو په همکارۍ او دوستۍ بې خبره دي، ددې لپاره چې دا نقطې ټولو ته ښې واضحې شي د عامو مامورينو له کفري نظامونو سره د همکارۍ او دوستۍ نقطې به يوه يوه دلته واضحې کړو تر څو وپوهيږو چې ددوی څه څه گټې يادو کفري نظامونو ته رسيدلې؟

## له کفري نظامونو سره د برق، ښاروالۍ او نورو خدماتي مامورينو د دوستۍ او همکارۍ ډولونه:

پوهيږو چې د مامورينو ددې ډلې په اړه به هم د ډيرو خلکو نظر دا وي چې دوی خو عامه خدمتونه تر سره کوي او ددوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندو کومه برخه له کفري نظامونو سره د همکاري شاهدي ورکوي تر څو تکفیر شي؟

خو اصله خبره داده چې له کفارو سره ددوی د همکاري صورتونه د خلکو له سترګو پټ دي ځکه ټول خلک د سطحي فکر لرونکي او مسائلو ته په څېړنیز ډول نه ګوري، دا چې ددې مامورینو کفري نظامونو ته څه څه ګټې رسیدلي په لاندې ډول به بیان شي.

## الف: عامه خدمات د کفارو لپاره له اسلامي امت سره د رابطې او دوستي یوه وسیله ده:

د یادو خدماتو په مټ سیکور نظامونه له اسلامي امت سره دوستي پیل کوي او د همدې خدماتو په مټ له مؤمنانو سره روابط جوړوي چې بیا په خلکو کې د کفارو د رسوخ عامل او د پراخو فتنو سبب ګرځي، د یادو خدماتو اقتصادي مصارف په اکثره ملکونو کې د بانک جهاني له لوري ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب: عامه خدمات د سيکولر نظامونو خپل ضرورت ده:

ياد خدمات په اول قدم کې ددوی خپل ضرورت ده، سيکولر نظامونه پخپله برق، شاروالي او وغيره خدماتو ته اړتيا لري او احسان بارول يې د مؤمنانو په اوږو غلط کار ده، له همدې نتيجه اخلو چې سيکولر نظامونه خپلې خدماتي اړتياوې د همدې مامورينو په مټ پوره کوي چې دا هم له کفري نظام سره ددوی مستقيمه همکاري ده.

کفري نظامونه اکثره خپلې اداري جارې د همدې برق په واسطه سرته رسوي چې دا خدمات همدې مامورينو ورته برابر کړي وي، نو له کفري نظامونو سره ددوی د همکاري همدا ډول له ټولو خطرناک ډول ده چې ددوی د کفر سبب ګرځېدلی ده.

## ج: عامه خدمات د سيکولرانو له لوري د سيکولرانو لپاره:

ياد خدمات کفار خپل هغه سيکولر رعيت ته ورکوي چې هغوی با قاعده په سيکولريزم قناعت ورسره لري، ټاکنو کې ګډون کوي او د همدوی له منځه ددوی د نظامونو د خدمت لپاره سيکولر حکام او نور نظامي او ملکي مامورين ودرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خلک چې ددوی له سيکولريزم څخه بېزاره او په ځمکه د يوه الله حاکميت غواړي په هغوی خو کفار تن تن بمونه او سپين فاسفورس اوروي او بې تفکيکه يې له ښځو، ماشومانو او ضعفاؤ سره په شهادت رسوي، د همدې کار ثبوت تاسو د اسلامي خلافت په اړوندو سيمو لکه شام، عراق، خراسان او نورو ځايو کې وليده، په خراسان کې هغه ماشومان چې په خرو پسې به روان او دارالاسلام ته به يې يو څو کيلو اوږه بار کړي ؤ هغه به هم له ډرونه په هيل فاير مزايلونو ويشتل کېدل دا خو ډېره ليرې خبره ده چې دغو مؤمنانو ته دې کفار ياد خدمات ورکړي....!!!

نو دا خدمات د مؤمنانو لپاره نه بلکې د سيکولرانو لپاره د سيکولرانو له لوري دجالي پېرزوينې دي او اکثره يې لګښت او د مامورينو معاشونه د کفارو د بانک جهاني له طرفه ورکول کيږي.

## د: عامه خدمات د خلکو د غولونې وسيله:

د يادو خدماتو له لارې سيکولر او کفري نظامونه خپلو شومو اهدافو ته ځانونه رسوي او دا خدمات لدې اړخه هم ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله يوه اړتيا ده، مثلاً که برق قطع شي نو د سيکولر نظامونو اړوند رسنيزه رابطه هم له خلکو سره قطع کيږي او بيا به نه د فکري روزنې اړوند غلط تبليغات، نه به بې انصافه خبرونه او نه به د فحاشي د ترويج سريالونه خلک کتلی شي او يا په تلويزونونو کې هغه ګردي ميزونه چې د فکري روزنې درسونه د بحث او مرکې په شکل خلکو ته پکې وړاندې کيږي دا ټول شيطانتونه به سر وخوري، نو په همدې اساس کفار په هره ورکړه کې مؤمنانو ته بدې ارادې لري او ددوی د حکومتي مامورينو او خدماتو احسان دې د مؤمنانو په اوږو بار نشي.

بالفرض که مؤمنان ددوی برق ونه غواړي نو ممکن دوی يې د واکسينونو په څېر په زور هم په خلکو تطبيق او تارونه يې کش کړي تر څو هغوی خپل شيطانت د همدې په مټ تر سره کړي، نو د څه لپاره يې احسان بايد د مؤمنانو په اوږو واچول شي او يا يې مامورينو ته د خدمت په نوم تقدس وروبخښل شي او د نظام حکم يې له سره رد شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ر: سيکولر نظامونه ياد خدمات په مؤمنانو په پيسو خرڅوي:

له بل لوري ياد خدمات سيکولر نظامونه خلکو ته مفت نه ورکوي بلکې د پيسو په مقابل کې يې ورکوي حتی ګټه پکې کوي او له همدې خلکو يې ببرته مصارف اخيستل کيږي لکه د برق بېل چې خلک يې پيسې ورکوي يا په بل مختلف شکل د مالياتو په نوم له خلکو مالونه اخيستل کيږي او همدا خدمات خلکو ته پرې ورکول کيږي نو د مامورينو بې طرفي يې د څه لپاره چې احسان يې په مؤمنانو اچول کيږي او يا يې تکفير له سره رد کيږي؟

په همدې اساس د برق، ښاروالي او نورو خدماتي مامورينو حکم هم د همدې نظامونو حکم ده ځکه دوی د اسلام په خلاف او د سيکولر نظامونو په طرفداري د هغوی په ګټه د هغوی لپاره کار کوي او ددوی حکم هم د نورو په څېر کفر او له اسلامه خارجيدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 25. دين له زمانې سره نامناسب بلل کفر او له اسلام څخه خارجيدل دي:

هر څوک چې اسلامي دين لدې زمانې سره نامناسب بولي هغه له اسلام څخه مرتد او کافر ده ځکه دا د کتاب الله تکذيب ده، الله عزوجل فرمايلي چې:

**وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿سبإ: ٢٨﴾**

**ژباړه: او ته مو نه يې لیږلی مگر د ټولو خلکو لپاره زيری ورکوونکی او ويروونکی او ليکن ډېر خلک نه پوهيږي.**

نو د الله عزوجل لدې آيت سره سره که څوک اسلامي شريعت لدې زمانې سره مناسب نه بولي هغه د الله عزوجل د آيتونو تکذيب کوي، هغه مرتد او له اسلامه خارج ده.

نن دا گمراهي په خلکو کې ډېره عامه شوی، د وضعي او بشري قوانينو عبادت ته ددې ډول خلکو يوه بهانه داده چې نن سبا ډېر داسې وسايل پيدا شوي چې په دين کې ورته احکام نه موندل کيږي نو مجبور يو چې د وضعي قوانينو په پيروي مسائل حل کړو، همدا خبره د همدې عقيدې تفسير ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا دین لدې زمانې سره نامناسب ده او احکام او شریعت یې د تطبیق وړ ندي او دا خبره کفر او له اسلامه خارجېدل دي.

## 26. اسلامي شریعت نیمګړی بلل کفر او له اسلامه خارجېدل دي:

هر څوک چې د الله عزوجل شریعت او قانون نیمګړی بولي دا کار هم کفر له اسلامه خروج او د قرآن تکذیب ده څکه الله عزوجل په سورة المائدة کې فرمایلي چې ما خپل دین ﴿قانون او شریعت﴾ مکمل کړ، فرمایي:

**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا المائدة :۳]**

**ژباړه: نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دین (قانون، تګلاره او شریعت) مکمل کړ او په تاسو باندې مې خپل نعمتونه پوره کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دین ﴿قانون، تګلارې او شریعت﴾ په توګه خوښ کړ.**

او سره لدې هم که څوک اسلامي شریعت ناکامل ګڼي هغه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قرآن تکذيب کوي چې دا کار کفر او له اسلامه خارجېدل دي.

## 7 2 له شريعت څخه کرکه لرل کفر او له اسلامه وتل دي:

سيکولران چې د الله عزوجل د قانون او شريعت په موجودگي کې خپلو وضعي قوانينو ته غوره والی ورکوي حقيقت داده چې دوی د الله عزوجل له قانون او شريعت څخه کرکه لري، له دوی څخه بعضې که د معلوماتو لپاره دوی لږ په حوصله راوغږوئ همدا اقرار به په خپلو غوږونو ترې واورئ، پرته لدې چې تا يې يادونه کړې وي سترگې به راوباسي او په لاسو به خبرې پيل کړي چې د غله لاس قطع کول نن څوک درسره مني؟ د انسان رجم کول د بشري حقوقو خلاف ده او په نورو شکلونو به دوی د الله عزوجل له شريعت څخه د کرکې اظهار وکړي او بالمقابل دوی تل ليدل شوي چې د کفارو د جاهلو اصولو دفاع کوي مثلاً دوی تل همدا وايي چې: د بشري حقوقو متابعت او منل څه پروا لري؟ څه مشکل ده پکې؟ وغيره....دوی به د کفري اصولو داسې تزکيه شروع کړي ته به وايې چې د الله عزوجل په شريعت کې د انسانانو لپاره هيڅ بشري حقوق ندي مراعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي والعياذبالله، او دا کار کفر او له اسلام څخه وتل دي څکه الله عزوجل فرمايي:

**ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ [محمد:٩]**

**ژباړه: دا خکه چې يقيناً دوی هغه ﴿قرآن﴾ بد ګڼلی ده چې الله عزوجل نازل کړی ده نو هغه ﴿الله﴾ ددوی عملونه برباد کړل.**

پداسې حال کې چې د الله سبحانه وتعالی له دين او شريعت څخه کرکه لرل کفر او له اسلامه وتل دي.

## 28. د تحليل او تحريم حق اکثريت ته منل کفر او له اسلامه خارجيدل دي:

هر څوک چې د ولسواکي يا خپلواکي (يعنې ولس به خپله ځان ته پخپله خوښه قانون جوړوي) تر عنوان لاندې دا عقيده ولري چې عام اکثريت ځان ته د حلالولو او حرامولو د ټاکلو مستقل حق لري او خوښه يې چې هر ډول قانون او شريعت غواړي ځان ته يې جوړ کړي دا هم کفري فکر او عقيده ده، همدې کار ته نن سيکولران عوامو ته د ارادې آزادي ورکول يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواکي، ولسواکي یا ټولواکي وایي او دا ګمراهي او ضلالت ده ځکه ټولواک الله سبحانه وتعالی ده، د حلالولو او حرامولو واک یوازې او یوازې همغه ذات لره ده، همغه الله ټولواک، خپلواک او حاکم ده او الله عزوجل پدې توحید کې له ځان سره هیڅوک نه شریکوي، چې د وضعي قوانینو او ډیموکراسي په عنوانونو کې پدې اړه له قرآن څخه کافي آیتونه ذکر شول.

یهودو چې د تحلیل او تحریم حق غیر له الله عزوجل څخه خپلو مشرانو او علماؤ ته ورکړ نو په اړه یې الله سبحانه وتعالی وفرمایل چې هغوی خپل علماء او مشران معبودان جوړ کړي ؤ او د هغوی عبادت یې کاوه، نو د تحلیل او تحریم حق غیرالله ته ورکول کفر او له اسلامه خارجېدل دي.

## 29. د اسلامي نظام او دین له قائمولو څخه منع کول کفر او له اسلامه خارجېدل دي:

هر څوک چې د الله عزوجل د دین له قائمولو څخه منع کوي او نه پرېږدي چې په ځمکه د الله سبحانه وتعالی قانون جاري شي دا هم کفر او له اسلامه وتل دي، د اسلامي نظام دنده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکه د الله سبحانه وتعالی شریعت او قوانین نافذول دي، پدې اړه الله سبحانه وتعالی فرمايي چې:

**يَا دَاوُودُ إِنَّاجَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُم بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿ص: ٢٦﴾**

**ژباړه: ای داوده! بېشکه ته مو په ځمکه خلیفه ګرځولی يې، نو ته د خلکو په منځ کې په حقه فیصلې کوه او د (خلکو) د خواهشاتو پیروي مه کوه، ګنې تا به د الله عزوجل د لارې نه ګمراه کړي، بېشکه هغه چې د الله تعالی له لارې نه ګمراه کیږي د هغوی لپاره ډېر سخت عذاب ده، په سبب ددوی د هېرولو د ورځې د حساب لره.**

د الله سبحانه وتعالی د شریعت له نفاذ څخه منع کول د کافرانو خوی ده چې په اړه يې الله عزوجل فرمايي:

**الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿هود: ١٩﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: هغه کسان چې د الله عزوجل له لارې څخه منع کول کوي او په هغې ﴿لاره﴾ کې کوږوالی لټوي او همدوی له آخرت نه انکار کوونکي ﴿کافران﴾ دي.**

همدارنګه الله عزوجل فرمايي:

**إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ قَدْ ضَلُّوا ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿النساء: ١٦٧﴾**

**ژباړه: يقيناً هغه کسان چې کافران شوي او د الله سبحانه وتعالی له لارې څخه بندول کوي يقيناً هغوی ګمراه شوي دي په ډېرې ليرې ګمراهی.**

او په لسګونو نور آيتونه چې د الله عزوجل د لارې نه د خلکو د منع کوونکو په اړه الله سبحانه وتعالی نازل کړي او هغوی يې کافران بللي دي.

نن سيکولر نظامونه په يو مخيز ډول د الله عزوجل د شريعت او قوانينو د پلي کوونکو مخه نيسي، ورسره جنګيږي او هڅه لري چې د هغه په ځای خپل سيکولر کفر په خلکو کې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک چې د الله عزوجل له لارې څخه نور خلک بندوي دا صفت د نفاق اکبر د خاوندانو یو صفت هم ده چې په اړه یې الله عزوجل بیا فرمایلي چې:

**اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿المنافقون: ٢﴾**

**ژباړه: دوی ﴿منافقانو﴾ خپل قسمونه ډال ګرځولي دي نو دوی د الله سبحانه وتعالی له لارې نه خلک منع کوي، بېشکه دوی چې دي بد ده هغه کار چې دوی يې کوي.**

## 30. له کفارو سره د مؤمنانو په مقابل کې دوستي کول کفر او له اسلامه خارجېدل دي:

هر څوک چې د مسلمانانو په مقابل کې له کفارو سره دوستي وکړي هغه هم کافر او له اسلامه خارج ده، دا کار یوازې په نظامي جامه کې نه بلکې نن په مختلفو طریقو کې ممکن شوی، نن هر څوک چې له بین الملل سره په سپین لیست ﴿د دوستي لیست﴾ کې قرار لري یا له هغوی سره څوکۍ لري او یا یې هغوی په رسمیت پیژني همغه د مسلمانانو په مقابل کې د کفارو ناصر اومرستندوی ده ځکه دا هغه خلک دي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفارو مطلق اطاعت د مجاهدينو يا ددوی په وينا د ترووريستانو په مقابل کې کوي، د هغوی په ضد له کفارو سره نړيوال ائتلافونه لري او د اسلامي مقدساتو او اساساتو په ځای سيکولر اساسات مني او د اسلام په ځای همغه جهل تطبيقوي.

دوی د اسلامي حجاب په ځای د ښځو د آزادي، د جهاد په ځای له کفارو سره د مساواتو او سوله اييز ژوند تېرول، د اسلامي اخوت په ځای وطنيت، د کفارو په مقابل کې د سختي په ځای نرمي،د شرعي حدودو او قصاص په ځای د بشري حقوقو جهل منل او د اسلامي نظام معيشت په ځای د سيکولر نظام معيشت طرفدار دي، د همدې جهلونو د منلو په اساس نن کفار له خلکو سره دوستي کوي، د همدې په اساس نظامي تړونونه او ائتلافونه له خلکو سره کوي او نن همدا د اسلام په مقابل کې له کفارو سره واضحه دوستي ده او همدا کار کفر او له اسلامه خارجېدل دي.

د يادولو وړ ده چې د مسلمانانو په مقابل کې له کفارو سره دوستي نن تش تر دې نشو منحصرولی چې کوم څوک له کفارو سره عملاً په جنگي نظامي صف کې ودرېږي او بيا دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کفارو سره د دستي او همکاري نوم پرې کېښودل شي بلکې له کفارو سره ياده دوستي نن په مختلفو ملکي او نظامي ډولونو کې ممکنه شوې چې يو له هغه د بين المللي اصولو اطاعت يا د سيکولر اساساتو منل دي ځکه دا ټول کفري او له مسلمانانو سره معاصر جنګېدونکي معنويات دي چې دوستي ورسره لرل کفر او له اسلامه وتل دي ځکه الله عزوجل فرمايلي چې:

**وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [المائدة :٥١]**

**ژباړه: او په تاسو کې چې چا دوی سره دوستي وکړه، نو يقيناً هغه له همدوی څخه ده، بېشکه الله عزوجل ظالم قوم ته نېغه لار نه ښيي.**

د يادولو وړ ده چې بعضې خلک د بين الملل يا له نورو کفري جهتونو سره دوستي ته د ضرورت او مجبوريت نوم ورکوي چې دا هم د نفاق اکبر، کفر او ارتداد علامه ده، الله عزوجل پدې اړه فرمايلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ﴿المائدة: ٥٢﴾

ژباړه: نو تاسو به وينئ هغه کسان چې په زړونو کې يې مرض ده ﴿له کفارو سره په دوستي﴾ کې له يو او بل څخه مخکېوالی کوي او وايي چې مونږ ويريږو د گردش د زمانې نه ﴿يعنې د حالاتو د تغير يا له مجبورې ورځې نه﴾.

همدارنگه الله عزوجل بيا فرمايي چې:

الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴿النساء: ١٣٩﴾

ژباړه: هغه کسان چې مؤمنانو نه غير کافران دوستان نيسي آيا دوی د هغوی په خوا کې عزت لټوي؟ نو بېشکه عزت ټول د الله لپاره ده.

همدارنگه الله عزوجل فرمايلي چې:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿النساء: ١٤٤﴾ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَن تَجِدَلَهُمْ نَصِيرًا﴿النساء: ۱۴۵﴾

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، د مؤمنانو نه غیر کافرانو لره دوستان مه نیسئ، آیا تاسو غواړئ چې د الله لپاره د خپل ځان په خلاف ښکاره دلیل ثابت کړئ؟ بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندېنۍ طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوک مدد کوونکی ونه مومې.

## 31. په محلي رواجونو او رسمونو فیصلې کول کفر او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې په محلي رواجونو او نرخونو فیصلې کوي هغه بغیر ما انزل الله فیصله کړي او دا کار کفر او له اسلامه خروج ده، ځکه الله عزوجل فرمايي:

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ﴿مائدة : ۴۴﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: او چا چې د الله سبحانه وتعالی په نازل کړي ﴿کتاب، شریعت او قانون﴾ فیصله ونکړه نو همدغه خلک کافران دي.**

او نن دا فتنه په اسلامي امت کې ډېره شوې، خصوصاً په پښتنو کې د مرکچیانو په نوم د قوم له ټولو جاهل او بې علمه خلک په فیصلو کې ناست او بغیر ما أنزل الله فیصلې کوي، پدې فیصلو کې دوی د خلکو لوریانې د قتل په مقابل کې په بدو کې ورکوي، غیر شرعي پورونه د قصاص په ډول ټاکي چې پدې توګه هم له ظالم او هم له مظلوم سره زیاتی کوي ځکه مظلوم ته خپل شرعي حق نه ورکول کیږي او د ظالم له اوږو څخه د هغه اخروي پېټی نه سپکیږي چې دا ډول فیصلې کول بغیر ما انزل الله فیصلې کول، کفر او له اسلامه خارجېدل دي.

## 32. له کفري اساساتو بېزاري نکول او دوستي ورسره کول کفر او له اسلامه خارجېدل دي:

د الله عزوجل لپاره له یو چا سره دوستي او دښمني کول د ایمان اصل ده او پرته لدې ایمان نه صحیح کیږي، هر څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له کفري عقايدو او ارکانو څخه لکه د سيکولريزم له اساساتو څخه پوره بېزاري نکوي نو ددې کس ايمان صحيح نده ځکه الولاء او البراء دواړه د ايمان له اساسي ارکانو څخه شمېرل کيږي ځکه الله عزوجل فرمايي چې:

**قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ إ ﴿الممتحنة: ٤﴾**

**ژباړه: يقيناً تاسو لپاره يوه ښکلې طريقه په ابراهيم او په هغو کسانو کې ده چې دده سره ملګري وو کله چې دوی خپل قوم ته وويل: بېشکه مونږ له تاسو نه او د هغو څيزونو چې تاسو يې د الله نه غير عبادت کوئ سخت بېزاره يو، مونږ په تاسو باندې منکر شوي يو او زمونږ او ستاسو په منځ کې عداوت ﴿دښمني﴾ او بغض ﴿کينه او کرکه﴾ د همېشه لپاره واقع شوی ده، تر هغه پورې چې تاسو په الله باندې ايمان راوړئ چې ايکې يوازې ده.**

د (**وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ**)په تفسير کې ابن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کثير رحمه الله ليکلي چې: أی بدينکم و طريقکم، يعنې ستاسو له قانون او طريقو څخه بيزاره يو، شيخ علامه سمحان رحمه الله سبحانه وتعالی په الدرر کې فرمايي چې د (**كَفَرْنَا بِكُمْ**) معنی داده چې تاسو مو کافر وبللی.

په همدې اساس د کفر له قوانينو او طريقو څخه بېزاري کول، هغه ته کفر ويل د ايمان لپاره مهم اصل ده او پرته لدې د يوه مؤمن ايمان نه صحيح کيږي ځکه الله عزوجل بيا فرمايلي چې:

**لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْإِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ [المجادلة :٢٢]**

**ژباړه: ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د آخرت ايمان ولري او دوی بياله هغو کسانو سره دوستي وکړي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي اگر چې دغه خلک ددوی پلرونه وي، يا ددوی زامن، يا ددوی وروڼه يا ددوی قبيله وي، دا کسان(له کفارو څخه بيزاري کوونکي) دي چې الله ددوی په زړونو کې ايمان ليکلی او دوی يې په هغه روح سره قوي کړي چې دده له جانبه ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 33. د کفارو اطاعت کفر او له اسلامه خارجېدل دي:

هر څوک چې د کفارو اطاعت د هغوی په ملکې يا نظامي هغو قوانينو او اصولو کې کوي چې له اسلام سره په مخالفت کې قرار لري هغه کافر او له اسلامه خارج ده ځکه الله عزوجل فرمايي چې:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ [آل عمران:١٤٩]**

**ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی که چيرې تاسو د کافرانو خبره ومنئ ﴿نو﴾ هغوی به تاسو ﴿د دين نه﴾ په شا وګرځوي بيا به تاسو داسې شئ چې تاوانيان به يئ.**

همدارنګه الله عزوجل فرمايي چې:

**وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴿البقرة: ١٢٠﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: او له تانه خو به هيڅکله نه يهوديان او او نه نصرانيان راضي شي تر دې چې ته ددوی د دين ﴿تګلارې او قانون﴾ پيروي وکړې.**

په همدې اساس هر څوک چې د معاصر کفري دين ﴿سيکولريزم﴾ اطاعت وکړي او يا ياد کار د بين المللي اصولو يا په بل هر نوم او عنوان ومني او يا د کفارو د سيکولر دين يو رکن له ارکانو يا يو قانون له قوانينو څخه ومني که هغه په هر نوم او عنوان وي دا کار کفر او له اسلامه خارجېدل دي.

## 34. د مسلمانانو د کمزوري کولو او د کفارو د غلبې په هوډ ارجاف کول کفر او له اسلامه خارجېدل دي:

د ارجاف معنی داده چې د مؤمنانو په منځ کې تشويش انګيزه او دروغجنې آوازې خپرې شي تر څو د همدې دروغجنو آوازو او شبهو په خپرولو خلک له قتال او سنګر څخه راوګرځي.

نو هر هغه څوک چې د مسلمانانو په منځ کې د کفارو د غلبې په هدف ارجاف کوي هغه د نفاق اکبر په مرض ککړ، کافر او له اسلامه خارج ده ځکه الله عزوجل فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا مَّلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا﴿الأحزاب: ٦٠﴾**

**ژباړه: قسم ده که دغه منافقان او هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې ﴿د بدکارۍ﴾ مرض ده او په مدينه کې بدې﴿تشويشناکې﴾ آوازې خپروي منع نشي ﴿نو﴾ مونږ به خامخا ضرور تا په دوی مسلط کړو، بيا به دوی په دې کې له تاسره په گاونډ کې پاتې نشي مگر ډېر لږ ﴿وخت﴾ پداسې حال کې چې رټلي ترټل شوي به وي، هر چيرې چې وموندل شي ﴿نو﴾ وبه نيول شي او وبه وژلی شي ډېر بد وژل کېدل.**

د مرجفينو وظيفه د آوازو او شبهو په مټ له سنگر او جهاد څخه د خلکو راوگرځول دي، يا له کفارو څخه د خلکو ډارول او يا د همدې کار په مټ د مسلمانانو د زعيم، مشر او د هغه د تگلارو په اړه خلک په شک کې اچول او د هغه له ملگرتيا څخه خلک کښينول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن له همدې ډول مرجفینو دنیا ډکه شوې، په رسنیزه او علني توګه د ا سلامي نظام په مشرانو پسې بدې ردې ویل کیږي، هغوی د کفارو اجنټان او جاسوسان نومول کیږي او په قسماقسم تهمتونو یې د حیثیت د داغ داره کولو هڅې کیږي تر څو خلک جهاد ترک، له ملګرتیا څخه یې راوګرځي او له دوی سره په سیکولر نظامونو کې د کفري شرائعو عبادت پیل کړي.

همدارنګه یاد مرجفین نن په رسنیزه او علني توګه د کفارو د نظامي رعب او نمایشاتو فلمونه نشروي تر څو د کفارو پرمختګ په مسلمانانو وګوري، د هغوی رعب او درناوی په مؤمنانو مسلط او له کفارو څخه له جنګ جګړو خلک وډار کړي. ددوی مشهوره بله طریقه داده چې د مؤمنانو تر منځ د جهاد او مجاهدینو په نسبت تشویش انګېزه آوازې نشروي چې مجاهدین ټول د امریکې خلک دي، جهاد نشته او دا د کفارو دسیسې دي، په همدې اساس د مجاهدینو په نسبت شکونه راپیدا کیږي او خلک له سنګر څخه راګرځي او د دنیاپرستي ﴿سیکولریزم﴾ ژوند پیلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو نن چې هر څوک یادې چارې د مسلمانانو د ضعیفولو لپاره تر سره کوي هغه د نفاق اکبر خاوند او د مرجفینو له جملې، کافر او له اسلامه مرتد ده.

## 35. سیکولریزم یا ډیموکراسي الله عزوجل ته د نزدیکیت وسیله بلل شرک او له اسلامه وتل دي:

هر څوک چې د سیکولریزم له لارې د اسلام د ګټلو دعوې کوي، او وايي چې مونږ د سیکولریزم د پیروي یعنې عبادت پوسیله الله ته ځانونه نژدې کوو، یا دا خبره چې لدې لارې مونږ اسلام ګټو، دعوت کوو او له سیکولریزم څخه یې الله عزوجل ته د نزدیکیت یوه وسیله جوړه کړې وي هغه په شرکي وسیلې مشرک او له اسلامه خارج ده ځکه اړه الله عزوجل فرمايلي:

**أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّاللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْهُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ﴿الزمر : ٣﴾**

**ژباړه: خبردار شئ! خاص د الله عزوجل لپاره خالص دین ﴿قانون، شریعت او تګلاره﴾ ده او هغه کسان چې له هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه غير ئې دوستان ﴿کارسازي﴾ نيولي دي ﴿وائي﴾: مونږ ددې ﴿ سيکولريزم او ډيموکراسي﴾ عبادت نه کوو مکر ددې لپاره چې الله عزوجل ته مو نژدې کړي په ښه ډېر نژدې کولو، بېشکه الله ددوی په منځ کې په هغو خبرو کې فيصله کوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي، بېشکه الله هدايت نه کوي هغه چاته چې هغه دروغجن، ډېر ناشکره وي.**

الله سبحانه وتعالی ددې ډول خلکو ته د آيت په آخر کې د د دروغجنو خطاب کړی او په رښتيا هم نن چې څومره اسلامپاله سيکولران دي هغوی فقط او فقط د خپلو نفسي خواهشاتو لپاره دا لاره نيولې او د دين دعوه خو ددې لپاره کوي چې ځان ته په اسلامي ټولنه کې پرې د اسلامي روحانيت نور کريډټ او امتيازات وګټي او نشي چې د کفر د تابعداري له وجې يې خلک مرتد او ذليل وبولي او رسوا او بې عزته شي، او الله تعالی فرمايي چې دوی ته هدايت نشي کېدلی، والعياذبالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کفر پورته (۳۵) ډولونه نن له اسلام سره جنګيږي او هم يې خلک په فتنه کې غورځېدلي، په ياد ولرئ که د ايمان معاصر (۳۵) ماتوونکي نن له کفارو سره ومنل شي نو فوراً يې له تا سره سوله او روغه راځي او تا په سپين ليست کې شاملوي او په رسميت دې هم پېژني، بيا به د بمباردونو په ځای بشري مرستې درته را روانې وي خو که ياد اساسات ورسره ونه منل شي نو له ټولو سخته دښمني درسره کوي او بيا به شپه او ورځ په تا د بشري مرستو په ځای بارود اوروي.

ممکن بعضې وروڼه د کفر په پورته ډولونو کې له ما سره اختلاف وکړي خو يوه خبره په ياد ولرئ چې د ايمان ياد ماتوونکي د خلکو د انفرادي ګمراهيو زېږنده نه بلکې دا د هغه کفري دين ارکان دي چې په حاضره زمانه کې له اسلام سره جنګيږي او په اسلامي امت په مسلح او اجتماعي توګه، د زور، زياتي او وحشت په مټ يې د منلو هڅې کيږي نو هيله لرم چې د اختلاف په ځای د همدې کفري اساساتو په ضد فعاليت وکړئ ځکه همدا نقطې د معاصرو کفارو حساسې نقطې دي چې په وهلو يې ددوی ملا ماتيږي ان شاء الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيم فصل

# فسطاطين: د ايمان او نفاق دوه خيمې او په اسلامپاله سيکولرانو کې د منافقت ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فسطاطين (دوه خيمې): اسلامپاله سيکولران او نفاق اکبر:

په اوسني عصر کې د اسلام جګړه له يوې تګلارې سره ده، داسې تګلاره چې د پراخو او دقيقو پلانونو په مټ يې ټول اسلامي امت لاندې کړي، ددې تګلارې تر شا تش يو څو جنګي جنرالان نه بلکې د غرب ټول شيطاني متخصصين ولاړ دي چې د امت اکثريت يې د نفاق اکبر او کفر په فتنه کې اخته کړي.

لمونځ ګذاره سيکولرانو ته د منافقينو په خطاب دې څوک داسې فکر نکوي چې لدې څخه زما مطلب هغه نفاق اصغر ده چې بعضې خارجي جماعتونه سيکولران پرې ملامتوي او ددوی واضح تکفير نکوي بلکې زما مطلب ترې ددوی نفاق اکبر، کفر او له اسلامه خارجيدل دي.

په سيکولريزم کې د همدې منافقت ډېرې ډېرې نمونې او مثالونه شته او رسول الله صلی الله عليه وسلم هم په آخره زمانه کې د يوې فتنې د راتلو له امله د خلکو د ايمانونو په اړه فرمايي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عن عبدالله بن عمر قال: كنا عند رسول الله صلى الله عليه وسلم قعودا فذكر الفتن ....... يصبح الرجل فيها مؤمنا ويمسى كافرا حتى يصير الناس إلى فسطاطين فسطاط إيمان لا نفاق فيه وفسطاط نفاق لا إيمان فيه إذا كان ذاكم فانتظروا الدجال من اليوم أو غد)[11]**

**ژباړه: له عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه نقل دي هغه فرمايي چې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو چې هغه د فتنو يادونه وکړه ... او (د هغې فتنې له امله به) يو سړی سبا مؤمن او د شپې به کافر وي تردې چې خلک دوو خېمو ته تقسيم شي، يوه خېمه د ايمان چې هېڅ نفاق به پکې نه وي او يوه خېمه د منافقت چې هېڅ ايمان به پکې نه وي، نو کله چې تاسو پداسې حالت کې شوی پس په همغه ورځ يا يوه ورځ وروسته د دجال انتظار وکړئ.**

[11]رواه أبو داود (4242)، وأحمد (6168) (2/133)، والحاكم (4/513). والحديث سكت عنه أبو داود. وقال الحاكم: هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه. ووافقه الذهبي، وقال أحمد شاكر في ((مسند أحمد)) (9/24): إسناده صحيح(وقال بعضهم هو معلول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې مبارک حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ايمان او نفاق يادونه کړې او د ايمان او کفر يادونه يې نده کړې او منافقت خو هغه څوک کوي چې ظاهراً د اسلام دعوه کوي، له تاسره په يوه صف کې لمونځ کوي، روژې نيسي او کاملاً د يوه مسلمان دريځ لري، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ټولې دنيا د انسانانو تقسيم نه بلکې د خپل امت تقسيم مطلب ده چې په دوو ډلو يې ويشلی او نن په رښتيا هم همداسې يو حالت په اسلامي امت کې راغلی چې اکثريت هم سيکولر دين او شريعت مني او هم په مسجدونو کې لمونځونه کوي او له هر چا د اسلام اوچتې دعوې لري.

گورئ دا موضوع د وهابيت موضوع نده بلکې دا د ټول امت مشترکه قضيه ده ځکه د سيکولريزم په مرض يوازې يو مذهب او مسلک نده اخته بلکې د هر مذهب او مسلک خلک يې لاندې کړي، د ايمان په ياده خېمه کې نن گورو چې د هر مذهب خلک راټول شوي او همدارنگه د نفاق په خېمه کې هم د پخواني هر مسلک او مذهب خلک راټول شوي دي او په نوي سيکولر دين يې اجماع راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو به د ايمان په خيمه کې يو حنفي مذهبه وګورئ چې سيکولر وضعي قوانين به کفر بولي او بل حنفي به د نفاق په خېمه کې وګورئ وضعي قوانينو ته به اجتهاد او متابعت به يې ثواب هم بولي!

همدارنګه به يو حنبلي مذهبه وګورئ چې سيکولر وطنيت به د طاغوت عبادت بولي او بل حنبلي مذهبه به وګورئ چې د سيکولر وطنيت په لاره کې به هلاکت ته شهادت وايي!

همدارنګه به تاسو يو مالکي مذهبه وګورئ چې تحاکم الی الطاغوت ته به کفر وايي خو بل مالکي مذهبه به وګورئ چې د عصر ضرورت يې بولي او اطاعت ته به يې جهاد هم وايي!

همدارنګه به يو شافعي مذهبه وګورئ چې د کفارو اطاعت به کفر بولي او بل شافعي به د حکمت او هوښياري په نوم د جواز فتواګانې ورکوي!

همدارنګه نن داسې سلفيان هم شته چې د سيکولريزم اطاعت ته کفر او له اسلامه خروج وايي او بله ډله سلفيان به ګورئ چې جهاد به يې بولي او له همدې لارې به د اسلام د ګټلو دعوې کوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پدې معنی چې نن ټول اسلامي امت په په دوو خېمو ویشل شوی، داسې تقسیم چې د پخوانیو مذاهبو تقسیم یې هم له منځه وړی ده، د ایمان په خیمه کې هم حنفیان، هم شافعیان، هم مالکیان، هم حنبلیان او هم سلفیان موجود دي او د نفاق په خیمه کې هم حنفیان، شافعیان، مالکیان، حنبلیان او هم سلفیان ورټول شوي، دوه خیمې دي او دوه ډلې دي یوه هغه ډله ده چې په دین کلک ولاړ او پرته له الله سبحانه وتعالی د بل هیچا بندګي نکوي او بله هغه ډله ده چې ظاهراً د مسلمانانو په دریځ ولاړه تظاهر د اسلام خو عبادت د کفري شرائعو کوي، د کفارو د نوي دین په اطاعت کې خپلې وینې او خولې بهوي او د هغو مسلمانانو په مقابل کې جنګیږي چې په ځمکه د الله سبحانه وتعالی د شریعت او حدودو اقامه غواړي، دا پدې معنی چې نن امت په دوو تګلارو او مذهبونو ویشل شوی چې یوه تګلاره د ایمان او بله د نفاق، کفر او ردت تګلاره ده.

نن په همدې اساس د خوارج، تکفیري او وهابي ټاپه په هغه حنفي، مالکي، شافعي، حنبلي هم لګیږي چې د ایمان په خیمه کې ولاړ او سیکولر کفر ته کفر وایي او متابعین یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکفيروي، نن خبره بل شان ده او پدې عصر کې توحيد رفع اليدينو او آمين بالجهر ته نه بلکې له سيکولر کفر څخه بېزاري ته ويلی شو، نن د اسلامي امت جګړه له کفر سره ده او دا د پخوانيو مذاهبونو تر منځ جګړه نده لکه څرنګه چې بعضې استخباراتي کړۍ کوشش کوي چې د اسلامي نظام او کفري شرائعو روانه جګړه په وهابيت او تقليد پورې وتړي، مختلف جهتونه د مذهب او مسلک په نوم تحريک او بيا يې د سيکولريزم په ګټه د اسلامي نظام په مقابل کې استعمال کړي.

په همدې اساس په ټول امت آواز کوو چې ای د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم امته!!

له معاصر نوي کفر او شرک څخه بېزاري وکړئ، په توحيد کلک ودرېږئ، له دوه مخي څخه ځان وساتئ ځکه د انسان په سينه کې دوه زړونه نشي ځائېدلی چې په يوه کې د اسلامي دين، قانون او شريعت او په بل کې د سيکولر دين، قانون او شريعت مينه پرته وي، خبردار چې نن د سيکولر کفر د متابعت له امله دا مرض په خلکو کې ډېر عام شوی، دوی ظاهراً اسلام ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي خو په عملي ژوند کې عبادت او متابعت د سیکولریزم کوي، سیکولریزم تطبیقوي، له سیکولریزم ځخه خپل ځان، اولاد او سرونه قربانوي او د سیکولریزم په عبادت لګیا همغه ورته حکمت او هوښیاري ښکاري چې ددوی له شر څخه مونږ الله عزوجل ته پناه وروړو.

دا چې په سیکولرانو کې د منافقت کومې کومې نښې موجودې دي غواړم یوه یوه یې له کلام الله څخه په دلیل ذکر کړم تر څو پوه شئ چې نن د نفاق په خېمه کې د کوم کوم صفت خلک راټول شوي دي؟!

## 1. منافقان او له جهاده کرکه لرل:

منافقین تل له جهاد سره مشکل لري ځکه جهاد داسې یو عبادت ده چې ریښتونی ایمان غواړي او منافقان خو په حقیقت کې بې ایمانه وي یا د زړه د مرض له وجې دې کار ته تن نشي ورکولی لکه نن چې سیکولر مرتدین ګورو چې له ټولو زیات نفرت له جهاد او مجاهدینو لري، له جهاده کنښناستل هوښیاري بولي، مجاهدین ورته کم عقل او د کفارو اجنټان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري او خپل همدي دریځ ته خوشحاله او ځانونه حکیمان بولي، لکه الله سبحانه وتعالی هم ددوی په اړه فرمايي چې:

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَاتَنفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ﴿٨١﴾

الله عزوجل له کفارو څخه بېزاري او له هغوی سره دښمني د ایمان لپاره مهم شرط بللی او پرته لدې یې د یو چا ایمان نا سم بللی، الله عزوجل فرمایلي چې:

**لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْحَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْإِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ [مجادلة:۲۲]**

**ژباړه: ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د آخرت ایمان ولري ﴿او بیا﴾ دوی له هغه چا سره دوستي وکړي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت یې کړی ده سره لدې که دغه خلک ددوی پلرونه وي، یا ددوی زامن یا ددوی ورونه یا ددوی قبیله وي.**

خو سره لدې هم اسلامپاله سیکولران آماده ندي چې له کفارو سره دوستي قطع او له هغوی او د هغوی له تګلارو او شرائعو څخه بېزاري وکړي، دوی خپل همدې کفر ته د حکمت او هوښیاري نوم ورکوي او پیروي ته یې ډول ډول نورې بهانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لټوي ، په همدې اساس اسلامپاله سیکولرانو پدې اړه د الله عزوجل په ﴿۲۱﴾ آیتونو کفر کړی.

## اسلامپاله سیکولران او د آمر بالمعروف او نهی عن المنکر په اړه په ﴿٦٦﴾ آیتونو کفر کول:

الله عزوجل د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په اړه پخپل کلام کې ﴿٦٦﴾ آیتونه نازل کړي ، الله عزوجل فرمایلي:

**وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿آل‌عمران: ١٠٤﴾**

**ژباړه: او لازم ده چې په تاسو کې دې یوه داسې ډله وي چې د خیر طرف ته بلنه کوي او د نېکۍ حکم کوي او د بدۍ نه منع کوي، او هماغه خلک پوره کامیاب دي.**

خو اسلامپاله سیکولران د سیکولر تګلارو او شرائعو په منلو د الله سبحانه وتعالی له یادو آیتونو انکار کوي او په ځای یې د آزادیو او په عامه سلطه کې د مداخلې د نه کولو په نوم امر بالمعروف او نهی عن المنکر ترک کوي او دا یو حرام کار بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پدې ډول له يادو آيتونو څخه دوى مخ اړوي او کفر پرې کوي.

## اسلامپاله سيکولران او د موسيقي په اړه له (۱) آيت او ډېرو احاديثو انکار کول:

په قران او سنت کې موسيقي اوريدل او يا د ښځو ګډول او په هغې پيسې اخستل ټول حرام دي لکه چې الله عزوجل فرمايلى:

**وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيث لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿لقمان: ٦﴾**

**ژباړه: او له همدې انسانانو څخه داسې څوك هم شته چې چټي او بابېزه خبرې پيرې چې خلك د الله له لارې په بې علمۍ سره ګمراه کړي او ددغې لارې په بلنې پورې مسخرې وکړي، د دغسې خلکو لپاره سخت سپکوونکى عذاب دى.**

او همدارنګه په يوه حديث کې راځي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ثمن الكلب و كسب الزمارة (رواه فى شرح السنة۔ حسن ۔ ورجاله ثقات)**

**ژباړه: د ابو هريرة رضى الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم منع وکړه د سپي د (تجارت) د ګټې نه او د ډمتوب له کسب او کار څخه.**

او نور حديثونه چې د موسيقي د تحريم په اړه روايت شوي خو اسلامپاله سيکولران لدې آيت او نورو احاديثو څخه په انکار موسيقي حلاله بولي او دې کار ته د هنر او حلال کسب په خطاب مکتبونه او پوهنتونونه جوړوي او خلکو ته افتخاراً او په مفته دا

فسق ورزده کوي.

## اسلامپاله سيکولران د سود په اړه په ﴿۱۱﴾ آيتونو کفر کول:

الله عزوجل پخپل کلام کې سود حرام بللى او پدې اړه يې فرمايلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَن جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَىٰ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿البقرة: ٢٧٥﴾**

**ژباړه: او الله سبحانه وتعالی اخیستل خرڅول ﴿بیع﴾ حلال کړي دي او سود ئې حرام کړی ده، پس چاته چې د خپل رب له طرفه نصیحت راغی نو دی ﴿فوراً﴾ منع شو نو دده لپاره هغه څه ﴿معاف﴾ دي چې مخکې تېر شوي دي او دده معامله الله عزوجل ته حواله ده، او کوم کس چې ﴿سود ته﴾ بېرته راوګرځي نو دغه کسان د اور والا دي، دوی به په هغه کې همېشه وي.**

خو اسلامپاله سیکولران د سیکولر اقتصادي سودي نظام په پیروي یادو معاملو او سودي سیستم منلو ته هم هوښیاري او حکمت وایي، دا کار د ماډرنایزېشن په عنوان پرمختګ بولي، خو پدې برخه کې د الله عزوجل په آیتونو کفر کوي، دوی پخپله په همدې سودي بانکي سیستمونو کې ښکېل همدوي یې مامورین او په اسلامي امت کې د کفارود معاملاتو چلوونکي او د الله سبحانه وتعالی په آیتونو کفر کوونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلامپاله سیکولران په دیني تګلارو د شک لرلو له امله د الله سبحانه وتعالی په ټول کلام او په خاصه توګه په ﴿۱٦﴾ آیتونو کفر کوي:

اسلامپاله سیکولران دیني تګلارو خصوصاً قتال في سبیل الله ته د شک په سترګه ګوري او په نظام او سیاست کې د اسلام په ځای د سیکولریزم پلي کول او منل پوهه بولي او عقیده لري چې اسلامي تګلارې په نن زمانه کې والعیاذبالله ناچله او په ځای یې د بل دین او تګلارې پیروي مسلمانانو ته ګټه رسولی او اسلام ترې ګټل کیدلی شي، دوی په اسلامي تګلارو د شک له امله د اسلام ګټل د کفر له لارې بهتر بولي ګویا که په اسلام کې د اسلام ګټلو لپاره صحیح طریقه نشته والعیاذبالله، په همدې اساس دوی په خاص ډول په هغو آیتونو کفر کوي چې د الله عزوجل له له لوري په اسلام د شک د نه لرلو په اړه راغلي، الله عزوجل فرمایلي:

**فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ فَاسْأَلِ الَّذِينَ يَقْرَءُونَ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكَ لَقَدْ جَاءَكَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿یونس: ۹٤﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: که چیرې ته د هغه ﴿قرآن﴾ په باره کې په شک کې یې چې مونږ تاته نازل کړی ده نو ته د هغو کسانو څخه پوښتنه وکړه چې له تانه مخکې کتاب لولي، یقیناً یقیناً ستا د رب له جانبه تاته حق راغلی ده نو ته هېڅکله هم له شک کوونکو څخه مه کیږه.**

خو اسلامپاله سیکولران په قرآني تګلارو مشکوک او فعلاً یې قتال في سبیل الله او د اسلامي شریعت ټول اجتماعي احکام د حکمت او هوښیارۍ په نوم ترک کړي دي.

**اسلامپاله سیکولران او د الله سبحانه وتعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اطاعت په اړوندو ﴿۵۷﴾ آیتونو کفر کول:**

الله سبحانه وتعالی پخپلو ﴿۵۷﴾ آیتونو کې د الله او د رسول په اطاعت امر کړی، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَايُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴿آل عمران: ۳۲﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: ﴿ای نبي﴾ ته دوی ته ووایه: د الله اطاعت کوئ او د ﴿هغه د﴾ رسول اطاعت وکړئ، بیا که دوی ﴿د الله او رسول له اطاعت څخه﴾ مخ وګرځاوه نو بېشکه د الله کافران نه خوښیږي.**

خو اسلامپاله سیکولران د الله او د رسول د اطاعت په ځای د سیکولریزم او کفري تګلارو او شرائعو په اطاعت د الله عزوجل په اړوندو ﴿۵۷﴾ آیتونو کفر کوي.

## اسلامپاله سیکولران او د الهي شریعت د اقامې او حدودو د تنفیذولو په اړه په ﴿۱۱﴾ آیتونو کفر کول:

الله سبحانه وتعالی د خپل کلام په ﴿۱۱﴾ آیتونو کې د شرعي حدودو د اقامې په اړه امر فرمایلی، الله عزوجل فرمایلي:

**شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿الشورى: ۱۳﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: الله ستاسو لپاره هغه دین ﴿قانون او تګلاره﴾ مقرره کړې چې د هغه وصیت یې نوح ته کړی ؤ او هغه چې مونږ تاته وحیې کړی او هغه چې مونږ د هغه وصیت ابراهیم او موسی او عیسی ته کړی ؤ، چې تاسو دین ﴿قانون، شریعت او الهي حدود﴾ قائم کړئ او په ده کې مه مختلف کیږئ، په مشرکانو (یعنې د غیر الله د قوانینو په منونکو او تطبیقوونکو) باندې هغه شی ډیر درونډ پریوځي چې ته دوی هغه ته بلې، الله عزوجل غوره کوي دې ﴿دین﴾ ته چاته چې وغواړي او دده په طرف هغه چاته هدایت کوي چې رجوع کوي.**

خو اسلامپاله سیکولران د الله عزوجل د کلام په ﴿۱۱﴾ هغو آیتونو چې د قصاص، غلا، ارتداد، قذف او د نورو حدودو په اړه نازل شوي انکار ترې کوي او ددې په ځای د بشري حقوقو په نوم د کفري تګلارو او شرائعو متابعت او تنفیذ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلامپاله سيکولران او د حجاب له ﴿۱۲﴾ آيتونو څخه انکار کول:

الله سبحانه وتعالی د خپل کلام په ﴿۱۲﴾ آيتونو کې په حجاب امر کړی، لکه الله عزوجل چې فرمايلي:

**يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿الأحزاب: ٥٩﴾**

**ژباړه: ای نبي! ته خپلو ښځو او خپلو لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووايه چې په خپلو ځانونو دې له خپلو څادرو څنې راخواره کړي، دغه ﴿د بدن پټول﴾ ډېر نژدې دي هغه ته چې دوی به وپېژندل شي، نو دوی ته به تکليف نه رسولی شي او الله عزوجل ډېر ښښونکی او بې حده رحم کوونکی ده.**

خو اسلامپاله سيکولران د حجاب په اړه د الله سبحانه وتعالی ياد احکامات د شخصي آزادۍ او د ښځو د حقوقو په نوم تر شا پرېږدي، ښځو ته له نامحرمو نرانو سره د اوږه په اوږه کار کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوازونه ورکوي او د سیکولر شرائعو په منلو له الهي آیتونو انکار هم کوي.

نو په پورته ډول اسلامپاله سیکولرانو د الله عزوجل د کتاب له(۱۱۰۲)﴾ هغو آیتونو انکار کړی کوم چې واضحې او مشهورې موضوع ګانې دي، د یادولو وړ ده چې اسلامپاله سیکولرانو د قرآن د ډیر شمیر نورو آیتونو په مقابل او په نورو موضوع ګانو کې هم سیکولر شرائع منلي او الهي آیتونه ئې ترک کړي او تکذیب کړي دي خو ما دلته هغه مشهورې موضوع ګانې ذکر کړې چې د لمر په څیر روښانه دي او پخپله سیکولران هم انکار نشي ځنې کولی.
د آیتونو کومه شمېره چې ما د هرې موضوع په اړه لیکلې ممکن دغه شمېره متفاوته وي ځکه ما د یوه تفسیر له فهرست څخه د هرې موضوع په اړه آیتونه شمارلي او ذکر کړي دي پداسې حال کې چې یاد فهرست په کره شمیرې د موضوعاتو په اړه نازل شوي آیتونه ندي په ګوته کړي نو ممکن ددې آیتونو شمېر په اړوندو موضوع ګانو کې لدې هم زیات وي چې ما لیکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اسلامپاله سیکولران ددې آیتونو په مقابل کې د کفري قانون او کفري شریعت پیروي کړې او الله عزوجل ددې ډول مرتدینو نېک اعمال نه قبلوي ځکه الله عزوجل فرمایلي چې:

**وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿الأعراف: ١٤٧﴾**

**ژباړه: او هغه کسان چې زمونږ د آیتونو او د آخرت د ملاقات تکذیب یې کړی دی د هغوی ﴿نېک﴾ عملونه برباد شول، دوی ته به (د نیکو اعمالو﴾ بدله نه ورکول کیږي مګر د هغو ﴿بدو﴾ عملونو چې دوی به کول.**

په همدې اساس د اسلامپاله سیکولرانو لمونځونو، روژو او حجونو ته هیڅ دیني امتیاز نده حاصل مګر دا چې ټول دین په انفرادي او اجتماعي امورو کې یوازې او یوازې الله سبحانه وتعالی لره خاص کړي او یوازې د همغه واحد ذات دین، قانون او شریعت او د الله عزوجل ټول اوامر ومني او بالمقابل د کفارو له ډول او طریقو بېزاري وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلامپاله سيکولران څوک دي؟!

کفارو په اسلامي امت کې د خپل کفر د ترويج لپاره ځينې اسلام نماء پارټۍ له خپل ځان سره پخپل صف کې ودرولي او له هغوی سره يې متبادل مصالح موندلي چې د هغوی په مټ د اسلام په نوم خپل کفر په خلکو مني، دا چې دا ډول خلک د کوم ډول مشخصاتو خاوندان دي څو صفتونه به يې له تاسو سره په لاندې توگه شريک کړو:

اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم د سيکولر کفر د چتر لاندې په رغبت او رضا د کفارو اطاعت کوي.

اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم ډيموکراسي د خپل حاکميت ډول بولي.

اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم په سيکولر وضعي قوانينو او بغير ما أنزل الله شرائعو فيصلې کوي.

اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم سيکولر کفارو سره مشابهت حکمت او هوښياري بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم د سيکولر وطنيت په لاره روان د کفارو اطاعت کوي.
اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم د جهاد په نوم وطني جګړې کوي.
اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم له کفارو څخه د هغوی په مجلس کې د کښېناستو زارۍ کوي.
اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم کفارو سره د دوستي په سپين لېست افتخارات کوي.
اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم د مسلمانانو په مقابل کې له کفارو سره دوستي کوي.
اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي اوهم د اسلامي نظام او د الهي دين د اقامې مخنيوی کوي.
اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم په ډيموکراټيکو او شرکي ټاکنو کې ګډون کوي.
اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم د ښځو سيکولر حقوقو ته التزام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامپاله سيکولران هغه  دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم د وضعي قوانينو عبادت کوي.

اسلامپاله سيکولران هغه دي چې هم د اسلام دعوې کوي او هم د کفارو د بانک جهاني شيطاني مرستې او کومکونه د ځان سعادت بولي.

او ددې ټولو مفسداتو خاوندان له اسلامه خارج او اهل النار دي سره لدې که د اسلام دعوې څو چنده نورې هم زوروري کړي دوی کفار او مرتدين دي، الله سبحانه وتعالی د اسلام د تشو همدې دعوه دارانو په اړه فرمايلي چې:

**وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلْ أَفَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَاشِفَاتُ ضُرِّهِ أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَاتُ رَحْمَتِهِ قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ﴿الزمر: ٣٨﴾**

**ژباړه: او يقيناً که ته له دوی﴿د اسلام له دعوه دارانو﴾ نه تپوس وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي دي ﴿نو﴾ دوی به خامخا ووائي چې: الله پيدا کړي دي، ته دوی ته ووايه: تاسو ماته خبر راکړئ هغه ﴿بين الملل، رئيس جمهوران، پارلماني قانون سازان او صدراعظمان﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې تاسو ئې د الله عزوجل نه غير عبادت کوئ، که چيرې الله تعالی ماته د ضرر رسولو اراده وکړي، آيا دغه ﴿معبودان، بين الملل، رئيس جمهوران، پارلماني قانون سازان او صدراعظمان﴾ د هغه د ضرر دفع کوونکي دي؟ يا که هغه ﴿الله﴾ ما سره د رحمت اراده وکړي آيا دغه ﴿معبودان، بين الملل، رئيس جمهوران، پارلماني قانون سازان او صدراعظمان﴾ د هغه د رحمت منع کوونکي دي؟ ته دوی ته ووايه: زما لپاره بس الله کافي ده، خاص په ده باندې توکل کوونکي توکل کوي.**

همدارنگه الله عزوجل فرمايلي چې:

**وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿الزخرف: ٨٧﴾**

**ژباړه: او قسم ده که ته له دوی ﴿کافرانو او معاصرو سيکولانو﴾ نه پوښتنه وکړې چې دوی چا پيدا کړي دي ﴿نو﴾ دوی به ضرور ووائي: الله پيدا کړي يو نو ﴿سره لدې پوهې د سيکولر شرائعو په اطاعت﴾ دوی کوم طرف ته گرځول شوي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته مبارکو آیتونو کې الله عزوجل ددوی په ګواهي شاهدي ویلې چې که له دوی څخه تاسو وپوښتئ چې چا پیدا کړي یاست نو دوی به حتماً د الله عزوجل په ربوبي توحید اقرار وکړي چې مونږ الله پیدا کړي یو! خو الله سبحانه وتعالی ددوی له یاد اقرار سره سره دوی ته د مؤمنانو خطاب نده کړی او غیر لدې اقراره الله عزوجل نور څه له دوی غواړي؟

ځواب داده چې غیر لدې هم توحید او له کفر او شرک څخه بېزاري پراخو ابعادو ته اړتیا لري چې باید وپېژندل شي، له طاغوت څخه برائت وشي او ټول دین (قانون او شریعت) یوازې او یوازې الله لره شي.

همدارنګه الله عزوجل فرمایلي چې:

**وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿الزخرف: ٣٧﴾**

**ژباړه: او بېشکه دوی یقیناً خلک له حقې لارې (اسلامي شریعت) څخه منع کوي او ګمان کوي چې بېشکه دوی (د سیکولر کفر په منلو) هدایت موندونکي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿الکهف: ١٠٤﴾**

**ژباړه: دوی (سیکولران) هغه کسان دي چې په دنیایي ژوند کې ددوی منډې بې ځایه تللي دي حال دا چې دوی ګمان کوي چې یقیناً همدوی (د سیکولریزم په منلو) ښه عمل کوونکي دي.**

همدارنګه الله عزوجل فرمایي چې:

**يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿المجادلة: ١٨﴾**

**ژباړه: یاد کړه هغه ورځ چې الله عزوجل به دوی ژوندي راپورته کړي نو دوی به الله ته قسمونه خوري لکه څرنګه چې تاسو ته قسمونه خوري او دوی به ګمان کوي چې یقیناً دوی په یوه شي (اسلامي دین) باندې دي خبردار شئ، بېشکه همدوی دروغجنان دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه الله عزوجل فرمايي چې:

**فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلَالَةُ إِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ اللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿الأعراف: ٣٠﴾**

**ژباړه: يوې ډلې ته يې هدايت کړی ده او بله ډله يې ګمراه کړې ده چې په هغه باندې ګمراهي ثابته شوې ده، بېشکه دوی له الله عزوجل څخه پرته شيطانان(د ځان) دوستان نيولي ؤ او دوی دا ګمان کاوه چې همدوی (د سيکولر کفر په منلو) نېغه لاره موندونکي دي.**

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِاللَّهِ إِلَّاوَهُم مُّشْرِكُونَ﴿يوسف: ١٠٦﴾**

**ژباړه: او له دوی (د اسلام دعوه دارانو) څخه زياتره په الله عزوجل ايمان نلري مګر پداسې حال کې چې دوی شرک کوونکي دي.**

په پورته مبارکو آيتونو کې الله سبحانه وتعالی هغو خلکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشاره کړې چې ځانونه په هدايت بولي حال دا چې دوی په کږه لاره روان دي، او نن وينو چې سيکولر باطل پرستان سره لدې چې د الله عزوجل په آيتونو نصيحت ورته کيږي په باطله روان، خپلو گوډو ماتو سجدو ته خوشحال دي خو له ايمان سره يې کفر گډ کړی او فکر کوي چې په هدايت يو، په سيکولر چوکاټ کې مو اعمال نيک دي، نيکه بدله به يې راکول کيږي او مونږ سمه لاره موندلې ده خو الله سبحانه وتعالی بار بار په دوی رد کړی او فرمايلي يې دي چې دوی گمراهان او اعمال يې ضايع کېدونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل

# منصورة طائفې

# او د منصورة طائفو او امريکايي پروژو تر منځ فرقونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منصورة طائفې که امریکایي پروژې:

یقیناً الله سبحانه وتعالی د خپل دین د حفاظت لپاره په هره زمانه کې وړ بندګان ټاکلي، هغوی یې امتحان کړي او د قسماقسمه ربړو او تکلیفونو په تېرولو هغوی هم د دین حفاظت تر خپلې وسې پورې کړی، خو ددغو بندګانو په اړه د الله سبحانه وتعالی سنت تل د استبدال او تداول په حالت کې ثابت شوي، هر کله چې یوې ډلې د الله عزوجل دین پرېښی نو الله سبحانه وتعالی یې په ځای بله ډله راپیدا کړې، هغوی ته یې تمکین او سلطه ورکړې او د امتحانونو له یوې سلسلې وروسته چې هغوی هم له خپلو ژمنو سره بې وفایي کړې نو الله عزوجل یې په ځای بل ځوک راوستلي، همدې مطلب ته په اشارې رب المنان پخپل کلام کې فرمایلي چې:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿المائدة: ٥٤﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: ای هغو خلکو چې ایمان مو راوړی، په تاسو کې چې څوک له خپل دین څخه مرتد شي نو ژر ده چې الله عزوجل به داسې خلک راولي چې هغه به ورسره محبت کوي او دوی به له الله سره محبت کوي، په مؤمنانو به ډېر نرمي کوونکی وي او په کفارو به سختي کوونکي، د الله عزوجل په لاره کې به جهاد کوي او د هېڅ ملامت کوونکي له ملامتیا څخه به نه ویرېږي، دا د الله سبحانه وتعالی فضل ده چا ته چې وغواړي هغه ته یې ورکوي او الله ډېر د فراخۍ والا ښه پوه ذات ده.**

همدارنګه الله سبحانه وتعالی د قتال او جهاد ترک کوونکو ته فرمایلي چې که تاسو جهاد ونکړ نو په ځای به یې بل څوک راولي، الله عزوجل فرمایي:

**إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿التوبة: ٣٩﴾**

**ژباړه: که تاسو ﴿قتال او جهاد﴾ ته ونه وځئ ﴿نو﴾ الله به تاسو ته ډېر دردوونکی عذاب درکړي او له تاسو نه غیر به بل قوم په بدل کې راولي او تاسو به ﴿د قتال په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرېښودلو﴾ هغه ته هیڅ ضرر ونشئ رسولی او الله په هر شي باندې ښه قادر ده.**

همدارنګه الله عزوجل بیا فرمايلي چې:

**وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُم ﴿محمد: ٣٨﴾**

**ژباړه: او که تاسو وګرځېدئ ﴿نو﴾ هغه به له تاسو نه غیر بل قوم په بدل کې راولي بیا به هغوی ستاسو په شان نه وي.**

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايلي:

**فَإِن تَوَلَّوْا فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّا أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَيْكُمْ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّي قَوْمًاغَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّونَهُ شَيْئًا إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿هود: ٥٧﴾**

**ژباړه: نو که تاسو مخ واړوئ نو یقیناً ما تاسو ته هغه ﴿پیغام﴾ در ورساوه چې زه په هغه سره تاسو ته رالېږلی شوی وم او زما رب به ستاسو نه غیر بل قوم ستاسو په ځای راولي او تاسو به الله ته هیڅ ضرر ونه رسولی شئ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بېشکه زما رب په هر شي باندې ښه نګران او ساتونکی دہ.

په پورته آيتونو کې الله سبحانه وتعالی د منصورة طائفو استبدال ته اشارې کړې او دا همغه څه دي چې نن يې جاهلان او له دينه نا خبره خلک د کفارو پروژې بولي، په پورته مبارکو آيتونو کې الله سبحانه وتعالی خلکو ته ددوی د نافرماني په صورت د بل قوم، ډلې يا طائفې د راوستلو خبرداری ورکړی، دا په ځمکه د الله سبحانه وتعالی سنت دي چې تل تر تله يې صورت موندلی او دا د نننيو باطل پرستو سيکولرانو په مخ څپېړه ده چې دوی د الله عزوجل ياد سنت امريکې ته په منسوبولو مجاهدين د کفارو پروژې ګڼي، ددې طائفو په استبدال او تداول پخپلو منځو کې يو او بل ته سترګکونه وهي چې ګويا کفارو بله ډله رامنځته کړه خو دوی له دې ناخبره دي چې هغه وخت نه دوی ؤ او نه يې د سيکولريزم غربي باداران او نه امريکا وه چې اسلام منصورة طائفې او مجاهدين لرل، دوی هيڅ شتون نه درلود چې مجاهدينو هغه مهال هم د هر باطل معنويت ختمونه پرې کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منصورة طائفو په اړه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم ډېر ډېر احادیث نقل شوي چې د مثال په ډول به څو روایتونه دلته ذکر کړو ان شاءالله.

په صحیح مسلم کې له جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت شوی هغه وائي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**لا تزال طائفة من امتی یقاتلون علی الحق ظاهرین الی یوم القیامة «رواه مسلم»**

**ژباړه: همېشه به زما له امت څخه یوه طائفه وي چې د حق په طرفداري به تر قیامته جګړې کوي.**

همدارنګه په صحیح مسلم کې له ثوبان رضي الله عنه څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**لا تزال طائفة من امتي ظاهرین علی الحق، لا یضرهم من خذلهم حتی یأتي امر الله وهم کذلک.**

**ژباړه: همېشه به زما له امت څخه یوه ډله په حق ظاهره وي، هیڅوک دوی ته په دښمني کې زیان نشي رسولي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**﴿دوی به وجود لري﴾ تر دې چې الله عزوجل امر ﴿قیامت﴾ راشي.**

همدارنګه په أبو داود کې له عمران بن حصین رضي الله عنه څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**لا تزال طائفة من امتي یقاتلون علی الحق، ظاهرین علی من ناوأهم، حتی یقاتل آخرهم المسیح الدجال.**

**ژباړه: همېشه به یوه ډله زما له امت څخه د حق په طرفداري موجوده وي، دوی به پخپلو دښمنانو غالبه ډله وي تر دې چې ﴿د خپلو دښمنانو﴾ څخه له آخري دښمن دجال سره وجنګیږي.**

خو نن د باطل په طرفداري بې انصافه او د اسلام وحشي او جاهل دښمنان د امریکې پروژه د الله سبحانه وتعالی همدې مخلصو بندګانو او د منصورة طائفو مجاهدینو ته وايي، دوی هغه چاته د امریکې پروژه وائي چې هغوی د سیکولریزم په ضد قتال في سبیل الله کوي، خو دوی ندي خبر هغه وخت چې نه امریکا وه نه اروپا چې د اسلام منصورة طائفې د دتداول په حالت کې وې، یوې ډلې به چې په دیني احکاماتو کفر وکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دین څخه به مرتد شول الله سبحانه وتعالی به بله حقه ډله ظاهره او د قتال في سبیل الله واګی به یې ورکړ.

لکه څرنګه چې د معاصر کفر ۷ نښې او ۷ ارکان ؤ او په تیرو صفحو کې تشریح شول همدارنګه له پورته مبارکو آیتونو او مبارکو احادیثو په اساس منصورة طائفې هم د ۷ نښو اساساتو درلودونکې دي چې په لاندې توګه ښودل کیږي:

1. منصورة طائفة به د الله عزوجل په لاره کې قتال او جهاد کوي.
2. منصورة طائفة به له اسلامي امت څخه یوه ډله وي نه ټول اسلامي امت.
3. منصورة طائفة به د الله عزوجل د دین (شریعت او شرعي حدودو) د تطبیق په مسیر کې د هیچا له ملامتیا نه ویریږي سره لدې که نومونه پرې کیښودل شي.
4. منصورة طائفه به د قیامت تر ورځې موجوده وي.
5. منصورة طائفې ته به هیڅوک ضرر نشي رسولی، مطلب دا به په مطلق ډول له منځه نشي وړلی او که په یو ځای کې له منځه لاړه شي نو یاده ډله په بل ځای کې راټوکېدلی شي.
6. منصورة طائفة به ظاهره او پیژندل شوې ډله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. دجال به د منصورة طائفي له لوري په هلاکت رسیږي.

په همدې اساس په هر چا کې چې د سیکولریزم ذکر شوي ۷ ارکان یا له هغو ارکانو څخه یو یا څو پکې موجود ؤ هغه ته به د امریکې پروژه او د کفارو جاسوس وایو، او په هر چا کې چې د منصورة طائفې پورته ذکر شوې ۷ علامې موجودې وې هغه به د حقیقي مجاهد او د منصورة طائفې د غړي په صفت پېژنو.

خو ددې لپاره چې معاصر نفس پرسته سیکولران خپلو بې غیرته وجدانونو ته پرې قناعت ورکړي کفارو ته د منصورة طائفو منسوبول یې په زړه لکه ملحم لګیږي خو راځئ چې دا خبره یو طرف ته کړو، اقلاً خپلو ځانو ته رښتیا ووایو چې د امریکې پروژه څوک دي او دا پروژه او اهل یې باید څه مشخصات ولري؟

په تیرو صفحو کې مو د امریکې د پروژې بشپړ مشخصات تاسو ته ذکر کړل چې د امریکې پروژه باید کفري اساساتو او داسې معنویاتو ته ژمن وي چې هغه له اسلام سره کاملاً د ټکر په حالت کې قرار ولري، له هغوی څخه باید کفار راضي وي نه دا چې د امریکې پروژه دې د اسلام له احکامو څخه په یو حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



استواره وي، حکم هم د قتال في سبيل الله هغه حکم چې د اسلام بشپړ سياست يې په اساس تنظيم او تطبيقيږي، نن که هر څوک داسې گمان کوي چې د اسلام د قتال د عظيم سياست رهبري د کفارو لاسو ته لوېدلې هغوی د کتاب الله تکذيب کوي بلکې دوی عقيده لري چې دين د کفارو لاسو ته لوېدلی او په بشپړه توگه اسلامي اساسات د کفارو په واک کې راغلي او ديني احکام د اسلام او مسلمانانو په ځای د کفارو دردونه دواء کوي، دوی د الله تکذيب څکه کوي چې الله سبحانه وتعالی فرمايلي چې:

**وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا﴿النساء: ١٤١﴾**

**ژباړه: او الله عزوجل به هېڅکله د کافرانو لپاره په مؤمنانو باندې (دغلبې) څه لاره جوړه نکړي.**

خو نه يوازې دا چې نني سيکولران لدې آيت څخه انکار کوي بلکې اقرار کوي چې په ټول اسلام د کفارو غلبه راغلې او گويا چې هغوی د اسلام احکام تنظيموي، اود اهل حقو په مقابل کې د باطل پرستو الزامونه تل يو شان وي او د اسلام له ابتداء څخه تر اوسه داسې هېڅ حقه ډله نده تېره شوې مگر په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې بدې خبرې او تبلیغات شوي او هغوی پسې بهتانونه تړل شوي حتی د مکې مشرکانو په رسول الله صلی الله علیه وسلم څه څه بېکاره نومونه نه کېښودل؟ کله به ئې هغه صلی الله علیه وسلم ته شاعر وایه، کله به ئې لېونی او مجنون باله او کله به ئې کاهن باله، خو الله سبحانه وتعالی حق پرستو ته همدا فرمایلي چې کفار او مشرکان تل په تاسو نومونه ږدي خو تاسو ئې پروا مکوئ، الله عزوجل فرمائي:

**كَذَٰلِكَ مَا أَتَى الَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُوا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ﴿الذاريات: ٥٢﴾**

**ژباړه: همداسې هغه کسانو ته چې له دوی نه مخکې ؤ هېڅ یو رسول نه ؤ راغلی مګر دوی به ویل (دا) جادوګر او یا لېونی ده.**

همدارنګه الله عزوجل فرمائي:

**وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ وَدَعْ أَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿الأحزاب: ٤٨﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: او ته د کافرانو او منافقانو خبره مه منه او ددوی د اذيت پروا مه ساته او په الله عزوجل توکل وکړه او الله ښه کافي ده کارساز.**

هغه خلک چې جهاد د کفارو سازش او پروژې ګڼي هغوی نه يوازې دا بلکې نورې خطرناکې او ايمان نړوونکې عقيدې او ګمراهۍ هم لري، ددې جاهلې شبهې مقلدين اکثره هغه خلک دي چې پخپله د امريکې د اصلي پروژې (سيکولريزم) عناصر دي، همدا خلک ددې لپاره چې خپل شرمېدلي ضمير ته قناعت ورکړي د مجاهدينو په نسبت يادو شبهاتو ته پخپل زړه کې ځای ورکوي، او ددوی په اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم وړاندوينه سمه ده چې:

**عن أبي هريرة عن الرسول صلى الله عليه وسلم قال: سيأتي على الناس سنوات خداعات يصدق فيها الكاذب و يكذب فيها الصادق و يؤمن فيها الخائن و يخون فيها الأمين و ينطق فيها الروبيضه، قبل وما الروبيضه؟ قال: الرجل التافه يتكلم في امر العامة «رواه أحمد ۷۹۱۲ و أبن ماجة ۴۰۳۶»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ډېر ژر به په خلکو غولوونکي کلونه راشي چې په هغه کې به دروغجن ريښتونی بلل کيږي او ريښتونی به دروغجن بلل کيږي، په خائنانو به اعتبار کيدی شي او امانتداران به خائن بلل کيږي او روبيضه به پدې کلونو کې خبرې کوي، وويل شول چې روبيضه څه ده؟ ويې فرمايل: هغه فاسد سړی چې په عامه چارو کې خبرې کوي.**

نن هم ګورو هغه خلک چې خپله په روڼ فساد اخته دي نورو ته د فساديانو نسبتونه کوي، د کفارو له لوري بوری بوری پيسې او مالونه ورته را روان دي خو د جاسوسانو نسبت هغه چاته کيږي چې د الله د شريعت تنفيذ په ځمکه غواړي، که ته له دوی څخه وپوښتې چې ستاسو فوځيانو ته وسلې څوک ورکوي؟ دوی به په ځواب کې ووايي چې امريکا يې ورکوي، که ترې وپوښتې چې ستاسو د معلمانو او تعليمي نظام لګښت څوک درکوي؟ خپله به اقرار وکړي چې کفار يې له بانک جهاني راکوي، همدارنګه ددوی د آبادي لويو لويو پروژو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا کفار پيسې ورکوي او دوی يې هم په طرفداري بوخت په يوه او بل عنوان د کفارو اطاعت او د هغوی د شرائعو عبادت ځان ته جائز بولي، خو سره لدې ټولو خبرو دوی بيا هم د امريکې پروژه هغه چاته وايي چې له کفري اساساتو بېزاره او کفارو سره مسلح جهاد کوي.

## د منصوره طائفو او د امريکې د پروژو مقايسه:

تاسو پوهيږئ چې ټولې جنګېدونکې ډلې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د جنګېدو او جهاد دعوې کوي او بل خوا ګورو چې له دوی څخه بعضې د ځينو علماؤ له لوري ګمراه بلل شوي او حتی تکفير شوي هم دي، نو ددې لپاره چې ددوی په منځ کې د ښو او بدو يا حق او باطلو فرق وکړای شو لاندې مقايسه وګورئ.

| د حقې ډلې ځانګړنې | د باطلې ډلې ځانګړنې |
| --- | --- |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره | د اسلام په نوم باطل پرست |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| کې جنګېدوکي حق پرست مجاهدين د خپل حاکميت لاندې سيمو کې په الهي قوانينو فيصلې کوي، له غله لاس پرې کوي، محصن زاني رجم کوي، شرعي قصاصونه پلي کوي او ساحران او مفسدان وژني. | جنګيالي د خپل حاکميت لاندې سيمو کې په الهي شريعت فيصلې نکوي، دوی سره له قدرت او غلبې په غله، زاني، ساحر او مفسد شرعي حدود نه جاري کوي بلکې پدې باب کې په بغير ما أنزل الله او کفري قوانينو فيصلې کوي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرسته مجاهدين د کفارو د هيڅ اصولو اطاعت نکوي بلکې اطاعت يوازې او يوازې د الله سبحانه وتعالی کوي او د کفارو او ددوی د اصولو اطاعت ډېر بد ګڼي. | د اسلام په نوم جنګېدونکې باطلې ډلې د کفارو او هغوی د اصولو اطاعت کوي او نه يوازې دا چې هغه بد نه ګڼي بلکې دې کار ته حکمت او هوښياري هم وايي، نعوذ بالله من ذلک. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره | د اسلام په نوم باطلې ډلې د |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| کې رېښتوني جنګېدونکي مجاهدين د الهي شريعت د تطبيق په مسير کې د هيچا له ترټنې نه ويرېږي، توکل يې په الله سبحانه وتعالی وي او د هغه رضا ترلاسه کول يې يوازېنی هدف وي. | الله سبحانه وتعالی د شريعت د تطبيق په مسير کې د خلکو له ترټنې ويرېږي او شعارونه يې تل دا وي چې که شريعت پلی کړو نو له موږه خلک خفه کيږي، ددوی هدف د الله سبحانه وتعالی د رضا په ځای د خلکو رضا حاصلول وي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرست مجاهدين د کفارو بشري حقوق نه مني بلکې په ځای يې الهي شريعت نافذوي. | د اسلام په نوم باطلې ډلې د کفارو هر ډول اصول مني او د هغوی بشري حقوق چې پکې ډول ډول ګمراهۍ شتون لري او په تېرو صفحو کې يې ذکر وشو دوی په اخلاص مني او د الله سبحانه وتعالی د شريعت په ځای همغه کفري اصول پلي کوي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره | د اسلام په نوم باطلې ډلې د |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| کې حق پرسته مجاهدین د هغه چا تکفیر کوي چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم کافر ورته ویلي وي. | باطل په نسبت تل ارجائي دریځ لري او خصوصاً د مرتدینو په تکفیر ډېر خفه کېږي، دوی بالعکس له کفارو او کفري معنویاتو سره دوستي کول حکمت او هوښیاري بولي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرسته مجاهدین اسلام له هرې زمانې سره مناسب بولي او تل په ټول دین عمل کوي. | د اسلام په نوم د باطل په لاره کې جنګېدونکي اسلام له دې زمانې سره مناسب نه بولي او په ځای یې کفري اصولو منلو ته حکمت او هوښیاري وایي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرست مجاهدین سیکولر وطنیت نه مني بلکې په ځای یې اسلامي اخوت مني او یوازې او یوازې د الله سبحانه وتعالی | د اسلام په نوم باطلې ډلې د کفري اصولو د اطاعت له امله سیکولر وطنیت مني او د هغه داسې عبادت کوي لکه د الله سبحانه وتعالی چې عبادت کېږي ځکه دوی د وطن لپاره |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| لپاره له يوه چا سره دوستي او دښمني کوي. | له خلکو سره دوستي او دښمني کوي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرست مجاهدين د کفارو له لوري په رسميت پېژندل کېدل نه خوښوي ځکه دا کار له اسلامي معنوياتو څخه په تېرېدلو او د کفري معنوياتو په منلو سره کيږي. | د اسلام په نوم باطلې ډلې د کفارو له لوري رسميت پېژندلو ته ښه راغلاست وايي او هر وخت آماده وي چې د ياد باطل امتياز د ترلاسه کولو لپاره د هغوی هر ډول کفري اصول ومني او دې کار ته زاری هم کوي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرسته مجاهدين په ټول دين عمل کوي، دوی د نورو باطل پرستو په څېر دين او سياست نه جدا کوي بلکې په انفرادي او اجتماعي ژوند کې په دين عمل لرل په ځان واجب ګڼي. | د اسلام په نوم باطل پرست جنګيالي په ټول دين عمل نه کوي بلکې دوی يوازې او يوازې په انفرادي عباداتو لکه روژوه، لمونځ وغيره کې په اسلام عمل کوي خو د سياست او اجتماعي امورو په برخه کې په دين عمل نکوي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| | بلکې د هغه په ځای په سيکولر او وضعي کفري معنوياتو عمل کوي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرست مجاهدين امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي او هغه په ريښتوني ډول په ځان عملي کوي نه دا چې د تشو شعارونو په څېر يوازې تر لوحو محدود وي. | د اسلام په نوم باطل پرست جنګيالي په خپل منځ کې امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه کوي، خپله هم په ډول ډول منکراتو بوخت وي او نورو ته هم له هغه د منع کېدو نه وايي بلکې يوازې د تشو شعارونو په ډول يې هغه تر لوحو محدود کړي وي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرسته مجاهدين د ښځو سيکولر تعليم نه مني، هغه تعليم چې نصاب يې په نرانو او ښځو يو ډول او په مختلط ډول ويل | د اسلام په نوم جنګېدونکي باطل پرستان په ښځو او نرانو يو ډول سيکولر نصاب لولي، هغوی ته په سيکولر آزاديانو ژمن او له کوره يې د رايستلو او د خاوند په ځای په دفتر کې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| کيږي بلکې د هغه په ځای ښځو ته په حجاب، شرعي تعليم، او په کور د کښېناستو وصيت او د خاوند په اطاعت امر ورته کوي. | له نامحرمو نرانو سره يو ځای د کښېنولو کوښښونه کوي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي مجاهدين شعارونه نه بلکې د شريعت هر حکم په عمل کې په ځان او په مؤمنانو کې راوستل غواړي. | د اسلام په نوم باطل پرست جنګيالي الهي شريعت يوازې په خپلو شعارونو کې ژوندی ساتي، ددوی دعوې تل په عمل کې نه ښکاري او څه چې وايي هغه يې له ستوني نه کوزيږي. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي مجاهدين د الله سبحانه وتعالی په لاره کې قتال کوي، تل يې همدا تګلاره وي او دعوه يې له عمل سره په ټوله نړۍ د اسلامي | د اسلام په نوم د باطل په لاره کې جنګېدونکي د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګ کول نه خوښوي بلکې خپل ټول نظامي منابع د خپل سيکولر وطن په واک کې ورکوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| شريعت نافذول وي. | |
| د الله سبحانه وتعالى په لاره کې جنګېدونکي حق پرست مجاهدين له کفارو څخه ددوی په مجلسونو کې د ګډون زارۍ نه کوي بلکې له هغوی څخه پوره بېزاره او د مجلسونو د له منځه وړلو هڅې يې کوي. | د اسلام په نوم جنګېدونکي باطل پرستان کفارو ته د هغوی په مجالسو کې د ګډون زارۍ کوي او پکې داخلېدلو باندې افتخار کوي نعوذبالله من ذالک. |
| د الله سبحانه وتعالى په لاره کې جنګېدونکي حق پرست مجاهدين کفارو او مسلمانانو ته په مشابه حقوقو، امتيازاتو او درجې ندي ژمن بلکې کفار او مرتدين ورته ذليل او مؤمنان ورته افضل ښکاري. | د اسلام په نوم باطل پرست جنګيالي کفارو او مسلمانانو ته عين درجه ورکوي او د ايمان او تقوا په ځای د دوستي او دښمني معيار يوازې او يوازې سيکولر وطنيت بولي. |
| د الله سبحانه وتعالى په لاره کې جنګېدونکي حق پرست | د اسلام په نوم باطل پرست جنګيالي له کفري معنوياتو |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| مجاهدین کفري معنویاتو لکه ډیموکراسي او سیکولریزم ته کفر وایي، له هغو په بېزاري هم یې معنویات او هم یې پیروان کافر او مرتدین بولي. | پورته بېزاري نه لري، نه هغه او نه یې اهل تکفیروي بلکې په اکثره نقطو کې مشترک مصالح ورسره پالي او پخپله هم په سیکولر یا ډیموکراټو اصولو قناعت ورسره لري او منل یې حکمت او هوښیاري بولی. |
| د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنګېدونکي حق پرست مجاهدین د حربي کفارو کومکونه او مرستې نه قبلوي بلکې له هغوی پوره بېزاري لري. | د اسلام په نوم جنګېدونکي باطل پرستان د کفارو مرستې او کومکونه د ځان لپاره پرمختګ، سعادت او افتخار بولي او د همدې د ترلاسه کولو لپاره له کفارو سره هر ډول دوستي او د هغوی اطاعت ته لاس په سینه ولاړ وي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنیو خصوصیاتو په تشخیصولو به مونږ د یوې ډلې فیصله کوو چې آیا دا په حقه ډله ده او که د امریکې یوه پروژه ده او د اسلام په نوم د کفري معنویاتو د خوندیتوب هڅې کوي؟

## منصورة طائفې گمراه او مرتدې کیدی شي خو ورکېدلی نشي!

لکه څرنگه چې د منصورة طائفو په اړه د الله عزوجل د تداول او استبدال سنت بیان شول منصورة طائفې د گمراهي او ارتداد په صورت کې تل بدلېدلی او نوې کېدلی شي، کله چې یوه طائفه په دین عمل کول ترک کړي او مرتده شي نو الله سبحانه وتعالی د هغه په ځای بله ډله راپیدا کړي لکه په تېرو صفحو کې چې پدې اړه د الله عزوجل له کلام څخه گڼ شمېر آیتونه راوړل شول، پدې اړه د المائدة ۵۱ نمبر مبارک آیت په خاص ډول یادولی شو چې همدا تکی پکې ډېره واضح بیان شوی ده.

دا پدې معنی چې بدلېدل او په ځای یې نور خلک راتلل د منصورة طائفو په اړه عادي خبره ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو په اساس دا کار به تر قیامته جاري وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه جاهلان چې دا کار د امريکې بولي په حقيقت کې پخپل دين جاهل او د جهل تر ځنګ پدې خبرو د سيکولريزم تابعداري او د طاغوت عبادت ځان ته حلال ګرځوي.

## ولې د بعضو په نوم جهادي ډلو تړون له استخباراتو سره راخيژي؟!

د جهاد په بعضو دعوه دارانو په استخباراتي ډول کفار مسلط شوي او هغوی يې د خپل پوښښ لاندې راوستي لکه په افغانستان کې د طالبانو او پاکستان استخباراتي اړيکه چې يو روڼ حقيقت ده او هيڅوک ترې انکار نشي کولی، يا په پاکستان کې د جهاد په نوم تحريک طالبان چې د افغانستان د مرتد نظام له استخباراتو سره يې اړيکه وه، يا د ايغور اړوند مسلمانان چې له امريکې سره په استخباراتي ډګر کې وصل دي، يا په شام کې موجودې جهادي ډلې ټپلې چې د ترکي د سيکولر نظام له استخباراتو سره تړلي دي، يا د اسرائيلو په مقابل کې جنګېدونکي فلسطينيان چې د ايران د سيکولر نظام له استخباراتو سره تړون لري، ددې ټولو تړونونو څخه هدف څه کېدلی شي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرو په اړه مشهوره داده چې دوی د اړوندو استخباراتو په ګټه پخپلو خپلو ملکونو کې نیابتي جګړې کوي تر څو ګټې یې دوی ته ورسیږي، او دا هغه خبره ده چې ظاهراً کفارو د خپلو رسنیو او رسنیزو مداریانو په مټ مشهوره کړې او دې خبرې ته ئې ډېر فګري کار هم کړی خو په حقیقت کې خبره داسې نده بلکې قضیه لدې هم خطرناکه ده.

فکر مکوئ چې پاکستان، ایران، افغانستان او یا ترکیه مستقل ملکونه دي او د هیچا د اثر لاندې ندي، دوی په اول قدم کې د بین الملل د اثر لاندې دي او د بین المللي قوانینو متابعت او پیروي کوي، له همدې امله ئې هغوی هم په رسمیت پېژني او تل ئې په حمایت کې ولاړ دي، یاد سیکولر هیوادونه چې هر حرکت کوي د بین الملل په خوښه، پلان او اجازې یې کوي.

حقیقت داده چې د سیکولریزم همدا سرپرستان چې د بین الملل په نوم یادیږي له اسلام سره د جګړې په حال کې دي، له سرپرستانو څخه زما مطلب په بین الملل کې ناست د امریکې، برطانیې، چین، روسیې او فرانسې ائمة الکفر دي چې همدوی د بین الملل مؤسسین او دائمي غړي دي، هغوی په ډېر دقت حالات څاري، د مؤمنانو په فرد فرد مجاهد کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استخباراتي رسوخ کوشش کوي او له هر څه دمخه هڅه لري چې دوی د تګلارې په ګمراهۍ کې واقع کړي لکه طالبان يې چې واقع کړل، هغوی يې ختم نکړل، نور يې هم زيات کړل خو متأسفانه چې اوس کار د اسلام په نوم سيکولر اساساتو ته کوي، دوی د همغه تير حکومت عين تعامل له نړۍ سره جاري ساتلی خو صرف فرق پکې داده چې اوس يې نوم د اسلام ده او دا د پاکستاني فاسد او مرتد نظام ماموريت ؤ چې د طالبانو په نسبت د کفارو له لوري ورسپارل شوی ؤ تر څو طالبان په منهجي خطاء کې واقع کړي او بيا يې د اسلام په نوم پخپلو اهدافو کې استعمال کړي، پاکستاني مرتدينو هم دا کار ښه په اخلاص ورته ترسره کړ.

له همدې امله، د وطني رقابتونو په جامه کې دوی د يوه وطن جهاد پلوه عناصر د بل سيکولر وطن استخباراتو ته ورسپاري او ظاهراً پدې نوم او رسنيز فريب چې فلان ملک خو له فلان ملک سره اقتصادي او سياسي رقابتونه لري ځکه د هغه هيواد جنګيالي چې د سيکولر نظام په ضد جنګيږي حمايت کوي خو حقيقت دا وي چې دواړه ملکونه سيکولر ملکونه او ريښې يې په بين الملل کې بيرته د يوې تنې لاندې راټوليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متأسفانه د طالبانو په څير کم عقل جنگيالي هم د تش نظامي حمايت په سوچ ځان د کفري نظامونو په ځولۍ کې ورپاچوي او د هغه سيکولر هېواد استخبارات چې د بين الملل خپل جاسوسان وي او له هغوی سره د همکاري له امله يې په رسميت هم پېژني او له کفارو سره د تروريزم ﴿جهاد﴾ په مقابل کې ائتلاف لري بيا د قرباني شوي صف له الفه تر ياء ټول استخباراتي رازونه همغو بين المللي امنيتي او سياسي شيطانانو ته رسوي او هغوی هم بيا د دقيقو پلانونو په مټ لازم اقدامات ددوی د صف په تحريف او تسخير کې پورته کوي.

ددې روڼ مثال د افغانستان د طالبانو ده چې سيکولر پاکستان د خپل وزر لاندې ونيول، په فارمونو کې يې تغذيه او تربيه کړل، ابدال يې ترې زنداني يا شهيدان کړل او بېغيرته او مرتد خلک يې پرې حاکمان کړل او وگورئ چې نتيجه څه شوه؟ آيا د امريکې په سيکولر پروژې کې يې د فتحې او سولې په نوم ورداخل نکړل؟ نو چا چاته کار وکړ، څوک گټونکي او څوک بايلونکي شول؟ د افغانستان او غرب دښمني په څه پيل او په څه پای ته ورسېده؟ آيا همغه څه ونشول چې امريکې له حملې مخکې ملا عمر ته ويل؟ چې په نورو ملکونو کې مداخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکو تروريستانو سره وجنګيږئ او يا يې مونږ ته تسليم کړئ! تاسو هم بين المللي اصولو ته تابع او اطاعت يې وکړئ!د سيکولر اصولو د نه منونکو او نړيوالو تروريستانو په ضد له مونږ سره يو شئ او هغه خلک پخپل هيواد کې مه پريدئ چې خارجي مداخلې کوي او سيکولر وطني اصول نه مراعتوي!

هو! همغه خبرې د هغو بې غيرتو او جاسوسو حاکمانو له لوري له کفارو سره ومنل شوې چې پاکستان پرې حاکمان کړي ؤ او نن تاسو ګورئ چې د طالبانو ګمراه صف په همدې خبرو پخپله اقرارونه کوي چې امريکا ته زمونږ له طرفه امن ده، هر څوک چې لدې ځايه خارجي مداخلې کوي هغه زمونږ او د امريکې مشترک دښمن ده او مونږ ټولو همسايه ملکونو سره د قتال او جهاد په ځای ښې اړيکې غواړو!

نو ځکه بين الملل د خپلو بعضو جاسوسو استخباراتي شبکو په مټ بعضې جهاد نماء خلک د خپل استخباراتي پوښښ لاندې راولي تر څو هغوی له اسلامه مرتد او ګمراه کړي.

که تاسو واياست چې نه دا د پاکستان له افغانستان سره رقابتي جګړه ده او پاکستان د خپلو ګټو د خونديتوب لپاره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبان د خپل وزر لاندې ونيول نو دا خبره بيا ډېر نامنلي جزئيات تر شا پرېږدي لکه:

دا پدې معنی چې پاکستان يو مستقل هېواد ده چې د هيچا د اثر لاندې نده.

دا پدې معنی چې پاکستان سره لدې چې په بل سيکولر هېواد ﴿افغانستان﴾ کې غير قانوني مداخله کوي خو بيا هم د بين الملل له آدرسه څوک يو انتقاد قدرې هم نشي پرې کولی بلکې هغوی يې په رسميت هم پيژني.

دا پدې معنی چې پاکستان په مستقله توګه په افغانستان کې د امريکا په ضد په شرعي جهاد کې برخه ولرله ځکه د طالبانو حمايت يې دلته د امريکايي نظام په ضد وکړ خو بيا هم امريکې پاکستان سره خپلې دوستي ته په ادامې په ملياردونو مليادونو مرستې وکړې.

دا پدې معنی چې د پاکستان سيکولر نظام له بين المللي کفارو، امريکې او له اروپايي ټولنو څخه په بغاوت خپلواک او مستقل ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا پدې معنی چې پاکستان سره لدې چې هوايي دفاعي ځواک او وسلې لري خو خپلو طالب مليشو ته يې ورنکړې تر څو د امريکې الوتکې پرې نسکورې کړي.

په رښتيا هم دا ډير نامنلی، ضد او نقيض جزئيات دي چې هيڅ د منلو ندي، ځکه پاکستان پخپله يو سيکولر او د غرب لپاره يو مزدور نظام ده چې په افغانستان کې يې مداخله د بين المللي کفارو له لوري په کفري اصولو کې يو مشروع او ورسپارل شوی ماموريت ۀ او دوی هم په ډيره شيطاني بڼه سرته ورساوه او متأسفانه پدې کار کې کامياب هم شول تر څو د ملا عمر امارت منحرف او سيکولر اساساتو ته ئې معتقد کړي.
که داسې نه وي نو تاسو راوښاياست چې دغو سيکولر نظامونو چې په استخباراتي شکل د جهادي عناصرو حمايت کوي کوم ثمر ته په پاکستان، افغانستان، چين، فلسطين او نورو سيمو کې رسولي وي؟ ولې ايران، روسيې او پاکستان طالبانو ته د الوتکو ضد توغندي ورنکړل تر څو په حقيقي بڼه طالبانو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړتیا تر لاسه کړې وای چې د روسیې او ایران دښمنه امریکا یې له خپل هوایي ځواک سره ماته کړې وای؟

دا یې ځکه ورنکړل چې همدا پاکستان، روس، چین او ایران بیرته له امریکې سره په بین الملل کې د مشورو واحد میز او متبادل سیکولر مصالح ورسره لري.

تاسو به تل وګورئ چې دوی به د همدې استخباراتي کړیو له لوري په پای کې حتماً سیکولر کفر ته تابع کړل شي لکه طالبان کار یې د همغې اروپا تر مرستو او علني حمایت ورسید خو اوس هم فکر کوي چې زمونږ نظام اسلامي ده او مونږ مجاهدین یو، دوی د اسلام له دعوې سره سره کمونیست چین سره د وروګلوي قسمونه یادوي او شیعه مشرکان هم خپل وروڼه بولي.

په همدې شکل کفارو همدا شیطانت د پاکستاني په ظاهر جهادي عناصرو په ضد هم وکړ، د افغانستان امنیتي مرتدینو د پاکستان تحریک طالبانو سره د مرستې په عنوان پدې نوم چې مونږ خو له پاکستان سره سیاسي رقابتونه لرو دوستي وکړه، دوی یې پخپله استخباراتي، شیطاني او سیکولر غیږه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيول، د هغوی استخباراتی رازونه يې تر لاسه او پگواش طبيعته شيطانان به هلته هم په آينده کې خه پلانونه لري.

او يا تاسو په ايغور کې د شرقي ترکستان مؤمنان وگورئ چې له امريکائی استخباراتو سره پدې نوم تړلي چې امريکا له چين سره سياسي او نظامي رقابتونه لري، په همدې عنوان ئې د ايغور په مؤمنانو کې له کفري اساساتو سره د ولاء لرلو لپاره معقوليت اچولی او په منځ کې د ايغور مسلمانان له هغه چا سره استخباراتي رازونه شريکوي چې هغه بيرته په بين الملل کې له چين سره په يوه څوکۍ ناست او شپه او ورځ په گډه د اسلام په ضد نقشې وباسي.

که جهادي ډلې د کفارو لپاره نيابتي جگړې کوي نو دا جگړې ولې کفار په دوبۍ، سعودي، قطر، ترکيې او نورو پرمختللو اسلامي ځمکو کې نکوي تر څو د مسلمانانو يوازېنی اقتصادي منابع په گنډو کړي؟ خو حقيقت داده چې دا جگړې د کفارو نيابتي جگړې نه بلکې د منصورة طائفو د تداول او تداوم الهي سنت دي چې په ځمکه ژوندي دي او تر قيامته به ژوندي وي ان شاءالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا ټولې بدبختي چې پدې خلکو راغلي علت يې دا ده چې دوی هغه کفر نه ده پيژندلی چې اروپايانو له ځان سره اسلامي امت ته راوړی، له همدې ټکي سره د نابلدي له وجې وګورئ چې د اسلام غازيانو ته د امريکې د پروژې نومونه ورکول کيږي او د امريکې د پروژې سيکولر او وطني ګيدړانو ته د ابدالو القاب ورکول کيږي پداسې حال کې چې د امريکې پروژه لګيا ده په علني او اجتماعي ډول له اسلام سره په فکري او نظامي ډګرونو کې جنګيږي، مؤمنان له اسلام څخه مرتد کوي او پدې وخت کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مبارکه وينا سل په سله لدې خلکو سره صدق کوي چې پدې زمانه کې به دروغجن صادق او صادق به دروغجن ګڼل کيږي!

نو له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې داسلامي خلافت مؤمن صف د کفارو له دسيسو څخه وساتي او اړوند مجاهدين د کفارو فريبونو ته هوښيار شي، وپوهيږي چې کفار ټول يو ملت او يو صف دي چې د بين الملل تر عنوان لاندې ټول خپلمنځي مشورو او جرګو ته په يوه ميز راټوليږي او د اسلام په ضد پلانونه جوړوي، هيڅ سيکولر نظام د بين الملل له اجازې پرته له کومې جهادي ډلې سره رابطه او مرسته نشي کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر د همغو ائمة الکفر په خوښه او رضا تر څو مظلوم مؤمنان په منهجي خطاء کې مبتلاء او د اسلام په ځای يې سيکولر شرائعو ته تابع کړي.

معاصر کفر چې اسلامي امت ته د پراخو او دقيقو پلانونو په مټ راغلی او د تطبيق تر شا ئې تش جنگي جنرالان نه بلکې د ژورو فکري شيطانتونو طراحان ناست دي ورسره مبارزه کول او له مکرونو ئې ځان ساتل ددوی د اصلي څېرو او سيکولر تگلارو پېژندلو ته اړتيا لري چې مجاهدين بايد دا کار د معاصرې سياسي فقهې په عنوان د اعداد په ډول زده کړي تر څو نشي چې په دام کې ئې راگير او د بعضو په څېر د خپلو وينو ثمره په سيندونو لاهو کړي.

والسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**